اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ. (القرآن)

# نُوْرُ الْوَاعِظِيْن

پښتو

مؤلف

مولوی محمد شريف منيب لوګري

زیر اهتمام

کفایت الله ارمانی

0344-9995990


مُکتبہ اعزازیہ

محلہ جنگی پشاور

# Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

## اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

# جمله حقوق د ناشر په حق کی محفوظ دي

د کتاب نوم: نورالواعظین

مؤلف: محمد شریف منیب لوکري

چاپ سال: ۲۰۱ء

کمپوزنګ: ایکسپرټ ګرافکس پیښور فون: 091-2580308

زیر اہتمام
کفایت اللہ ارمانی
0344-9995990

مکتبہ اعزازیہ
محلہ جنگی پشاور

# التقریظ الاول

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

الحمد لله و کفٰی والصلٰوۃ والسلام علٰی عبادہٖ الذین اصطفیٰ.

اما بعد! ان رئیت بعض المباحث من الکتاب المسمٰی. بنور الواعظین الذی صنفه الاخ المحترم مولوی محمد شریف منیب فوجدته بحمد للّٰہ نافعًا و مفیدًا و کیف لا و قد أُعطِیَ له ذهن ثاقب و فکر صائب و تسئل للّٰہ تعالیٰ النفع الراقم المؤلف و لسائر اصحاب البیان و التقریر. آمین

شیخ الحدیث العبد عبدالستار عفی عنه
مدرسہ اسلامی زرکری

# التقریظ الثانی

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

الحمد لله و اٰخرًا ظاهرًا و باطنًا والصلٰوۃ والسلام علی رسوله محمد نالمصطفٰی ﷺ و علی اٰله و اصحابه اهل الکرم و الهدیٰ أما بعد فلما نظرت النظر علی نبذۃ من هٰذ الکتاب فوجدته قابلاً لا شفادۃ المتقدین فقست الباقی علی هٰذا فا المؤمول من الله عزوجل ان ینفع به جمیع الواعظین والمستفدین والمسلمین امین عموماً و ان ینفع به لمؤلف یوم لا ینفع مال و لا بنون خصوصاً. و تقبل منه بقبول حسن انک بالاجابة جدید و بکل شیء قدیر.

شیخ الحدیث العبد الفقیر محمد عبدالسلام عفی عنه

مدرسة صدیقة درسمند

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

# مقدمه

الحمد لله نحمده و الصلوة علٰی من لاّ نبی بعده.

**امّا بعد!** ټول ښهٔ صفتونه او حمدونه د الله تعالیٰ دپاره دی چې بنده یې په ښهٔ صورت پیدا کړو او عقل فکر یې ورته اوبخښلو او بیا درود په نبی ﷺ چې خاتم النبیین دی او رحمت اللعالمین دی۔ د چا په ذریعه چې الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته د خپلې خوښې او ناخوښې یعنی هغه کارونه چې د هغه خوښ دی او هغه کارونه چې د الله خوښ نه دی اوښودل۔ نبی ﷺ د هغه احکاماتو تشریح اوکړه او په عملی ډول یې دنیا ته واړندی کړه او بیا یې خپل اُمت ته حکم اوکړو چې دا حکمونه نورو بندګانو ته ورسوی او هم د دې اُمت دا خوبی ده چې د الله تعالیٰ حکمونه او د نبی ﷺ حکمونه او احادیث نورو ملګرو ته بیان کړی۔ لکه د پاک الله فرمان دې۔

وَلۡتَكُنۡ مِّنۡكُمۡ اُمَّةٌ يَّدۡعُوۡنَ اِلَى الۡخَيۡرِ وَ يَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ ط وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ.(۱)

ترجمه: "یعنی تاسو مسلمانانو کې (همیشه) یو داسې جماعت

..............................

(۱) آل عمران

موجود کیدل پکار دی چې د خیر طرفته خلقو ته دعوت ورکوی او د ښو خبرو تلقین کوی او د بدو خبرو نه منع کول کوی او )په دنیا او آخرت کې) کامیاب هم دا خلق دی۔

**قَالَ النَّبِیُّ ﷺ وَ هُوَ سَیِّدُ الصَّادِقِیْنَ لاَ یَزَالُ مِنْ اُمَّتِیْ اُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِاَمْرِ اللّٰهِ لاَ یَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ وَ لاَ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتّٰی یَاْتِیَ اَمْرُاللّٰهِ وَ هُمْ عَلٰی ذٰلِکَ.** (۱)

ترجمه:" نبی کریم ﷺ اوفرمایل او هغه د رشتیا ویونکو سردار دی۔ همیشه به وی خما د اُمت نه یوه ډله ولاړه به وی په امر د الله باندې ضرر به نشی رسولې دوی لره هغه څوک چې د دوی امداد نکوی او نه هغه څوک چې د دوی مخالف وی تردې پورې چې را به شی د الله تعالیٰ حکم (قیامت) او دوی به په همدغه حالت باندې (کلک) وی یعنی تر قیامته پورې به خما د اُمت نه یو جماعت ضرور په حق باندې وی څوک مخالف یا رسوا کونکی به هغوی ته نقصان نشی رسولې"۔

الله تعالیٰ دې مونږ ته په امر بالمعروف او نهی عن المنکر د عمل کولو توفیق راکړی۔(آمین)

# فهرست


| شماره | مضامین | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | مقدمه | 4 |
| ۲ | تقریر په فضیلت د کلمې طیبې کښې | 7 |
| ۳ | تقریر په فضلیت د ذکر کښې | 24 |
| ۴ | تقریر په فضلیت د صبر کښې | 38 |
| ۵ | تقریر په باره د غیبت کښې | 56 |
| ۶ | تقریر په بیان د مرګ کښې | 71 |
| ۷ | تقریر په فضیلت د لمانځه کښې | 90 |
| ۸ | تقریر په بیان د ریاء کښې | 114 |
| ۹ | د دُنیا قدرو قیمت | 128 |
| ۱۰ | تقریر په فضیلت د عالمانو کښې | 141 |
| ۱۱ | تقریر په فضیلت د مورپلار کښې | 161 |
| ۱۲ | تقریر په محبت د سید العرب والعجم محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم کښې | 178 |
| ۱۳ | تقریر په فضیلت د جهاد کښې | 197 |
| ۱۴ | تقریر په فضیلت د توبې کښې | 215 |
| ۱۵ | تقریر په بیان د لمانځه کښې | 232 |

# تقریر په فضیلت د کلمې طیبې کښې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَمْ یَتَّخِذْ وَلَدًا وَّ لَمْ یَکُنْ لَّهٗ شَرِیْکٌ فِی الْمُلْکِ وَ لَمْ یَکُنْ لَّهٗ وَلِیٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَ هُوَ اَکْبَرُ کَبِیْرًا.

وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ سَیِّدِ الْکَوْنَیْنِ وَ رَسُوْلِ الثَّقَلَیْنِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

اَمَّا بَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی فِیْ قُرْاٰنِ الْمَجِیْدِ وَ فُرْقَانَ الْحَمِیْدِ. وَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِکَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِیْٓ اِلَیْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ.

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ.

اَفْضَلُ الذِّکْرِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَفْضَلُ الدُّعَاءِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ.

اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِکَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَی النَّبِیِّ ط یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا ○ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ وَّ بَارِکْ وَ سَلِّمْ.

رَبِّ اشْرَحْ لِیْ صَدْرِیْ ﴿۲۵﴾ وَ یَسِّرْلِیْٓ اَمْرِیْ ﴿۲۶﴾ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِیْ ﴿۲۷﴾ یَفْقَهُوْا قَوْلِیْ ﴿۲۸﴾

سُبْحٰنَکَ لَا عِلْمَ لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ط اِنَّکَ اَنْتَ الْعَلِیْمُ الْحَکِیْمُ ﴿۳۲﴾

محترمو مسلمانانو ورونو نن زما موضوع د الله تعالیٰ ذکر او کلمې طیبې مبارکې په باره کښې ده۔

محترمو مسلمانانو ورونو الحمد لله الله تعالیٰ مونږ او تاسو باندې یو لوئې احسان کړی دې چې انسانان ئې پیدا کړی یُو او په انسانانو کښې ئې مسلمانان پیدا کړی یُو او دا لویه کلمه ئې راپه نصیب کړې ده چې لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله.

او دا داسې یوه کلمه ده چې د اویا کالو اتیا کالو یو کافر چې ټول عمر ئې کفر شرک کړی وی چې دا کلمه اووائی الله تعالیٰ د ده ټول شرک کفر او ټول ګناهونه د دې کلمې په برکت سره معاف کوی او چا چې دا کلمه ویلې وی او مسلمان وی که ټول عمر ئې ګناهونه کړی وی او جهنم ته ولاړ شی خو بیا به هم د جهنم څخه راوځی خو نه د کفارو په شان چې ټول عمر به په جهنم کښې وی لکه چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ وفرمائی چې د دوزخ نه هر هغه کس راوباسئ چا چې لَآاِلٰـهَ اِلَّا اللهُ ویلې وی او د هغه په زړه کښې د یوې زرې برابر ایمان وی او هر هغه څوک ترې راوباسی چا چې ویلی وی یا زه ئې په څه قسمه یاد کړی یم یا په څه موقع مانه ویریدلی وی۔ (فضائل اعمال: دریم باب، صفحه ٦٣٦)

الله تعالیٰ فرمائی:

وَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِکَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا .

او نه دی لیږلی مونږ مخکښې ستا نه یو رسول مګر

نُوحِیْ اِلَیْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنَ ﴿۲۵﴾

مونږ وحی کړی ده هغه ته چې بیشکه نشته لائق د عبادت مګر زه یم نو خاص عبادت کوئ زما[1]۔

یعنی ای زما حبیبه یو لاک څلورویشت زره کم او زیات پیغمبران ما لیږلی دی ټولو ته ما فرمایلی۔

نشته لائق د عبادت مګر زه یم نو خاص زما عبادت کوئ۔

رسول الله ﷺ حدیث مبارک دې:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا اَفْضَلُ الذِّکْرِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَ اَفْضَلُ الدُّعَاءِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ۔ د خوږ نبی ﷺ ارشاد مبارک دی چه د ټولو نه بهتر ذکر لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ دی او د ټولو نه بهتره دُعا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ده[2]۔

**تشریح:** لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ د ټولو نه بهتر ذکر ونیلو وجه دا ده چې د لَآ اِلٰهَ ونیلو سره د غیر الله خیال د زړهٔ نه اوځی او اِلَّا اللهُ ونیلو سره د الله تعالیٰ خیال په زړهٔ کښې پخیږی۔ د دې وجې نه هر داسې ذکر چې په هغه کښې د الله تعالیٰ د محبت اظهاروی او د غیر الله نه توجه لرې کیږی دې ټولو نه بهتر طریقه دی ذکر او افضل ذکر ورته ونیلې کیږی۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ته د بهترې دُعا ونیلو وجه دا ده چې د دې دُعا تعریف دا دې چې الله تعالیٰ یادول او د هغه نه غوښتل نو په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ کښې دا واړه

................................

(۱)۔ سورة الانبیاء۲۵

(۲)۔ تخریج: مشکوة۔ ص۲۰۱۔ ارشاد الطالبین، ص۱۴۳

ځیزونه موندلې شی ځکه چې په الحمد لله کښې الله تعالیٰ یادولې شی او د الله تعالیٰ د نعمتونو شکریه هم ادا کولې شی۔ الله تعالیٰ په قرآن شریف کښې دا بیان کړې دې۔

لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ وَ لَئِنْ كَفَرْتُمْ .

که چیرې شکر اویستو تاسو خامخا زیات به درکړم تاسو لره او که چیرې ناشکری اوکړه تاسو ۔

اِنَّ عَذَابِیْ لَشَدِيْدٌ ﴿۷﴾

نو بیشکه عذاب زما ډیر سخت دې[1]۔

نو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وئیلو سره شکریه ادا کیږی او د نعمتونو زیات والې کیږی لکه چې غوښتلی شی لهذا هر داسې الفاظو سره دُعا کول چې په هغې کښې الله تعالیٰ هم یاد کړې شی او په ښه طریقه سره سوال اوکړې شی هغې ته بهتر طریقې سره دُعا وئیلې کیږی۔

د حضرت ابو سعیدؓ روایت دې چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چې موسیٰ علیه السلام اوفرمائیل یا ربّ ماته داسې علم اوښایه چې تاسو یادوم په هغې سره او تاسو بلم په هغې سره۔ الله جل شانه ورته اوفرمائیل چې اووایه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ. موسیٰ علیه السلام اوفرمائیل چې یا الله دا خو ستا ټول بندګان وائی۔ زه خو دا اراده لرم چې ما خو په یو خاص ذکر سره منتخب کړې نو الله پاک ورته اوفرمائیل چې یا

..............................

(۱)۔ سورة ابراهیم:۷

موسٰی علیه السلام که دا اووه آسمانونه او اووه زمکې په یو تله کښې واچوی او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ په بله تله کښې واچوې نو دا کلمه به پرې وزن داره شی (یعنی درنه شی) ۔ (نسائی و ابن حبان)

**حکایت**: د موسٰی علیه السلام په زمانه کښې یو راهب وو چې څلور سوه اتیا کاله ئې کفر او بُت پرستی کړې وه۔ آخر ورته الله جل شانهٗ د ایمان توفیق ورکړو او د موسٰی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو او ایمان ئې راوړو او دا کلمه ئې اووئیله چې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُوسٰی رسول الله په دغه وخت کښې جبرائیل علیه السلام تشریف راوړو او وې فرمائیل چې د څلورو سوو اتیاؤ کالو ګناهونه ئې معاف شول او بله یوه نقطه دا ده چې په لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ موسٰی رسول الله کښې څلیریشت حرفونه دی او په هر حرف ورته الله تعالیٰ د شلو کالو ګناه معاف کړه۔ سبحان الله دا د کلمې طیبې فضیلت دې چې الله تعالیٰ ورته د سوونو کالو ګناهونه معاف کړل[۱]۔

یو اقیت الاعمال **قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ شَهِدَ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَیْهِ النَّارَ**[۲]۔

رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چا چې ګواهی اوکړه چې نشته معبود مګر الله او دا چې محمد د الله رسول دې نو الله تعالیٰ به

........................................

(۱) منختب النفاس

(۲)۔ مسلم

حرام کړی په ده باندې جهنم (یعنی د زړه په صدق سره چې څوک د دې کلمې طیبې گواهی ورکړی نو د ده دپاره به جنت واجب وی او دوزخ به پرې حرام وی. که نور گناهونه ئې ورسره نه وی کړی نو نیغ به جنت ته ځی او که چیرې ئې نور گناهونه کړی وی نو د هغې د سزا نه وروسته به په آخر کښې خامخا جنت ته ځی)[1].

بعضې محدیثینو د دې مطلب داسې بیان کړې دې. په دې حدیث کښې په دوزخ کښې د همیشه والی حرمت مراد دې. که مسلمان نه کوتاهی اوشی نو په دوزخ کښې د سزا تیرولو نه پس به جنت ته داخلیږی. د دې کلمې گواهی ورکولو والا به همیشه په دوزخ کښې نه وی د کفارو په شان. یا دا حدیث دې هغې وخت دې چې کوم وخت نور حکمونه نه وو نازل شوی یا دا حدیث د هغه سړی په باره کښې دې چې هغه د کفر په حالت کښې وو بیا یې اسلام راوړلو او د کلمې د توحید اقرار ئې اوکړلو او بیا هغه وفات شو هغه ته د عمل کولو موقع ورله نه شوه[2].

په تنبیه الغافلین کښې د ابن عباسؓ نه روایت دې چې یوه ورځ حضرت جبرئیل علیه السلام د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او وې فرمائیل چې الله تعالیٰ جل شانه په تاسو سلام

(۱)- مراد الطالبین (پښتو) شرح زاد الطالبین: صفحه ۸۰

(۲)- روضة الطالبین: صفحه ۳۶۱

وائی او پس د سلامه فرمائی چې رسوله ﷺ ولې خفه ئې (حال دا دې چې الله جل شانه ته علم وو) حضور ﷺ اوفرمائیل چې زه اکثر د خپل اُمت په باره کښې سوچ او فکر کوم۔ جبرائیل علیه السلام اوفرمائیل چې ای پیغمبر ﷺ! تاسو د کافرو مطابق هم دا فکر کوئ او که صرف د مسلمانانو مطابق ئې کوئ۔ حضور ﷺ اوفرمائیل ای جبرائیل علیه السلام چې زه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ویونکو په باره کښې فکر مند یم۔ جبرائیل علیه السلام ئې لاس مبارک اونیوو او د بنو سلمو مقبرې ته ئې بوتلو او خپل بنې وزر ئې په قبر اووه او وې فرمائیل چې پاڅه د الله په حکم۔ یو انسان سپین مخ والا پاڅیدو او د هغوی په زبان دا کلمه جاری وه چې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ محمّد رسول الله الحمد لله رَبّ العلمین ۔جبرائیل علیه السلام ورته اوفرمائیل چې خپل ځائ ته واپس شه۔ هغه واپس شو۔ بیا ئې بل وزر په بل قبر اوهه او وې فرمائیل چې پاڅه د الله په حکم باندې۔ یو تور مخ والا شنو سترګو والا پاڅیدو آواز ئې کوو چې ای زما افسوس ای زما پښیمانتیا بیا ئې هغه ته حکم اوکړو چې واپس شه خپل ځائ ته۔ بیا جبرائیل علیه السلام اوفرمائیل چې د قیامت په ورځ هم په هغه طریقه پاڅی چې په کومه طریقه مړ شی[1]۔

............

(۱)۔ یواقیت الاعمال: صفحه، ۱۳

# لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وئیل هم نیکی ده

د حضرت ابو ذرؓ نه روایت فرمائی ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ماته داسې یو عمل اوښایه چې جنت ته مې نزدې کړی او د دوزخ نه مې لرې کړی۔ راته ئې اوفرمائیل کله چې درنه یوه بدی اوشی بیا ورسره نیکی کوه ځکه دغه یوه نیکی درته په لس چنده زیاتیږی۔ بیا مې وئیل یا رسول الله ﷺ (لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ) نیکئ نه ده؟ وې فرمائیل دا د زیاتو نیکیو نه ده[۱]۔

وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ثِنْتَانِ مُوْجِبَتَانِ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا الْمُوْجِبَتَانِ قَالَ مَنْ مَّاتَ يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ وَ مَنْ مَّاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ. (۲)

حضرت جابرؓ وائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل۔ دوه خبرې (جنت او دوزخ) واجب کونکی دی۔ یو صحابیؓ عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! (جنت او دوزخ) واجب کونکی هغه کومې دوه خبرې دی۔ حضور ﷺ اوفرمائیل ړومبئ خبره خو دا ده چې کوم سړی دې حال کښې مړ شو چې هغه الله سره څوک شریک کړل نو هغه به دوزخ کښې اچولې شی او دویمه خبره دا چې کوم سړې دې حال کښې وفات شو چې هغه څوک الله سره شریک نه کړو نو هغه به

............................................

(۱)۔ تنبیه الغافلین: صفحه ۳٦۷ (۲)۔ رواه مسلم

جنت ته ځی[۱]۔

وَ عَنْ مُعَاذِ ابْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَفَاتِيْحُ الْجَنَّةِ شَهَادَةُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ. (۲)

ترجمه:" حضرت معاذ بن جبلؓ وائی رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل (ربنتینی زړه او پوخ اعتقاد سره) د دې خبرې ګواهی ورکول چې الله نه سوا بل معبود نشته د جنت کنجیانې حاصلول دی[۳]۔

د ابو هریرهؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ نه ما یو وارې تپوس اوکړو چې یا رسول الله ﷺ ستاسو د شفاعت نه د تولو نه زیات فائده اوچتونکې به د قیامت په ورځ څوک وی۔ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چې ما خپلو حدیثونو کښې ستا حرص اولیدو نو داسې کمان وو چې د دې خبرې به تانه وراندې بل څوک تپوس نه کوی۔ بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې د تولو نه زیات سعادت مند او فائده اوچتونکې زما د شفاعت نه به هغه کس وی چې د زړه په اخلاص سره لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وائی[۴]۔

**تشریح**: دې حدیث نه دا معلومه شوه چې کوم یو کس لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ډیر وائی نو دې به ډیر زیات حقداروی د رسول الله ﷺ د شفاعت

..................................

(۱)۔ مسلم۔مظاهر حق
(۲)۔ رواه احمد۔مظاهر حق
(۳)۔ احمد
(۴)۔ بخاری

بـایـد مـونږ او تاسو دا ذکر ډیر زیات اوکړو چې رسـول الله ﷺ زمونږ او ستاسو شفاعت اوکړی۔

د حـضـرت زیـد بـن ارقـمؓ نـه روایـت دې چـې رسـول الله ﷺ فـرمـائیلـی دی چـې څوک په اخلاص سره لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ اووائی هغه به جنت کښې داخل شی۔ چا تپوس اوکړو چې د کلمی د اخـلاص نـخښه څه ده؟ رسول الله ﷺ او فرمائیل چې د حرام کارونو نه منع شی[۱]۔

د دې حـدیـث نـه دا مـعـلومه شوه چې کوم یو کس دا کلمه اووائی یعنی د دې ذکر اوکړی او د حرامو څیزونو نه ځان اوساتی (یعنی گناهونه نه کوی نو دې به خامخا جنت ته داخل شی)۔

د حـضرت ابو هریرهؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفـرمـائیـل چـې خپـل ایـمـان تجدید کوئ (یعنی تازه کوئ)۔ اصحابو کـرامـوؓ عـرض اوکړو ای د الله تعالیٰ رسول ﷺ مونږ د ایمان تـجدید څنګه اوکړو۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ډیر ډیر وایئ (یعنی د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ذکر اوکړئ)[۲]۔

## د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ دروُن والې

جابر بن عـبداللهؓ فرمائی چې نبی کریم ﷺ فرمائی: آیا

..............................

(۱)۔ رواه طبرانی (۲)۔ رواه احمد طبرانی

2

تاسو ته هغه اونه بنايم کوم چې نوح عليه السلام خپل ځوئ ته بنودلی وو۔ ورته ئې داسې اوفرمائيل اې بچيه! د دوه څيزونو امر درته کوم۔ د دوه څيزونو نه تاسو منع کوم۔ اول امر دا دې دا اووايئ (لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وحده لا شريک له) که زمکې او آسمانونه د تلې (ميزان) په يو چابړی کېښې واچولې شی او د کلمه په بل چابړی کېښې واچوئ نو دا کلمه به ورباندې درنه شی او بل دا امر درته کوم چې دا کلمه اووايئ (سبحان الله و بحمده) دا کلمه د فرشتو استغفار دې او د انسانانو دُعا ده۔ په دې مخلوق ته رزق ورکول کيږی او د دې دواړو نه دې منع کوم۔ اول دا چې د الله تعالىٰ سره به شريک نه جوړوئ ځکه که څوک شريک د الله تعالىٰ سره جوړ کړی الله تعالىٰ ورباندې جنت حراموی۔ دويم د کبر نه دې منع کوم ځکه جنت ته هغه څوک نشی داخليدې چې په چا کېښې يو زره کبر هم وی[1]۔

حضرت ابو موسىٰ فرمائيلی چې نبی عليه السلام اوفرمائيل چې جهنميان کله په جهنم کېښې يو ځائ شی او د هغوی سره څه د قبله منونکی يعنی څه مسلمانان هم وی نو هغه کافران به مسلمانانو ته وائی چې آيا تاسو مسلمانان نه وئ۔ هغه مسلمانان به جواب ورکړی ولې نه۔ مونږ خو مسلمانان وو۔ کافران به ووائی ستاسو د اسلام تاسو ته څه فائده اوشوه؟ تاسو هم مونږ سره جهنم ته

................................

(۱)۔ تنبيه الغافلين: صفحه ۳۶۱

راغلئ۔ مسلمانان به جواب کښې اووائی مونږه نه څه ګناهونه شوی وو چې د هغې په وجه مونږه اونیولې شُو او جهنم ته اوغورځولې شُو۔ د مسلمانانو دا جواب به الله تعالیٰ واوری او فرشتو ته به حکم ورکړی نو په جهنم کښې چې څومره قبلې منونکی مسلمانان وي هغوی ټول به د هغې نه رااوویستلې شی۔ کله چې په جهنم کښې باقی پاتې کیدونکی کافران دا منظر اووینی نو هغوی به اووائی ای ارمان! چې مونږه هم مسلمانان وائی نو لکه څنګه چې دوی اوتل مونږ به هم د جهنم نه وئ۔ بیا نبی علیه السلام[1]

اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم اوونیل او دا آیاتونه ئې ولوستل۔

الٓرٰ تِلْکَ اٰیٰتُ الْکِتٰبِ وَ قُرْاٰنٍ مُّبِیْنٍ ﴿۱﴾ رُبَمَا یَوَدُّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا لَوْ کَانُوْا مُسْلِمِیْنَ ﴿۲﴾ [۲]

## د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ بدله

د حضرت بصریؒ نه روایت دې چې دې قول د الله تعالیٰ کښې " هَلْ جَزَاءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ " [۳]۔

ترجمه:"د نیکئ بدله نیکی ده۔ فرمائی دلته مراد د نیکئ نه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ده او د بدلې نه مراد جنت دې[۴]۔

............................................

(۱)۔ حیاة الصحابه (۲)۔ سورة الحجرات: آیت ۱۔۲

(۳)۔ الرحمٰن: ٦ (۴)۔ تنبیه الغافلین صفحه ۳٦۳

ای مسلمانانو ورونو! مونږ او تاسو باید څلیریشت ساعت باید د الله ذکر او کړو۔ ذکر کوونکی په مثال د ژوندی وی۔ رسول الله ﷺ فرمائی۔ عَنْ اَبُوْ مُوسٰیؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَثَلُ الَّذِیْ یَذْکُرُ رَبَّهٗ وَالَّذِیْ لَا یَذْکُرُ مَثَلُ الْحَیِّ وَالْمَیِّتِ.

ترجمه:"د حضرت ابو موسیٰؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ او فرمائیل چې کوم سړی خپل الله تعالیٰ یادوی (یعنی ذکر کوی نو د ده مثال د ژوندی دې او چې کوم سړې الله تعالیٰ نه یادوی (یعنی ذکر نه کوی نو د ده مثال د مړی دې)[1]۔

**تشریح**: ژوند د هر چا خوښ دی خو د مرګ هر څوک ویرېږی۔ د رسول الله ﷺ ارشاد ې چې څوک د الله تعالیٰ ذکر نه کوی هغه ژوندی د مړی په حکم کښې دی او د هغه ژوند بې کاره دې ځکه په خپل ژوند کښې ئې آخرت ته څه تیاری نه وی کړی او ټول عمر ئې په فضولیاتو کښې تیر کړې وی نو ژوند ئې ځکه بې کاره او بې فائدې شو۔ باید مونږه او تاسو په خپل ژوند کښې د آخرت دپاره تیاری او کړو ځکه چې پس د مرګ نه آخرت دپاره څوک تیاری نشی کولې۔ الله تعالیٰ دې مونږه او تاسو ټولو ته توفیق واکړی چې په خپل ژوند کښې آخرت دپاره تیاری او کړو[2]۔

.................................

(۱)۔ بخاری، ملسم

(۲)۔ د معاشرې اصلاح: صفحه ۲۰۳

د ابو هریرهؓ نه روایت دې چې رسول اللہ ﷺ فرمائیلی دی: اووه(۷) کسان دی چې هغوی ته به الله تعالیٰ د خپل د رحمت سیوری کښې ځائ ورکړی۔ په کومه ورځ چه به د هغه د سیوری نه علاوه هیڅ سیوری نه وی۔ (۱) عادل بادشاه (۲) هغه ځوان چې په ځوانی کښې د الله تعالیٰ عبادت کوی۔(۳) هغه کس چه د هغه زړهٔ جوماتونو سره تړلې وی (یعنی جومات سره ئې محبت وی، هر کله مونځ دپاره جومات ته ځی۔(۴) هغه دوه کسان چه د هغوی خپل مینځ کښې د الله تعالیٰ د رضا دپاره محبت وی۔ هم د الله تعالیٰ د رضا دپاره د هغوی جمع کیدل وی او هم جدا کیدل۔(۵) هغه کس چه یوه ښائسته شریفه خپل طرف ته متوجه کړی او هغه ورته اووائی چه زه د الله تعالیٰ نه ویریږم (دینه هغه کس مراد دې چې په زنا باندې قادر شی چه هیڅ رکاوټ نه وی او بیا هم ځان د زنا نه ساتی۔ صرف د الله تعالیٰ د رضا دپاره۔ (۶) هغه کس چه په داسې پټه طریقه صدقه اوکړی چه بل لاس ئې ترې هم خبر نه شی۔ (۷) هغه کس چه د الله تعالیٰ ذکر په تنهائی کښې اوکړی او اوښکې ئې اوبهیږی[1]۔

**تشریح**: د اوښکو بهیدلو مطلب دا هم کیدې شی چه یو کس په خپلو گناهونو باندې ژاړی او د سترگو نه اوښکې تویوی او دا فریاد کوی چه یا الله تعالیٰ! زهٔ ډیر زیات گنهګاریم، تاسو زما گناهونه

(۱)۔ مسلم شریف

معاف کړئ او بل مطلب دا هم کیدې شی چه الله تعالیٰ سره ستا محبت وی او د محبت د وجې نه ژاړی۔ یو بل حدیث مبارک کښې راغلی دی چه په دوو سترګو د دوزخ اور حرام وی۔ یوه هغه سترګه چه د الله تعالیٰ د ویرې نه ئې ژړلی وی او دوهم هغه سترګه چه د اسلام او مسلمانانو د حفاظت دپاره د کافرانو په مقابله کښې ویښه پاتې شوی وی (یعنی هغه کس چه ټول مسلمانان مجاهدین په سنګر کښې اوده شوی وی په شپه کښې د هغوی څوکیداری کوی او یو بل حدیث کښې راغلی دی چه کومه سترګه د الله تعالیٰ د ویرې ژاړی په هغه د دوزخ اور حرام دې او کومه سترګه چه د ناروا څیز نه منع شوی وی (مثلاً پردی زنانو ته ئې نه وی کتلی، دریمه کومه سترګه چې د الله تعالیٰ په لاره کښې ویښه پاتې شوی وی په هغه اور حرام دې۔ څلورمه هغه سترګه چه د الله تعالیٰ ضائع شوی وی (یعنی په جهاد کښې مراد د سترګو نه ټول بدن دې)۔

(یعنی په دې حدیثو کښې خو د څلورو سترګو ذکر شوې دې مراد ورنه څلور کسان دی۔ (۱) اول هغه سړې چې د الله تعالیٰ له ویرې نه ئې ژړلی وی۔ دوهم هغه سړې چې د اسلام او مسلمانانو د حفاظت دپاره د کافرانو په مقابله کښې ویښ پاتې شوې وی۔ دریم هغه سړې چې د ناروا څخه ئې ځان ساتلې وی۔ څلورم هغه سړې چې د الله تعالیٰ په لاره کښې شهید شوې وی[۱]۔

---

(۱)۔ د معاشرې اصلاح : صفحه ۲۰۲

**واقعه**: یو قاضی مړ شو او خپله بی بی ئې حامله پرېښوده۔ د هغې نه هلک پیدا شو۔ کله چې هغه هلک لوئې شو نو د هغه مور هغه مدرسې ته اولیږه۔ استاذ هغه هلک ته د بسم الله الرحمٰن الرحیم تعلیم ورکړو۔ الله تعالیٰ د هغه هلک د پلار د قبر نه عذاب اوچت کړو او وې فرمائیل چه ای جبرائیله علیه السلام! مونږ ته دا مناسب نه ده چه د چا زوئ زمونږ ذکر اوکړی او مونږ د هغه پلار ته عذاب ورکړو او لاړ شه ای جبرائیله علیه السلام! د هغه هلک پلار ته اووایه چه ستا زوئ زما ذکر کوی، د هغه د ذکر په وجه الله تعالیٰ ستا د قبر نه عذاب لرې کړو۔ جبرائیل علیه السلام لاړو او د هغه هلک پلار ته ئې خوشخبری واورولـه۔ الله تعالیٰ دې مونږ او تاسو ته اولادِ صالح راکړی چه هغوی د الله تعالیٰ ذکر اوکړی او د هغوی د ذکر په برکت سره الله تعالیٰ مونږ ته عذاب رانکړی او مونږ او تاسو ته هم دا مناسبه ده چه خپل زامن په مدرسو کښې داخل کړو او د هغوی نه عالمان جوړ کړو چه پس د مرګ نه هغوی زمونږ او ستاسو پکار شی او که عالمان ترې جوړ نه کړو هغوی لوپران او بې دینان شی نو بیا هم د هغوی د بدعملی د وجې مونږ او تاسو ته عذاب میلاویږی۔ کوشش اوکړئ چې ستاسو زامن لوپران نه شی او په مونځونو او تلاوتونو او ذکرونو او نورو نیک اعمالو باندې ئې عادت کړئ۔ دا ستاسو ذمه

واری ده او نور په ذکر کښې ډیر زیاتې فائدې دی خو یو څو فائدې به تاسو ته ذکر شی[1]۔

ای محترمو مسلمانانو ورونو! مونږ او تاسو ته د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ فضیلت بیان شو نو باندې مونږ او تاسو روزانه دا ذکر کم از کم پنځه سوه ځله ووایو۔ په دې پنځه سوه ځله باندې تول دیرش منټه نه لګی۔ الله تعالیٰ دې مونږ او تاسو ټولو ته توفیق راکړی چې دې ذکر سره محبت پیدا کړو۔ آمِیْنَ ثُمَّ آمِیْنَ یَا رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِ سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ بَارِکْ وَ سَلِّمْ.

☆

[1]۔ د معاشرې اصلاح

# تقریر په فضیلت د ذکر کښې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُه‘ وَ نَسْتَعِیْنُه‘ وَ نَسْتَغْفِرُه‘ وَ نُؤْمِنُ بِهٖ وَ نَتَوَکَّلُ عَلَیْهِ وَ نَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَ مَنْ سَیِّاٰتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلاَ مُضِلَّ لَه‘ وَ مَنْ یُّضْلِلْه‘ فَلاَ هَادِیَ لَهٗ وَ نَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَه‘ لاَ شَرِیْکَ لَهٗ وَ نَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُه‘ وَ رَسُوْلُه‘

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی فَاذْکُرُوْنِیْ اَذْکُرْکُمْ وَشْکُرُوْا لِیْ وَ لاَ تَکْفُرُوْنِ.

عَنْ اِبْنِ عَبَّاسَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه‘ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَوَّلُ مَنْ یُّدْعٰی اِلَی الْجَنَّةِ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ الَّذِیْنَ یَحْمَدُوْنَ اللّٰهَ فِی السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ.

محترمو مسلمانانو ورونو! نن زما موضوع او تقریر د الله تعالیٰ د ذکر په باره کښې ده۔ الله تعالیٰ دې ماته د وینا کولو او د عمل کولو توفیق راکړی۔ الله تعالیٰ دې تاسو ته د اوریدلو او د عمل کولو توفیق درکړی۔ کوم آیات ما چې په خطبه کښې ووئیل الله تعالیٰ فرمائی:

فَاذْکُرُوْنِیْ اَذْکُرْکُمْ وَاشْکُرُوْلِیْ وَ لاَ تَکْفُرُوْنِ.

ترجمه: ”پس تاسو ما یادوئ (یعنی زما ذکر کوئ زه به تاسو یادوم) او زما شکر ادا کړئ او ناشکری مهٔ کوئ“۔

حضرت ابن عباسؓ فرمائی چې د الله یادول ډیر لوئې څیز دې۔ یو حدیث قدسی کښې دی چې څوک ما په زړهٔ کښې یادوی زه هغه په زړه کښې یادوم او چې څوک ما په ډله کښې یادوی نو زه هغه د هغې ډلې نه په ښه ډله کښې یادوم۔

مسند احمد کښې دی چې هغه ډله د فرښتو ده۔ کوم سړې چې ماته یوه لیشت رانزدې کیږی زه د هغه طرف ته یو لاس ورنزدې کوم او که ته ای بنی آدمه ماته یو لاس رانزدې کیږې نو زه به ستا طرف ته کوه لاسه درنزدې کیږم او که زما طرف ته راځې نو زه به ستا طرف ته په منډه درځم[1]۔

ترجمه:" د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دې چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چې الله تعالیٰ فرمائی: زما بنده چې زما متعلق څه خیال کوی زه د هغه دپاره هغسې یم (یعنی د هغه د کمان مطابق ورسره معامله کوم) هر کله چې زما بنده ذکر کوی نو زه هغه سره موجود یم که هغه ما په زړهٔ کښې یادوی نو زه ئې هم په زړهٔ کښې یادوم او که هغه ما په ټولګی (یعنی جماعت) کښې یادوی نو زه هغه هم په داسې جماعت کښې یادوم چه هغه د دې جماعت نه بهتر دې (یعنی د ملائکو په ټولګی کښې)[2]۔

........................................

(۱)۔ تفسیر ابن کثیر: صفحه ۱۰۶۳

(۲)۔ بخاری او مسلم۔ یواقیت الاعمال: صفحه ۲

په بل ځای کښې الله تعالیٰ فرمائي:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴿۴۱﴾ (سورة الاحزاب)

ترجمه:" ای ایمان والو! د الله ذکر کثرت سره کوئ"۔

په دې آیت کښې "اُذْكُرُوْا" د جمعې صیغه هم او د امر هم۔ کویا مؤمنانو ته د ذکر کثیر حکم ورکولې شی۔

اوس سوال پیدا کیږی چې د ذکر کثیر څه مطلب دې؟ آیا د هر مونځ نه پس لږ شان ذکر کول پکار دی؟ یا سحر او مابنام ذکر کول پکار دی یا دومره ذکر او کړې شی چې ستړی شُو؟ آخر څه کول پکار دی؟ د دې آیات لاندې مفسرینو کښې حضرت مجاهدؒ د ذکر کثیر تعریف داسې بیان کړې دې۔ ذکر کثیر دا دې چې هغه په هیڅ حال کښې هم هیر نه کړی۔ په هیڅ حال کښې هم د نهٔ هیرولو نه مراد څهٔ دې؟ د انسان درې بنیادی حالتونه دی۔ یا به دې ملاست وی، یا به ناست وی یا به ولاړ وی۔ په هر حال کښې د ذکر کولو نه مراد په ملاسته په ناسته او په ولاړه الله تعالیٰ یادول دی۔ هم دا د عقلمندئ علامت بنودلې شوې دې۔ په قرآن پاک اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۱﴾ د عقلمندئ په باره کښې فرمائیلی شوی دی۔ ابن کثیر د "اُذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴿۱﴾ په تفسیر کښې لیکلی دی چه حضرت ابن عباسؓ د دې ذکر شوی آیت په تفسیر کښې فرمائی چه الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندې یو عبادت داسې نه دې فرض کړی چه د هغې حد مقرر

نـه وی۔ پـه هـغې کښې ئې د یو معذور سړی عُذر قبول کړې نه وی۔ خـو د الله ذکـر یو داسې عبادت دې چه د دې ئې هیڅ حد نه دې مقرر کړې او نه ئې څوک په ذکر پرېښودو باندې معذور ګرځولې دې۔ البته څـوک چـې مـغلوب الحال وی د هغه معامله جدا ده او فرمائیلی ئې دی چـې د الله ذکـر کـوئ که په ولاړه وی ، په ناسته وی یا په ملاسته وی۔ شپـه وی او که ورځ وی، په زړهٔ سره وی که په ژبې سره ، په اوچه وی او کـه پـه سـمـندر کښې، په سفر کښې وی او که په حضر کښې، مـالـداره وی او کـه غریب، تندرست وی او که بیمار، هر حال کښې د الله تـعـالـیٰ ذکـر کـوه (خـوراک څکاک، جنابت او طهارت، اخـتـل خرڅول، خوب او بیدارئ کښې)[۱]۔

څـوک چـې د الله تعالیٰ ذکر زیات کوی الله تعالیٰ ورته دوه انعامونه ورکوی۔ الله تعالیٰ فرمائی:

وَالـذّٰکِـرِیـْنَ اللّٰهَ کَثِیـْرً وَّ الـذّٰکِـرٰتِ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّ اَجْرًا عَظِیْمًا ﴿۳۵﴾ [۲]

تـرجـمـه:" او پـه کـثـرت سـره الله ذکـر کـوونـکی نارینه او د الله ذکر کوونکی زنانه دې تولو دپاره الله مغفرت او اجر عظیم تیار کړې دې"۔

(یعنی هغه دوه انعامونه یو جنت دې او بل مغفرت دې)

[۱]۔ تفسیر ابن کثیر

[۲]۔ سورة الاحزاب

قَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ اَوَّلُ مَنْ يُدْعٰى اِلَى الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ الَّذِيْنَ يَحْمَدُوْنَ اللهَ فِى السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ.

ترجمه: "د قيامت په ورځ چه به کوم خلق اول جنت ته رابللې شی دا به هغه خلق وی چه په خوشحالئ او سختئ هر حالت کښې د الله تعالیٰ حمد او ثناء کولو والا وی"۔

په يو بل روايت کښې د نبی کريم ﷺ ارشاد مبارک دې چې د مؤمن هم عجيبه شان دې کله چه په ده مصيبت راځی نو صبر کوی۔ کله چه خوشحالی ورنصيب کيږی نو شکر کوی۔ په دې دواړو حالتونو کښې ده ته اجر او ثواب ملاويږی[1]۔

د معاذ بن جبل رض نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه جنت د تلو نه پس به جنتيانو ته د دُنيا د هيڅ څيز افسوس نه وی۔ سيوا د هغې ساعت نه چې کوم په دُنيا کښې د الله تعالیٰ د ذکر نه بغير تير شوې وی (يعنی هغه ساعت چه بغير د ذکر نه تير شوې وی هغه پسې به ډير زيات ارمان اوکړی چې ما ولې دا ساعت د الله تعالیٰ د ذکر نه بغير تير کړې دې، بايد مونږ او تاسو هر ساعت کښې ذکر اوکړو چې بيا دې ساعت پسې ارمان اونه کړو ځکه چې دا وخت مونږ د پاره ډير قيمتی دې۔

د حضرت ابو هريره رض نه روايت دې۔ فرمائی چې يو ځلې نبی

.............................................

[1] ارشاد الطالبين: ص ۱۰۵

کریم ﷺ په لاره د مکې مکرمې کښې روان وو۔ په یو غر تیر شو چه د هغه جمدان نوم وو نو وې فرمائیل چې راځئ دا جمدان دې ورانـدې والې اوګرو مفردون، صحابه کرامو عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ مفردون څوک دې۔ حضور ﷺ او فرمائیل هغه سړې دې چه الله یادوی او د هغه ښځې دی چې الله تعالیٰ یادوی(۱)۔

د حضرت ابن عمرؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې ذکر کوئ او ډیرې خبرې مه کوئ (یعنی بغیر د حاجت نه فضول خبرې مه کوئ ځکه چه په ډیرو خبرو سره زړهٔ سختیږی او یاد ولرئ چې په بندګانو کښې د الله تعالیٰ نه لرې او ناخوښ هغه کس دې چې د چا زړهٔ سخت وی(۲)۔

د حضرت ابن عباسؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې شیطان د انسان د زړهٔ سره پیوست وی کله چه انسان د الله تعالیٰ ذکر باندې مشغول شی نو شیطان روسته شی او کله چې انسان د الله تعالیٰ د ذکر نه غافل شی (یعنی ذکر بس کړی نو شیطان ئې زړهٔ ته وسوسې اچوی)(۳)۔

د نبی کریم ﷺ ارشاد مبارک دې چه د قیامت په

................................

(۱)۔ رواه مسلم (۲)۔ ترمذی

(۳)۔ بخاری: د معاشرې اصلاح ۔ صفحه ۲۰۳

ورځ به یو آواز کوونکي آواز وکړی چه عقلمند خلق چیرته دی؟ خلق به تپوس او کړی چې د عقلمندو نه څوک مراد دی؟ جواب به ورکړې شی هغ خلق کومو چې د الله تعالیٰ ذکر کولو په ولاړه او په ناسته او په ملاسته (یعنی په حرحال کښې ئې د الله تعالیٰ ذکر کولو) او دآسمانونو او د زمکو پیدا کیدو کښې ئې غور کولو او وئیل ئې ای الله! تا دا تول بې فائدې خو پیدا کړی نهٔ دی۔ مونږ ستا تسبیح کوو۔ ته مونږ د دوزخ د عذاب نه وساتې۔ د دې نه پس به د دې خلقو دپاره یوه جهنډه جوړه کړې شی چې هغې پسې به دا تول ځی او دوی ته به ووئیلې شی چې همیشه دپاره جنت کښې داخل شئ[1]۔

نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ته اوفرمائیل: آیا زهٔ تاسو ته ستاسو غوره اعمال (کښې د تولو نه د افضل عمل) خبر درنه کړم کوم چې ستاسو د ربّ په نزد ډیر پاکیزه او ستاسو په عملونو کښې د هغه په نزد ډیر مقبول وی او ستاسو درجو لره د تولو نه زیات اوچتونکې دې او هغه عمل ستاسو دپاره د سرو او سپینو زرو د الله تعالیٰ په لاره کښې د خیرات کولو نه هم غوره وی او ستاسو دپارهٔ د دې نه غوره وی چې تاسو د خپلو دښمنانو په مقابله کښې (جهاد دپاره) راشئ او تاسو د هغوی څټونه والوځوئ او هغوی ستاسو څټونه والوځوی۔ صحابوؓ عرض اوکړو ولې نه ای د الله رسوله ﷺ! ضرور راته داسې اعمال

............................................

[1]۔ فضائل اعمال: ص ۶۱، اول باب، دویم فصل

اوښـايـئ۔ نو نبي كريم ﷺ اوفرمائيل داسې (لوئې) عمل د الله تعالیٰ ذکر دې[۱]۔

مـحتـرمـو مسـلـمانانو ورونو! په ټولو عبادتونو کښې بهترين عبادت د الله تعالیٰ ذکر دې ځکه الله تعالیٰ رسول الله ﷺ ته فـرمـائـی۔ د هـغو خلقو سره ته کينه چې صبا او بيگا د الله تعالیٰ ذکر کوی او يادوی۔

حـضـرت ابـن عباسؓ فرمائی چې د نبی کريم ﷺ په حـضـرت عبدالله بن رواحهؓ باندې تيرذل اوشو۔ هغه په خپلو ملګرو کښـې بيـان کـولو۔ نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: غور سره واورئ! هـم تـاسـو خلق هغه جماعت يئ د چا سره چې د کيناستلو الله تعالیٰ ماته حکم راکړې دې۔ بيا نبی کريم ﷺ دا آيات ولوستلو۔

وَاصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ الَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ رَبَّهُمۡ بِالۡغَدَاةِ وَالۡعَشِيِّ نه واخله د وَ كَانَ اَمۡرُهٗ فُرُطًا پـورې په غور سره واورئ۔ تاسو خلک چې څـومـره ناست يئ هم دومره تاسو سره فرښتې هم ناستې دی۔ که تاسو سبـحـان الله وايئ نو هغوی به هم سبحان الله وائی۔ که تاسو الله اکبر وايئ نو هغوی به هم الله اکبر وائی او که تاسو الحمد الله وايئ نو هغوی بـه هـم الـحمد الله وائی۔ بيا (په مجلس ختميدو باندې) هغه فرښتې الله تـعـالـیٰ ته پورته ورځی حالانکه الله تعالیٰ د هغوی نه زيات پو هه

............................................

(۱) معارف الحديث، فضائل ذکر: علامات محبت، ص ۳۲۱

دي ليکن بيا هم هغوی عرض کوی۔ ای زمونږ ربّه! ستا بندګانو سبحان الله ووئيلو نو مونږ به هم سبحان الله ووئيلو او هغوی به الله اکبر ووئيلو نو مونږ به هم الله اکبر ووئيلو او هغوی به الحمد الله ووئيلو نو مونږ به هم الحمد الله ووئيلو۔ بيا زمونږ ربّ فرمائی: ای زما فرشتو! زهٔ تاسو په دې خبره ګواه جوړوم چې ما د هغوی مغفرت کړې دې۔ هغه فرشتې عرض کوی چې هغوی کښې خو فلانی فلانی ګناهګار هم دی۔ الله تعالیٰ فرمائی دا داسې خلق دی چې دوی سره ناست هم محروم نه پاتې کيږی(۱)۔

حضرت ابو هريرهؓ روايت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چې د الله تعالیٰ د فرشتو يوه ډله ده چې د الله تعالیٰ د ذکر کوونکو په تلاش کښې اخوا ديخوا ګرځی او چې کله هغوی د الله تعالیٰ د ذکريو مجلس اووينی نو هغوی نورو ملګرو ته آواز اوکړی چې راشئ ستاسو مقصد او حاجت دلته دې۔ نو ټولې فرشتې هلته راشی او د خپلو وزرو سيورې په ذاکرينو باندې اوکړی او اودريږی۔ د دوی دا سيورې د دُنيا او آسمان پورې اوچت شی او بيا چې کله هغوی د خپل ربّ سره حاضر شی نو د هغوی نه تپوس کوی حالانکه هغه ته د بندګانو نه وړاندې هرڅه معلوم دی چې اووايئ زما بندګانو زما په باره کښې څه اوونيل؟ فرشتې به اووائی چې هغوی ټول ستا تسبيح، ستا

(۱)۔ حياة الصحابه: صفحه ۳۴۷

تکبير او ستا تعريف او ستا عظمت او لوئی بيانولو کښې مشغول وو۔

الله تعالیٰ د فرشتو نه تپوس اوکړی چې آيا هغوی زه ليدلې وُم؟ فرشتې به اووائی والله بالکل ئې نه ئې ليدلې۔ الله تعالیٰ به د هغوی نه تپوس اوکړی چې که چيرې هغوی زه اوليدم نو د هغوی به څه حالات وی؟ فرشتو اووئيل که چيرې هغوی ته اوليدلې بيا خو به هغوی ډير زيات عبادت تسبيح او تکبير او حمد او ثناء اوکړی۔ الله تعالیٰ به تپوس اوکړی چې هغوی زما نه څه غواړی۔ فرشتې به اووائی چې هغوی ستا نه جنت غواړی۔ الله تعالیٰ به تپوس اوکړی آيا هغوی جنت ليدلې دې؟ فرشتې به اووائی چې نه۔ واللهِ هغوی هغه نه دې ليدلې۔ الله تعالیٰ به اوفرمائی که چيرې هغوی جنت ليدلې وې نو څه حال به ئې وو؟ فرشتې به اووائی چې که چيرې هغوی ليدلې وې نو د هغوی حرص، د هغې طلب او د هغې د شوق او رغبت د ټولو حدونو نه به تير شوی وو۔ (مطلب دا چې بيا به ئې په دې خبرو کښې نور هم د سختۍ مظاهره کولې)۔

الله تعالیٰ به تپوس اوکړی چې هغوی د څهٔ خبرې نه پناه غوښتله؟ فرشتې به اووائی چې د دوزخ نه ئې پناه غوښتله۔ الله تعالیٰ به تپوس اوکړی چې آيا هغوی دوزخ ليدلې دې؟ فرشتې به اووائی چې واللهِ بالکل ئې نه دې ليدلې۔ الله تعالیٰ به اوفرمائی که هغوی دوزخ اووينی نو بيا به ئې څهٔ حال وی؟ هغوی به اووائی که چيرې هغه اووينی نو ذ هغې به لرې تښتيدل او د هغې نه په ويريدلو

کښې به زیاته سخته راشي او د هغې نه بچ کیدلو کښې به زیات احتیاط کوی۔ نبی کریم ﷺ او فرمائیل چې بیا به الله تعالیٰ اوفرمائی چې تاسو ګواه اوسئ چې ما د دې مجلس والو بخښنه اوکړه۔ د دې فیصلې په اوریدو به یوه فرشته اووائی چې په دوی کښې فلانی کس خو په ذاکرینو کښې شامل نه وو۔ هغه خو خپل څه بل ضرورت دپاره راغلی وو۔ (آیا د هغه هم دې بخښنه اوکړه)۔ الله تعالیٰ به اوفرمائی چې دا داسې مجلس واله دی چې د دوی سره ناسته کوونکی هم د رحمت نه محرومه نه پاتې کیږی(۱)۔

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دې چې د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې یو خل غریبانان مهاجرین حاضر شُو او عرض ئې اوکړو۔ مالدارو اوچتې درجې او همیشه اوسیدونکی نعمتونه اوګټل۔ نبی کریم ﷺ ترې تپوس اوکړو۔ هغه څنګه؟ عرض ئې اوکړو چې هغوی زمونږ په شان مونځونه کوی او زمونږ په شان روژې نیسی (لیکن) هغوی صدقه ورکوی او مونږ نهٔ شُو ورکولې او هغوی غلامان آزادوی او مونږ نهٔ ئې شُو آزادولې۔ رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: آیا زه تاسو ته داسې څیز اونهٔ ښایم چې د هغې په وجه تاسو خپل وړاندې تلونکو درجې حاصلې کړئ او د ځان نه کم درجې والو نه نور هم وړاندې شئ او هیڅوک تاسو نه هغې وخته پورې غوره نهٔ وی

(۱)۔ بخاری و مسلم: ریاض الصالحین، جلد ۲، ص ۲۱۸

ترځو چې دا خپل عمل اونکړی۔ هغوی عرض اوکړو۔ ای د الله رسول ﷺ! ضرور اوښایئ۔ نبی علیه السلام ارشاد اوفرمائیلو۔ د هر مونځ نه پس سُبْحَانَ اللهِ. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، اللهُ اَکْبَرُ دري دیرش دري دیرش ځله وایئ (چنانچه دوی پرې عمل شروع کړو خو مالدارو ته هم د نبی علیه السلام دا فرمان وراورسیدو نو هغوی پرې هم عمل شروع کړو) غریبانان مهاجرین بیا حاضر شُو۔ عرض ئې اوکړو چې زمونږ مالدارو ورونړو هم دا واوریدل او هغوی هم دا شروع کړل۔ نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چې دا خو د الله تعالیٰ فضل دې چاته چې غواړی ورکوی ئې(۱)۔

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ شَبَابَکَ قَبْلَ هَرَمِکَ وَ صِحَّتَکَ قَبْلَ سُقْمِکَ وَ غِنَاکَ قَبْلَ فَقْرِکَ وَ فَرَاغَکَ قَبْلَ شُغْلِکَ وَ حَیٰوتَکَ قَبْلَ مَوْتِکَ(۲).

ای مسلمانانو ورونړو! مونږ او تاسو باید هر وخت د الله تعالیٰ ذکر اوکړو ځکه الله تعالیٰ صحت روغتیا او عمر او وخت راکړې۔ رسول الله ﷺ فرمائی: پنځه شیان تاسو غنیمت اوګنړئ مخکښې د پنځو نه ځوانی غنیمت اوګنړئ مخکښې د بوډاوالی نه او

.................................

(۱)۔ مسلم: منتخب احادیث، ص ۱۳۶

(۲)۔ رواة الترمذی مرسلا

خپل صحت غنیمت او گڼئ مخکښې د بیمارئ نه او خپل مال غنیمت او گڼئ مخکښې د غریبئ نه او خپل فراغت غنیمت او گڼئ مخکښې د شغول او خپل ژوند غنیمت او گڼئ مخکښې د مرګ نه۔

قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلٰثَةٌ فَيَرْجِعُ اِثْنَانِ وَ يَبْقٰى مَعَهٗ وَاحِدٌ يَتْبَعُهٗ اَهْلُهٗ وَ مَالُهٗ وَ عَمَلُهٗ فَيَرْجِعُ اَهْلُهٗ وَ مَالُهٗ وَ يَبْقٰى عَمَلُهٗ[1].

نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چې کله انسان مړ شی نو هغه پسې درې څیزونه روان وی۔ (۱) د مړی د کور خلک او رشته داران او څوک ئې چې پیژنی تول د قبر پورې ځی۔ (۲) د هغه مال هم دهٔ سره ځی۔ د مال نه مراد دلته مریان، نوکران، څاروی، سورلئ وغیره دی۔ (۳) د هغه عمل هم دهٔ سره ځی لیکن په دغه درې څیزونو کښې دوه واپس راځی یعنی کوم خلق چې د دهٔ سره قبر پورې تللی وی او د هغه مال هم واپس راځی۔ د مړی سره کچیرې څه شې پاتې کیږی نو هغه صرف د دهٔ اعمال دی کوم چې دهٔ په دُنیا کښې اخلاص سره کړی وی۔ اعمال ښه وی یا بد وی په هر حال کښې دهٔ سره ځی۔ د هغې مطابق جزاء او سزا مرتب کیږی۔

د تولې دُنیا بادشاهی څلورو کسانو کړی ده۔ دوه مسلمانان او

..................................

(۱)۔ رواه بخاری، مسلم

دوه کافران وو۔

مسلمانان دوه (۱) سلیمان علیه السلام (۲) ذوالقرنین وو او نور دوه کافران لکه شداد ، بخت نصر۔ که لوئې بادشاه وی او که کوچنی که مسلمانان وی او که کافر د دوی څخه هر څه پاتې کیږی او خپل عمل ورسره ځی۔ سلطان ذوالقرنین چې وفات کیدلو وصیت ئې اوکړو چې زما لاس لـه کفن څخه د جنازې په وخت راوباسئ دا یعنی یو مسلمان بادشاه وو۔ دې وائی گوره زهٔ د تولې دُنیا بادشاه ووم او تش لاس روان یم۔

اې مسلمانانو! مونږ او تاسو باید اودس او پنځه وخته مونځ او ذکر الـٰهی اوکړو چې بیا به په آخرت کښې ارمان کوو خو په لاس به هیڅ نـه راځـی ځکـه آخـرت د عملونو ځائ نه دې ځکه یو حدیث مبارک کښې ذکر شوی دی چې یو جنتی به په خپل مقام کښې ناست وی۔ د بـره مقام نه به د دې مقام ته خوشبوئی راشی۔ دا کس به اووائی چې دا څوک نیک عمل انسان دې چې دومره الله تعالیٰ ورته عظیم مقام ورکړې دې چې د هغې مقام نه زما مقام ته خوشبوئی راځی۔ الله تعالیٰ به ورته اوفرمائی چې ستا او د هغه کس چې د هغې د مقام نه ستا مقام ته خوشبوئی راغله، د هغه او ستا عمل برابر دی خو لیکن هغه ستانـه یو ځل سبحان الله زیاته وئیلې ده۔ بیا به دغه کس ډیر زیات ارمان اوکړی چې کاش ما یو څو ځله زیاته وئیلې وې خو ارمان به ئې په کار نشی ځکه چې جنت د عملونو ځائ نه دې نو باید مونږه او تاسو ټول عمر د الله تعالیٰ په ذکر کښې تیر کړو ځکه چې جنت

کښې مقامونه د عمل موافق ورکول کیږی چې څومره ستا نیک اعمال زیات وی نو هغه هومره به ستا مقام اوچت وی۔

زما محترمو او عزتمندو مسلمانانو ورونو تاسو ته د ذکر فضیلت بیان شو۔ الله تعالیٰ دې مونږ او تاسو ته توفیق راکړی چې همیشه د الله تعالیٰ ذکر اوکړو۔ آمین ثمّ آمین

☆☆☆

# تقریر په فضیلت د صبر کښې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَه' وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلاَمُ عَلٰی مَنْ لاَ نَبِیَّ بَعْدَه' وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الَّذِیْنَ اَوْفُوْا عَهْدَه'. اَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَکَ وَ تَعَالٰی:

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

وَ لَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَیْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَ نَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ط وَ بَشِّرِ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۱۵۵﴾ عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَوَّلَ مَنْ یُّدْعٰی اِلَی الْجَنَّةِ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ الَّذِیْنَ یَحْمَدُوْنَ اللّٰهَ فِی السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ.

اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِکَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَی النَّبِیِّ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا ﴿۵۶﴾

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ عَبْدِکَ وَ رَسُوْلِکَ وَ صَلِّ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَ الْمُسْلِمِیْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ.

محترمو مسلمانانو او معززو او عزتمندو ورونو! نن زما موضوع او تقریر په باره د صبر کښې دې۔ الله تعالیٰ دې ماته د وینا او عمل کولو توفیق راکړی او تاسو ته دې الله تعالیٰ د اوریدو او عمل کولو توفیق درکړی۔ محترمو عزتمندو مسلمانانو ورونو! الله تعالیٰ په خپل مخلوق او خلکو باندې ډیر زیات مهربانه دې۔ د الله تعالیٰ په نزد هغه کس او خلک ډیر عزتمند او بهتره دی چې د الله تعالیٰ مخلوق سره ښیګړه او احسان کوی۔ د حضرت عن انسؓ څخه روایت دې چې رسول الله ﷺ او فرمائیل:

اَلْخَلْقُ عِیَالُ اللّٰهِ فَاَحَبُّ الْخَلْقِ اِلَی اللّٰهِ مَنْ اَحْسَنَ اِلٰی عِیَالِهٖ (۱)

ترجمه: "ټول مخلوق د الله تعالیٰ خاندان دی۔ د الله په نزد په مخلوق کښې بهتره هغه سړې دې چې د الله تعالیٰ د خاندان سره ښه سلوک اوکړی۔"

الله تعالیٰ په خپل مخلوق باندې د مور او پلار نه زیات مهربانه دې۔ په یو کس مسلمان باندې الله تعالیٰ د یوې مور نه ۹۹ ځله زیات

..........

(۱) ... بیهقی

مهربانه دي۔

نبی علیه السلام د خپلو صحابو‌ؓ سره د یوې وُنې د سُورې لاندې ناست وو چې په دې کښې یو صحابیؓ سره په څادر کښې څه وو او راغلو۔ نبی علیه السلام ته مخامخ شو۔ سردار د دواړو جهانو ترې تپوس کوی۔ دا په څادر کښې درسره څه دی۔ هغه صحابیؓ ورته عرض او کړو۔ حضرت زهٔ خبر شوم چې تاسو راغلی یئ او دلته کښې په دې ځائ کښې موجود یئ۔ نو زهٔ ستاسو د ملاقات دپاره راغلم۔ په لاره کښې مې په یوه اونه کښې د مرغو جاله اولیده چې په هغې کښې د مرغو د بچو آوازونه وو۔ ما هغه بچی په دې څادر کښې راګیر کړل او راوران شوم۔ په دې کښې چې ګورم نو د مرغو مورزما د سر د پاسه راروانه ده او چغې وهی۔ ما څادر په زمکه کیښودو او څادر مې ترې نه لرې کړو۔ څه ګورم چې مور ئې راغله او د بچو د پاسه ئې خپلې وزرې خورې کړې او نه پاسیدله۔ ما وریاندې څادر واچولو او اوس ستاسو مجلس ته حاضر شوم۔ نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل: څادر ترې لرې کړه۔ چې هغه ترې څادر لرې کړو اوچت ئې کړو، څه ګوری چې مرغئ هم هغه شان په خپلو بچو وزرې خورې کړی دی۔ نبی علیه السلام چې دا منظر او کتلو نو معلم انسانیت ﷺ په دې موقع دا مناسبه او ګڼله چې د الله تعالیٰ د مهربانئ او رحم و کرم بیان او کړی۔ نو وې فرمائیل: ای زما صحابوؓ تاسو ګورئ دا مرغئ په دې خپلو بچو څومرہ مهربانه ده چې د خپل ځان فکر ورسره هم نشته۔

خیر دي چې دا بندیوانه شی خو چې بچو ته ئې د مور د فراق غم ملاؤ نشی- خیر دي که دا بندیوانه شی او ښکار کړې شی خو چې بچی ئې بچ شی نو نبی علیه السلام اوفرمائیل زما دې په هغه ذات قسم وی چې زهٔ ئې په حقه پیغمبر رالیږلې یم چې الله تعالیٰ په خپلو بندګانو د دې مرغۍ نه زیات مهربانه دې او بیا ئې حکم ورکړو چې دا مرغۍ او د دې بچی چې دې کوم ځائ نه راوستی دی هم هلته کښې ئې بو ځئ(۱)-

په مسلمانانو باندې چې کوم تکلیفونه او مصیبتونه راځی دا هم د الله تعالیٰ له طرفه رحمت او مهربانی ده ځکه الله تعالیٰ په دې مصیبتونو تکلیفونو سره د مسلمان ګناهونه معاف کوی او اجرونه او ثوابونه ورکوی او د جنت والا ئې جوړوی- په دُنیا کښې یو مصیبت هم نشته ټول رحمتونه دی ځکه د حضرت امداد الله صاحبؒ قول دې "په دنیا کښې هیڅ شې مصیبت نه دې بلکه هر شې نعمت دې، مصیبت هم یو نعمت دې ځکه چې په دې باندې بنده ته اجر ملاویږی او په درجو کښې ئې طرقی کیږی- بنده له پکار دی چې مصیبت ته نه ګوری بلکه د خپلو درجو ترقئ او د ګناهونو کفارې ته دې نظر اوکړی- وې ئې فرمائیل چې د الله تعالیٰ طرف نه کوم مصیبت راځی هغه مصیبت نه بلکه نعمت وی- مونږ د خپل زړه د تنګ والی د وجې نه دا مصیبت ګڼو- د دې مثال داسې دې مثلاً یو

............................

(۱) [illegible]

وروکې مـاشوم دې او هغه د لامبو نه او مخ لاس وینځلو نه ویرېږي او هغهٔ ته په لمبلو سره تکلیف وي خو مور ئې په زور او نیسی او لامبوی ئـې او د هـغـهٔ نـه خیری لرې کوی۔ اوس د لامبو په دوران کښې هغه ژاړی هـم چغې سورې هم وهی خو د دې باوجود ئې مور نه پرېږدی اس هـغه ماشوم به دا وائی چې په ما ظلم کیږی زیاتې کیږی۔ ماته تکلیف رارسـولې شی خو مور د شفقت او محبت د وجې نه ماشوم لامبوی۔ د هغه نه خیرې لرې کوی د هغه بدن صفا کوی نو چه کله دغه ماشوم زلـمـې شـی نـو هـغـه وخـت به د هغه په پوهه کښې راشی چې زما د لامبـولو دا کوم کار چې به مې مور کولو هغه د محبت او د شفقت والا عمل وو۔ کوم چې ما ظلم او زیاتې کنړلو۔ که زما مور زما دا خیری نه لـرې کولې نو زه به گنده پاتې وې۔ بالکلهم دغسې الله تعالیٰ په خپلو بـنـدګـانـو حـالات راولـی او د هـغـوی ګـناهونه صفا کوی۔ په دې مضمون باندې د فرشتو یو عجیبه واقعه علامه جلال الدین سیوطیؒ لیکلې ده۔

**واقعه**: پـه یو ښار دوه کسان د مرګ په حالت پراتهٔ وو۔ مره کیدو ته ورنـزدې وو۔ یو مسلـمان وو او یو یهودی۔ د دې یهودی په زړهٔ کښې د ماهی د خوړلو خواهش راپیدا شولو او ماهی نزدې چیرته نه ملاویدلو او د دې مسـلـمان په زړهٔ کښې د زیتون د تیلو د خوړلو خواهش راپیدا شولو۔ الله تـعـالـیٰ دوه فـرشتـې راوغـوښتـلې۔ یوې فرشتې تـه ئې وفرمائیل چې په فلانی ښار کښې د یو یهودی د مرګ وخت نزدې دی

او د هغه زړهٔ غواړی چې ماهی وخوری۔ ته داسې او کړه چې یو ماهی واخله او د هغه د کور په تالاب کښې ئې واچوه چې هغه ماهی وخو فلانی بنار کښې یو مسلمان مرګ ته نزدې او د هغه زړهٔ د زیتون تیلو ته کیږی۔ هغه د زیتون تیل د هغه په المارئ کښې دننه پراته دی۔ ته لاړه شه او هغه تیل ضایع کړه چې هغه خپل خواهش پوره نه کړې شی نو دواړه فرشتې په خپل خپل میشن باندې لاړلې۔ په لاره کښې د دواړو ملاقات اوشولو۔ دواړو د یو بل نه پوښتنه اوکړله چې ته څه کارپسې روانه ئې۔ یوې فرشتې اوونیل چې فلانی یهودی ته ماهی خوړلو دپاره ورمه او دویمې فرشتې اوونیل چې زهٔ د فلانی مسلمان د زیتونو تیل د ضایع کولو دپاره ځمه۔ دواړه حیرانې شولې چې دواړو ته د داسې دوو متضادو کارونو حکم کولو ولې راکړې شوې دې خو چونکې د الله تعالیٰ حکم وو نو دواړه عرض اوکړو چې یا الله مونږ ستا د حکم تعمیل خو اوکړلو خو دا خبره زمونږ په پوهه کښې رانغله چې یو مسلمان چې ستا حکم منونکی وی او د هغه سره د زیتون تیل پراته وی د دې باوجود تا د زیتون تیل ضایع کړل او دوهم اړخ یو یهودی وو او د هغه سره ماهی نه وو د دې باوجود تا پرې ماهی وخوړلو د دې وجې نه زمونږ په پوهه کښې هیڅ رانغلل چې دا څه قیصه ده۔ الله تعالیٰ ورته په جواب کښې اوفرمائیل چې تاسو ته زما د کارونو د حکمتونو پته نشته۔ خبره په اصل کښې دا ده چې زما معامله د کافرانو سره بل شان ده او د مسلمانانو سره څه بل شان۔ د کافرانو سره

زما معامله دا ده چې چونکې کافران هم په دُنیا کښې نیک کارونه کوی مثلاً کله صدقه ، خیرات اوکړی، کله د ققرانو مدد اوکړی۔ د ده دا نیک عملونو اګر چې په آخرت کښې زمونږ په نزد مقبول نه دی خو مونږ د ده د نیکو عملونو حساب په دنیا کښې ختموو۔ چې دې کله آخرت کښې مونږ له راشی نو د ده د نیکو عمولو حساب ختم شوې وی او زمونږ په ذمه د دهٔ هیڅ یوه نیکی پاتې نه ده او د مسلمانانو سره زمونږ معامله جدا ده۔ هغه دا چې مونږ غواړو چې د مسلمانانو د ګناهونو حساب په دنیا کښې ختم کړو۔ هر کله چې هغوی مونږ له راشی نو چې د ګناهونو نه پاک صفا راشی نو چې دې یهودی څومره نیک عمولنه کړی وو د هغې ټولو بدله خو مونږ ورکړې وه صرف د یوې نیکئ بدله ئې باقی پاتې وه او اوس دې مونږ نه راروان وو۔ کله چې د ده په زړهٔ کښې د ماهی د خوړلو خواهش راپیدا شو نو مونږ د ده خواهش پوره کړو او په ده مو ماهی اوخوړو چې دې کله مونږ ته راشی نو چې د ده د نیکو حساب کتاب شوې وی او د دې مسلمان د بیمارئ په دوران کښې ټول ګناهونه خو معاف شوی وو خو یوه ګناه د ده په ذمه باقی او اوس دې مونږ له راتلونکې وو که په داسې حالت کښې مونږ له راغلی وو نو دا ګناه به د ده په اعمال نامه کښې وه۔ د دې وجې نه مونږ دا اوغوښتل چې دې د ګناهونو نه پاک صفا کړو[1]۔

.................................... .....

[1] ... حکیم الامت

حضرت ابو هریرهؓ راوی دي۔ رسول کریم ﷺ اوفرمائیل 'د مؤمن سړی یا مؤمنې ښځې ځان، د هغهٔ مال او د هغه اولاد ته همیشه مصیبت او بلاء رسی۔ تردې چې د مرګ نه پس هغه الله تعالیٰ سره ملاقات کوی نو د هغه عمل نامه کښې هیڅ ګناه نهٔ وی (ځکه چې د مصیبت او بلاء په وجه د هغهٔ تمام ګناهونه بخښلې شی)'[1]۔

عَنۡ اِبۡنِ عَبَّاسَ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ قَالَ قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰہِ ﷺ اَوَّلَ مَنۡ یُّدۡعٰی اِلَی الۡجَنَّةِ یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ الَّذِیۡنَ یَحۡمَدُوۡنَ اللّٰہَ فِی السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ۔

"د حضرت ابن عباسؓ روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د ټولو نه چې څوک مخکښې د جنت طرف ته رابللې شـی د قیامت په ورځ هغه خلق به وی څوک چې د الله تعالیٰ تعریف کوی په فراخئ او سختئ کښې"۔

الله تعالیٰ فرمائیلی دی:

وَ لَنَبۡلُوَنَّکُمۡ بِشَیۡءٍ مِّنَ الۡخَوۡفِ وَالۡجُوۡعِ وَ نَقۡصٍ مِّنَ الۡاَمۡوَالِ وَالۡاَنۡفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ؕ وَ بَشِّرِ الصّٰبِرِیۡنَ ﴿۱۵۵﴾[2]

ترجمه: "او مونږ به ضرور اوزمایو تاسو په څهٔ څیز له ویرې نه او له

...................................

(۱)۔ مظاهر حق۔ صفحه ٦٢

(۲)۔ سورة البقرة

لوړې نه او له نقصان د مالونو نه او د ځانونو نه او د میوې نه او زیرې ورکړه صبر کونکو ته"۔

یعنی مطلب دا دې چې په لږه شان ویره، لوږه، د مال کمی، د ځانونو کمی یعنی د خپلو او غیرو په نقصان وغیره سره الله تعالیٰ خپل بندګان ازمائی۔ صبر کوونکو له نیک اجراو ښه بدله ورکوی او بې صبره او تادی کوونکو او نااُمیده خلقو باندې د هغهٔ عذاب نازلیږی۔ د بعضو سلفو نه منقول دی چې دلته د ویرې نه مراد د الله تعالیٰ نه ویره ده۔ د لوږې نه مراد د روژو لوږه ده۔ د مال د کمی نه مراد د زکات ورکول دی۔ د ځان د کمی نه مراد د بیماری ده۔ د میوو نه مراد اولاد دې خو دا تفسیر لږ غور غواړی[1]۔

د حضرت عائشهؓ نه روایت دې چې رسول الله او فرمائیل مسلمان ته چې هریو مصیبت رارسی هغه الله تعالیٰ د هغه د ګناهونو کفاره جوړه کړی تردې پورې که په چا کښې اغزی هم لاړشی نو هغې سره ئې هم ګناهونه معاف کیږی[2]۔

## جنت کښې روښانه مقام ملاویدل:

په حدیث کښې راځی چې کله د جنت والا جنت ته لاړشی نو وُبه وینی چې یو مقام دې چې ډیر زیات اوچت دې او ډیر روښانه په نظر

............................................

(۱)۔ تفسیر ابن کثیر۔ صفحه۲۶۶

(۲)۔ علامات محبت۔ صفحه۵۰۱

راځي۔ د جنت والا به پوښتنه اوکړی چې دا د کومو خلقو دپاره دې۔ جواب به ورته ورکړې شی چې دا د هغو خلقو دپاره دې چا چې په مصيبتونو صبر کړې وی۔ د جنت والا به دا وائی که مونږ ته معلومه شوې وې چې په صبر به دومره اوچت مقامات ملاويږی نو مونږ به دا خوښ کړې وې چې مونږ څرمنې دې په قينچيانو کټ کړې شوی وی او مونږ په هغې صبر کولې[1]۔

## د حضرت حمزهؓ کفن:

د نبی کریم ﷺ تره حضرت حمزهؓ غزوهٔ اُحد کښې شهيد شو او بې درده کافرانو د دوئ غوږونه، پوزه وغيره اندامونه پريکړل او سينه ئې ورله اوڅيرله۔ زړه ئې ترې رااويستو او قسما قسم ظلمونه ئې پرې اوکړل۔ د جنګ په ختميدو نبی کريم ﷺ او نور صحابوؓ د شهيدانو د لاشونو تلاش شروع کړو۔ د هغوی د کفن انتظام ئې کولو چې حضرت حمزهؓ ئې په دې حالت کښې اوليدو۔ ډير خفګان پرې تير شو او په يو څادر ئې پټ کړو۔ په دې کښې د حضرت حمزهؓ حقيقی خور حضرت صفيهؓ تشريف راورو چې د خپل رور حال اووينی۔ نبی کريم ﷺ په دې خيال چې آخر ښځه ذات دې، د داسې ظلمونو د کتلو زغمل به ورته ګران شی۔ د هغې خوئ حضرت زبيرؓ ته ئې ارشاد اوفرمائيلو چې خپله مور د کتلو نه منع کړه۔ هغه

[1] محبت علامات۔ صفحه ۱۵۱

مور ته عرض اوکړو چې نبی کریم ﷺ د کتلو نه منع فرمائیلی ده۔ هغې اووئیل چې ما دا اوریدلی دی چې زما د رور پوزه غوږونه وغیره پریکړی شوی د الله تعالیٰ په لاره کښې دا کومه لویه خبره ده۔ مونږ په دې راضی یُو۔ زهٔ د الله تعالیٰ نه د ثواب اُمید لرم او انشاء الله صبر به کوم۔ حضرت زبیرؓ نبی کریم ﷺ ته ورغلو۔ د مور خبرې ئې ورته عرض کړې نو نبی کریم ﷺ چې د هغې جواب واوریدو، د لیدلو اجازت ئې ورکړو۔ راغله، وې لیدلو، اِنَّا لِلّٰهِ ئې اووې او د هغه دپاره ئې استغفار او دُعا اوکړه۔

یو روایت کښې دی چې غزوه اُحد کښې کوم ځائ چې مړی پراته وو۔ یوه ښځه په تیزئ سره راتله۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل۔ اوګورئ دا ښځه منع کړئ۔ حضرت زبیرؓ فرمائی ما اوپیژندله۔ چې زما مور ده۔ زه په تلوارئ منع کولو دپاره ورمخکښې شوم خو هغه طاقتوره وه زهٔ ئې یوه مُوکه اووهلم او وې وئیل لرې شه۔ ما ورته اووې چې نبی کریم ﷺ منع فرمائیلې ده نو فوراً اودریده۔ د دې نه پس ئې دوه څادرې رااویستې۔ وې فرمائیل چې ما د خپل رور د کفن دپاره راوړی دی چې د هغه د وفات خبر مې واوریدو په دې څادرونو کښې کفن ورکړئ۔ مونږ هغه څادرونه واخستل۔ حضرت حمزهٔ په کښې کفن کولو چې څوا کښې ورسره یو انصاری شهید پروت وو چې د هغه نوم سهیلؓ وو۔ د هغه هم کافرانو داسې حال کړې وو څنګه چې د حضرت حمزهؓ وو۔ مونږ ته د دې خبرې نه

شرم راغلو چې حضرت حمزهؓ ته دې دوؤ څادرونو کښې کفن ورکړې شی او د انصاری دې یو هم نه وی۔ په دې وجه مونږه دواړو دپاره یو یو څادر مقرر کړو۔ خو یو څادر په هغې کښې لوئې وو۔ دویم لنډ نو مونږه خسنړی یعنی (پچه) واچوله چې خسنړی (پچه) کښې کوم څادر د چا په حصه کښې راغلې په هغې کښې به کفن کړې شی۔ په خسنړی (پچه) کښې لوئې څادر د حضرت سهیلؓ په حصه کښې راغلې او لنډ د حضرت حمزهؓ په حصه کښې راغې چې د هغه د قد نه هم کم وو۔ که سر به مو ورله پټولو نو پښې به ئې ښکاره کیدلې او که د پښو طرف ته به مو کړو نو سر به ئې ښکاره کیدو۔ نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چې سر ورله په څادر پټ کړئ او په پښو ورله پاڼړې وغیره واچوئ(۱)۔

الله تعالیٰ فرمائیلی دی: يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ط

"ای هغه کسانو چې ایمان مو راوړې دې، امداد وغواړئ په صبر سره او په مانځه سره"۔

اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۵۳﴾ (سورة البقره)

"بیشکه چې الله د صبر کوونکو سره دې"۔

صبر په څلور قسمه دې۔ (۱) د الله تعالیٰ په عبادت باندې

(۱)۔ خمیس۔ فضائل اعمال۔ صفحه ۱۰۲

صبـر کـول۔ (۲) لـه حرامو نه ځان ساتل۔ (۳) په تکلیفونو باندې صبر کول۔(۴) او د مړی په وخت د غم نه صبر کول۔

کـوم سـړي چې د الله تعالیٰ په عبادت صبر کوی او هر وخت په عبادت کښې مشغول وی هغه ته د قیامت په ورځ درې سوه داسې درجې ورکوی چې د هرې یوې ترمنځ د زمکې او اسمان هومره فاصله وی او کـوم سـړي چـې د الله تـعالیٰ له حرامو څیزونو نه ځان ساتی او صبـر کـوی هـغـه تـه به شپږ سوه درجې او مرتبې ورکول کیږی چې د هـرې درجـې ترمنځ به له اووم اسمان نه تر اوومې زمکې پورې فاصله وی۔ کوم سړي چې په مصبتونو باندې صبر کوی هغهٔ ته به اووه سوه درجـې او مـرتبې ورکول کیږی۔ د هرې درجې ترمنځ به له تخت الثریٰ نه تر عرش پورې مسافه وې[1]۔

**واقعه**: یو کس له خپلې ښځې نه اوبه اوغوښتې۔ کله چې ښځې ورته اوبـه راوړې نـو د هغه سترګې د خوب د وجې نه پټې شوې وې۔ ښځې ورتـه صبـر اوکـړو۔ ترڅو چې سحر شو کله چې هغه د خوب نه ویش شـو نـو ګـوری چـې سر ته ئې جام په لاس ښځه ولاړه ده۔ خاوند ته دا ښـځې د کار ډیر خوښ شو۔خاوند غوښتل چې له خپلې ښځې سره یوه نیـکی اوکړی۔ خپلې ښځې ته ئې اووئیل چې زهٔ تاته د دغه کار په بدله کښـې څـه بـدلـه درکول غواړم۔ هغې اووئیل که ته ماته بدله راکول

..............................

(۱)۔ د معاشرې اصلاح۔ صفحه۱۹۰

غوږې نو ماته طلاق راکړه۔ خاوند د ښځې په دې خبره باندې خفه شو۔ د دې نه وروسته د رسول الله ﷺ حضور ته روان شو۔ په لاره کښې سړی اوغورځيدلو او ښپه ئې ماته شوله۔ ښځې اوونيل بس دې نور رسول الله ﷺ ته نه ځو۔ اوس ماته د طلاق اخستو هيڅ ضرورت نشته ځکه چې تا ماته د رسول الله ﷺ يو حديث بيان کړې وو چې رسول الله ﷺ فرمائيلی دی: چا سره چې الله تعالیٰ نيکی کول غواړی نو هغه ته څه نا څه مصيبت رسيږی۔ ما چې تا سره د څو کالو راسې ژوند تير کړې وو تا ته هيڅ مصيبت نه وو رسيدلې نو ما فکر کولو چې الله تعالیٰ له تا سره هيڅ مينه نه لری ليکن اوس چې تا ته تکليف ورسيدو نو ماته معلومه شوه چې بيشکه الله تعالیٰ له تاس سره مينه لری۔ په احياء العلوم کښې امام غزالیؒ بيان کړی دی چې عمار بن ياسر له يوې ښځې سره نکاح اوکړه۔ هغه کله هم چيرته بيماره نه شوه۔ له دې وجې نه ئې هغې ته طلاق ورکړو[1]۔

## د بچو په مرګ باندې صبر کول:

حضرت ابو سعيدؓ وائی۔ يوه ورځ يوه ښځه د رسول کريم ﷺ په خدمت کښې حاضريدو سره ئې عرض اوکړو۔ يا رسول الله ﷺ! سړو خو ستاسو د مقدس ارشاداتو نه استفاده اوکړله۔ تاسو يوه ورځ مونږ دپاره هم مقرره کړئ چې مونږ په هغه ورځ ستاسو خدمت کښې حاضرې شُو او تاسو مونږ ته هغه خبرې اوښايئ کومې چې الله تعالیٰ تاسو ته ښودلی دی۔ حضور ﷺ ورته اوفرمائيل ښه ده تاسو ښځې په فلانی ورځ په فلانی وخت او فلانی ځائ يعنی جماعت يا مکان مخکښې يا روستئ حصه کښې جمع

(1)۔ د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۳۱۹

شئ۔ د ارشاد مطابق ښځې جمع شوې۔ نو رسول الله ﷺ هغوی ته تشریف راوړلو او هغه خبرې ئې ورته اوښودلې کومې چې الله تعالیٰ حضور ﷺ ته ښودلې وې۔ بیا حضور ﷺ دا هم اوفرمائیل تاسو کښې چې چا د خپل اولاد نه درې جینکئ هلکان مخکښې لیږلی وی یعنی هغې درې بچی مړهٔ شوی وی نو هغه بچی به د هغې دپاره د اور نه پرده شی یعنی هغه به دوزخ ته نه پریږدی۔ هغوی کښې یوې ښځې دوه ځله اووې د کومې ښځې چې دوه بچی مړه شوی وی۔ حضور ﷺ ورته اوفرمائیل: د کومې ښځې چې دوه بچی مړهٔ شوی وی هم یعنی د کومې ښځې چې درې بچی مړهٔ شوی وی د هغې دپاره هم دا ثواب دې او د کومې ښځې چې دوه بچی مړهٔ شوی د هغې دپاره هم دا بشارت دې[1]۔

او حضرت موسیٰ اشعریؓ راوی دې۔ رسول کریم ﷺ اوفرمائیل: هر کله چې د یو مؤمن بنده بچی مړهٔ شی نو الله تعالیٰ خپلو فرشتو (یعنی ملک الموت او د هغه معاون فرشتې ته وائی تاسو زما د بنده بچی روح قبض کړې دې۔ هغوی عرض کوی چې هاؤ۔ الله تعالیٰ فرمائی تاسو د هغه د زړهٔ میوه اوشوکوله۔هغوی عرض کوی چې هاؤ۔ بیا الله تعالیٰ هغوی ته فرمائی۔ په دې (حادثه) زما بنده څه اووې۔ هغوی عرض کوی۔ هغه ستاسو تعریف اوکړو۔اِنَّ لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیْهِ

..............................

(۱). مظاهر حق۔ صفحه ۲۳۵

رَاجِعُوْنَ ئې اووې۔ د دې نه پس الله تعالیٰ فرمائی: زما بنده دپاره جنت کښې يو لوئې کور جوړ کړئ او د هغې نوم بيت الحمد کيږدئ[1]۔

حضرت انس بن مالکؓ وائی چې يو سړی به د خپل ځوئ سره نبی کريم ﷺ ته راتللو۔ بيا هغه ماشوم وفات شو هغه سړې د ځوئ د مرګ په وجه بند شو۔ څه وخت وروسته نبی کريم ﷺ د هغه سړی تپوس اوکړو۔ صحابوؓ ورته اووئيل يا رسول الله ﷺ! د هغه ځوئ وفات شوې دې۔ نبی کريم ﷺ ورته اوفرمائيل: ولې تاسو زهٔ نه خبرولم۔ راشئ چې د هغه تعريف اوکړو۔ نبی کريم ﷺ ورکره سره د صحابوؓ لاړو۔ کله چې ورغلل نو دا سړې ډير خفه وو۔ نبی کريم ﷺ ته ئې داسې اووئيل چې زما اُميد ډير زيات وو ځکه زهٔ کمزورې ووم (چې دا ځوئ به راته پاتې شی)۔ نبی کريم ﷺ ورته اوفرمائيل: آيا ته په دې نه خوشحاليږې چې ستا ماشوم ځوئ ته اووئيل شی جنت ته لاړ شه او دې اووائی زما سره مې موراو پلار هم جنت ته ننه باسه، تردې چې دا ځوئ به دې درې ځل ستاسو د موراو پلار سفارش اوکړی۔ آخر به اجازت ورکړې شی نو تول به جنت ته داخل شی۔ په دې وينا سره د هغه سړی نه غم او خفګان لرې شو۔ د دې حديث په رڼا کښې د مړی کور والو تعزيت سنت دی۔ کله چې چا ته څه مصيبت اورسيږی نو د

..........................................

[1]۔ احمد، ترمذی۔ مظاهر حق، صفحه ۲۱۷

دهٔ په ورونو لازم دی چې د دهٔ تعزیت اوکړی[۱]۔

محترمو او معززو مسلمانانو ورونو په مړی باندې ژړا کول او په زوره آواز کول او د ناشکرئ الفاظ وئیل، دا لویه گناه ده۔ رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: **لَیْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَ شَقَّ الْجُیُوْبَ وَ دَعَا بِدَعْوَی الْجَاهِلِیَّةِ**[۲]۔

ترجمه: " ندی زمونږ نه هغه څوک چې مخ وهی او گریوان شلوی او آواز کوی په آوازونو د جاهلیت سره"[۳]۔

نبی کریم ﷺ فرمائی: مرضونه او دردونه دا تول استازی او رسولان د مرگ دی کله چې وخت د مرگ نزدې شو نو ملک الموت ورته راشی نو ورته اووائی چې ای بنده! ډیر خبرو نه پس د خبرو نه پس د خبرو نه او ډیر سولان پسې د رسولانو نه (ملک الموت به اوفرمائی) چې زه خبر هغه یم چې زما نه پس خبر نشته او زه رسول هغه یم چې زما نه پس رسول نشته او د الله تعالیٰ اجابت اوکړه که په خوشئ سره وی و که ناخوشئ سره وی۔ هر کله چې د دهٔ روح قبض کړی او خلق په دې سری چغې جوړې کړی نو ملک الموت وائی په چا ژړا کوئ۔ قسم په الله تعالیٰ چې ما د دهٔ په عمر کښې

(۱)۔ تنبیه الغافلین۔ صفحه ۲۴۳

(۲)۔ بخاری و مسلم

(۳)۔ ارشاد الطالبین۔ صفحه ۲۳۶

کمـوالـی نـه دهٔ کړي او نه مې د دهٔ رزق خوړلې دې بلکه دې الله جل شـانه' اوبللو نو ژړیدونکی دې په خپل ځان ژړا او کړی ځکه چې بیا بیا راتـلـونـکې یم۔ تردې حده پورې چې په تاسو کښې به یو کس هم پرې نږدم(۱)۔

الله تعالیٰ د عمل وریاندې راکړی۔

وَ اٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ.

☆☆☆

☆

(۱) مظهری۔ یواقیت الاعمال۔ صفحه ۳۲۹

# تقریر په باره د غیبت کښې

نَحْمَدُهٗ وَ نُصَلِّیْ عَلٰی رَسُوْلِهِ الْکَرِیْمِ.

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی فِیْ قُرْآنِهِ الْمَجِیْدِ وَ فُرْقَانِهِ الْحَمِیْدِ وَ لَا یَغْتَبْ بَّعْضُکُمْ بَعْضًا ط اَیُحِبُّ اَحَدُکُمْ اَنْ یَّاْکُلَ لَحْمَ اَخِیْهِ مَیْتًا فَکَرِهْتُمُوْهُ ط قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْغِیْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِکَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَی النَّبِیِّ یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا. صَلَّی اللّٰهُ عَلَی النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ.

محترمو مسلمانانو ورونو! زما د دین او اسلام خوږو ورونو! په ټولو ګناهونو کښې غیبت لویه ګناه ده. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: اَلْغِیْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا. "غیبت د زنانه زیات سخت دې".

کله چې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې غیبت زیات سخت دې د زنا نه نو صحابه کرامؓ عرض اوکړو چې څنګه غیبت د زنا نه زیات سخت دې؟ وې فرمائیل: چې سړې زنا اوکړی او بیا توبه اوباسی نو الله تعالیٰ ې ورته معافی کوی لیکن غیبت کونکی ترڅو پورې چې ئې توبې سره سره د هغه چانه معافی نه وی غوښتلې چې د چا غیبت ئې کړې دې نو معاف کیږی نه او دا رنګې غیبت دې وجې

نـه هم د زنا نه زیاته گناه ده چې اول خو انسان غیبت گناه نه گڼري او که گڼري نې هم نو سپکه گناه ئې گڼري۔ حال دا دې چې غیبت لویه گناه ده او کله چې لویه گناه بار بار اوکړې شي نو په خپله د زنا نه زیاتیږي۔

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دې چې دوه کسانو د ماسپښین یا مازدکر مونځ رسول الله ﷺ پسې ادا کړو او د دوی دواړو روژه وه۔ څه وخت چې رسول الله ﷺ مانځه نه فارغ شو نو وې فرمائیل تاسو دواړه اودس اوکړئ او خپل مونځ دوباره اوکړئ او خپله روژه پوره کړئ او د دې په ځائ بله روژه ونیسئ۔ دې دواړو عرض اوکړو ای د الله تعالیٰ رسوله ﷺ! ولې؟ یعنی زمونږ د مونځ او روژې د قضا راوړلو سبب څه دې؟ وې فرمائیل تاسو د فلانی کس غیبت کړې دې[1]۔

فقیهه ابو لیث فرمائیلی دی چې کوم کس کښې دا اووه (۷) خصلتونه موجود وی په هغه د الله تعالیٰ رحمت نۀ نازلیږی۔

(۱) هغه کس چې طمع کوی خلکو نه په مال کښې۔

(۲) هغه کس چې ډیر خاندی۔

(۳) هغه کس چې بغیر د څه وجې نه په یو انسان تهمت لګوی۔

(۴) هغه کس چې پردی زنانو ته ګوری۔

..................................

(۱)۔ بیهقي دمعاشرې اصلاح۔ صفحه۳۶۰

(۶) هـغـه کـس چـې بـغـيـر د ضرورت نه تکبير اولیٰ فوت کوی (پرېږدی)۔

(۷) هغه کس چې غيبت کوی۔

وائـی چې د حضرت عيسیٰؑ د بی بی مريم ځوئ خپلو صحابو تـه اووئيل: ماته اووايئ چې يو سړې اوده‌ٔ وی او د هغه عورت باد برينډ کړې وی۔ آيا تاسو به ورباندې پرده واچوئ؟ دوی اووئيل او ۔ حضرت عيسٰـیؑ ورتـه اوفـرمـائيـل بـلـکه تاسو به ئې نور هم برينډ کړئ۔ دوی اووئيـل سبحان الله! مونږ به ئې څنګه نور برينډ کړو؟ حضرت عيسٰیؑ ورتـه اوفرمائيل: آيا تاسسو په خوا کښې د يو ورور هغه نقصان او کمې نـه بيـانيـږی کـوم په کښې وی او تاسو هغه نه بندوئ بلکه نور ئې هم بـدی ذکـر کـوئ؟ دوی خاموش شول نو حضرت عيسٰیؑ ورته اووئيل چې کويا که تاسو د هغه باقی جامې هم د عورت نه لرې کوئ[۱]۔

وَ عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ، اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَتَدْرُوْنَ مَا الْغِيْبَةِ قَالُوْا اَللّٰهُ وَ رَسُوْلُه‘ اَعْلَمُ قَالَ ذِكْرُكَ اَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ قِيْلَ اَفَرَاَيْتَ اِنْ كَانَ فِیْ اَخِیْ مَا اَقُوْلُ قَالَ اِنْ كَانَ فِيْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ وَ اِنْ لَّمْ يَكُنْ فِيْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدْ بَهَتَّه‘[۲]۔

.............................

(۱)۔ تنبيه الغافلين۔ صفحه ۱۵۱

(۲)۔ رواه مسلم

ترجمه:" او د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دې چې بیشکه رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل: آیا تاسو پوهیږئ چې غیبت څه شي دې۔ صحابوؓ عرض اوکړو الله تعالیٰ او د هغه رسول ﷺ ښه پوهیږي۔ نو هغوئ ﷺ اوفرمائیل: ذکر کول ستا خپل ورور لره په هغه څه چې هغه ئې بد ګڼي (یعنی چې په کومه خبره مخامخ سړي خفه کیږي او تاسو هغه خبره پناه مخ اوکړئ نو دا غیبت دې) اووئیل شو خبر راکړه که چرې وی زما په ورور کښې هغه (عیب) چې زه ئې وایم۔ هغوی ﷺ اوفرمائیل: که چرې وی په هغه کښې هغه (عیب) چې ته ئې وائې نو بیشکه تا د هغه غیبت اوکړو او که چرې نه وی په هغه کښې هغه (عیب) چې ته ئې وائې نو بیشکه تا په هغه تهمت (الزام) اولګولو[1]۔

الله جل شانه' په خپل آخری کتاب قرآن کریم کښې فرمائیلی:

وَ لاَ يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ [2]۔

ترجمه:"څنې دی ستاسو د څنو نورو غیبت نه کوی آیا تاسو دا خوښوئ چې د خپل ورور غوښه اوخورئ تاسو به دا بد اوګڼرئ یعنی لکه څنګه چې د خپل ورور غوښه خوړل بد ګڼری ممدغه شانته د

................................

(۱)۔ ارشاد الطالبین۔ شرح زاد الطالبین۔ صفحه ۳۵۷

(۲)۔ سورة الحجرات

غیبت نه هم ځانو نه اوساتئ“۔

**واقعه**: عبدالله بن مبارک حج ته تلې وو او د بیت الله مبارک نه ئې طواف کولو۔ یو سړې ورته راغې او وې فرمائیل: اې د الله جل شانه‘ ولی تا سره مې کار دې۔ عبدالله بن مبارک ورته اوفرمائیل چې ستا ما سره څه کار دې۔ هغه سړی ورته اووئیل کله چې ته د تهجد مونځ ته پاڅیږې او الله جل شانه‘ سره مناجات کوې ورته اووایه چې ستاسو یو بنده یو ګناه کړې ده هغه تانه معافی غواړی۔ ته ورته معافی اوکړه۔ عبدالله بن مبارک ورته اووې۔ اې ځوانه تا څه ګناه کړې ده۔ هغه ورته اووئیل چې زما ګناه ډیره لویه ده۔ زه راغلې یم تاته چې ته ماته د توبې لاره اوښائې۔ عبدالله بن مبارک ورته اووئیل چې ستا ګناه لویه ده که عرش او کرسی؟ دغه سړی ورته اووئیل چې زما ګناه لویه ده د عرش او د کرسی نه۔ بیا عبدالله بن مبارک ورته اوفرمائیل چې ستا ګناه لویه ده او که رحمت د الله تعالیٰ؟ دغه سړې چُپ شو۔ بیا عبدالله بن مبارک ورته اووئیل چې اوس خو خپله ګناه اووایه چې تاته څه لاره اوښایم۔ هغه کس ورته اووئیل چې ما یوې ښځې سره زنا کړې ده۔ عبدالله بن مبارک ورته په خندا شو او ورته ئې اووئیل چې زما دا خیال وو چې تا به غیبت کړې وی۔ اوس لاړ شه توبه اوباسه۔ الله تعالیٰ به درته مغفرت اوکړی خو داسې توبه به اوباسې چې بیا به دا کار نۀ کوې او خفه کیږه مۀ زه دې اویرولم چې تا به غیبت کړې وی ځکه چې غیبت د زنا نه لویه ګناه ده ځکه چې د زنا نه یو کس توبه

اوباسی۔ الله تعالیٰ به ورته مغفرت اوکړی خو د غیبت په باره کښې هغه وخته پورې توبه نه قبلیږی چې تا د هغه کس نه معافی نه وی غوښتی، د کوم کس چې تا غیبت کړې دې۔ هغه کس چې درته معافی اوکړی بیا به الله جل شانهٔ ته توبه اوباسی۔ الله تعالیٰ به ستا توبه قبول کړی او که هغه کس درته معافی اونکړی ستا توبه نه قبلیږی ځکه چې دا د بنده حق دې۔ الله تعالیٰ د بنده حق نه معاف کوی ترڅو چې هغه بنده ورته معافی نهٔ وی کړې[۱]۔

د ابو سعید الخدریؓ نه روایت دې چې نبی کریم ﷺ فرمائیلی چې د معراج په شپه مې داسې کسان اولیدل چې دوی خپلې غوښې د خپلو اړخونو نه پریکولې او بیا به ئې خوړلې۔ بیا به ورته وئیلی کیږی خوریٔ اوس ځکه تاسو به د خپلو ورونو غوښې خوړلې۔ ما تپوس اوکړو وایه جبرائیل علیه السلام دا څوک دی؟ راته ئې اووئیل چې دا ستا د اُمت چغلکر غیبت کوونکی دی[۲]۔

د جابر بن عبدالله نه روایت دې چې د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې یو بدبویه باد او سیلئ راوالوتله۔ په دې کښې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې مناقانو د مسلمانانو غیبت اوکړو نو د دې په وجه دا بدبویه باد راوالوتلو۔ د ځنو علماء نه چا تپوس اوکړو چې د غیبت په وجې ولې د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې بدبویه باد الوتلو، اثر به ئې ښکاره شو او اوس زمونږ په زمانه کښې د دې اثر نه ښکاره

(۱)۔ د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۲۵۷

(۲)۔ تنبیه الغافلین۔ صفحه ۱۵۴

کیږی؟ وې فرمائیل اوس غیبت ډیر زیات شو، اوس ورنه تول څایونه ډک شول۔ د دې وجې نه هغه بدبویه باد نه رالوزی۔ د دې مثال داسې دې لکه یو سړی د رنګونو والا کورته ورننوځی۔ د سخت بوئ له وجې نه هغه په دې کور کښې قرار نه شی موندلې او د هغه کور خاوندان په کښې خوړل څښل ښه په خوشحالئ سره کوی او دوی ته په کښې بوئ نه ښکاره کیږی ځکه د دوی پوزې ورنه ډکې شوی وی۔ د دینه همدغه شانته مثال هم د غیبت دې زمونږ په زمانه کښې[1]۔

امام فقیه ابو لیث السمرقندیؒ فرمائی ما د خپل پلار نه اوریدلی دی۔ وائی چې نبی کریم ﷺ په کور کښې وو او د هغه صحابهؓ اهل الصفه په مسجد کښې وو او زید بن ثابتؓ حدیث ورته بیانولو کوم ئې چې د نبی کریم ﷺ نه اوریدلې وو۔ په دې کښې چا نبی کریم ﷺ ته غوښه راوړله۔ دې صحابوؓ اوونیل چې ای زید! نبی کریم ﷺ ته ورننوزه او ورته اووایه دا د دومره ورځې کیږی چې مونږه غوښه نده خوړلې که تاسو راته لږ څه د دې نه رااولیږئ۔ کله چې زید د دوی نه پاڅیدو او نبی کریم ﷺ ته ورغلو نو دوی خپل منځ کښې اوونیل چې زید خو د نبی کریم ﷺ سره حاضریږی لکه څنګه چې مونږه حاضریږو نو بیا دا څنګه کینی او حدیث راته بیانوی۔ نو کله چې حضرت زیدؓ ورننوتو،

---

(۱)۔ تنبیه الغافلین۔ صفحه ۱۵۵

نبی کریم ﷺ ته او د دوی هغه پیغام ئې ورته اورسولو، نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل تاسو اوس غوښه اوخوړله۔ حضرت زیدؓ ورنه واپس راواوتلو او دوی ته ئې اوونیل چې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل تاسو اوس غوښه اوخوړله۔ دوی اوونیل قسم په خدائ مونږه دا دومره وخت اوشو چې کوښه مو نده خوړلې۔ حضرت زیدؓ بیا واپس راغلو یا رسول الله ﷺ! دوی خو وائی چې قسم په خدائ دا دومره وخت کیږی چې مونږه غوښه نده خوړلې۔ نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل دا دې تاسو اوس غوښه اوخوړله۔ حضرت زیدؓ بیا راغلو او دوی ته ئې اوونیل چې تاسو اوس غوښه خوړلې۔ په دې کښې دوی تول نبی کریم ﷺ ته ورغلل نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل تاسو د خپل ورور غوښه خوړلې۔ د دې اثر ستاسو په غاښونو کښې دې۔ تاسو لاړې توکړئ تردې پورې چې سوروالې اووینئ نو هغوی بیا وینې د خپلو خُلو نه توی کړې نو بیا ئې توبه اوویسته او نبی کریم ﷺ ته ئې د دې عذر اوکړو[1]۔

## غیبت د خنزیر د غوښې خوړلو نه بدتر دی:

د خالد الربعیؒ نه روایت دې۔ فرمائی چې یوه ورځ زه په جامع مسجد کښې د یو څو کسانو سره ناست وو۔ په دې کښې د یو سړی ذکر دوی شروع کړو۔ ما دوی ته مخ کړل۔ دوی چُپ شول او نورې

(۱)۔ تنبیه الغافلین۔ صفحه ۱۴۱

خبرې ئې شروع کړي. زه ورنه لاړم. بيا د څهٔ کار دپاره ورته راغلم. دوی بيا د يو سړی ذکر کولو. په دغه شپه مې خوب کښې اوليدل. يو سړې د خنزير غوښه راخستې او ماته وائي اوخوره ما ورته اوونيل چې ته په ما باندې د خنزير غوښه خورې. دې سړی راته اوونيل پرون خو دې د دينه ډيره گنده او خراب شې خوړلو. هغه داوو چې تاسو د يو سړی ذکر (غيبت کولو) او بيا ئې په زوره راته غوښه په خُله کښې راکړه. زه په دې وخت کښې راويښ شوم. هغه بد خوند مې يوې مياشتې پورې په خُله کښې وو. ما يو څو مياشتو پورې څه طعام اونه خوړلو(۱).

حجة الاسلام امام الغزالیؒ په خپل کتاب مکاشفة القلوب کښې فرمائيلی دی: حضرت انسؓ وائی: رسول الله ﷺ خلکو ته امر اوکړو چې يوه ورځ روژه ونيسی او دا ئې ورته اوفرمائيل چې زما له اجازې پرته هيڅوک روژه ماته نکړی. خلکو روژه ونيوله تردې چې ماښام شو. هر سړی به رسول الله ﷺ ته راتلو او ويل به ئې: ما روژه نيولې ده. نو ماته د روژې ماتولو اجازه اوکړه نو هغه ته به ئې اجازه کوله. همداسې تول راغلل تردې چې يو سړې راغې او وې وئيل: ای د الله رسوله! زما د کور دوه نجونو (ښځو) هم روژه نيولې ده. هغوی دواړه حيا کوی چې دلته راشی نو هغوی دواړو ته هم اجازه اوکړئ چې روژه

..........................................

(۱)۔ تنبيه الغافلين۔ صفحه۱۵۸

ماته کړی۔ رسول الله ﷺ له هغه سړی نه مخ واړوو۔ هغه بیا عرض او کړو۔ رسول اړ ﷺ ورځینې بیا مخ او ګرځوو۔ هغه په دریم ځل عـرض او کړو نو بیا ورته رسول الله ﷺ او فرمائیل ـغوی دواړو روژه نده نیولې او هغه څوک څنګه روژه نیوونکی کیدای ـسی چې ټوله ورځ ئې د خلکو د غوښو په خوړلو تیره کړی وی۔ ته لاړ ـه او هـغوی دواړو ته اووایه چې که چیرې هغوی نیولې وی نو دواړه ـي استـفـراق (قې) او کړی۔ هغه سړې کور ته راغې او له دغو خبرو نه ـې خبر کړې او د استفراق کولو غوښتنه ئې ورځینې او کړه۔ هرې یوې لـه خُـلـې نـه د ویـنـې ټوټې اوغورځولې۔ هغه سړې بیرته رسول الله ﷺ تـه لاړو او هـغـه ئـې خبر کړو نو رسول الله ﷺ ورته او فرمائیل: قسم په هغه ذات چې د هغه په لاس کښې زما ساه که چیـرې د هـغوی په ګیډو کښې دا پاتې شوې وې نو دواړه به اورسیزلې وې او پـه بـل روایـت کښـې دی: هـر کـلـه چې د هغه سړی نه رسول الله ﷺ مـخ او ګـرځـولـو نـو لږ ساعت وروسته بیا هغه سړې راغـې او وې فـرمائیل: ای د الله رسوله ﷺ! هغوی دواړه مړې شـوې او یا دواړه نزدې دی چې مړې شی۔ رسول الله ﷺ ورته اوفـرمـائیـل: هـغـوی دواړه دلته راوله۔ هغوی ئې راوستې۔ رسول الله ﷺ یوه پیاله (لوښې) رااوغوښته او یوې ته ئې اوفرمائیل: چې استـفـراق (قې) او کړه۔ هغې چې استفراق او کړو نو په هغې کښې ئې له خُلې نه دومره وینې نوونه (زوې) قې رااوړته چې هغه پیاله ئې ډکه کړه او بیـا ئـې هـغـه بلې ته اوفرمائیل: چې استفراق (قې) او کړه۔ همدغه

شـان استـغراق او کړه۔ بیا رسول الله ﷺ او فرمائیل: دې دواړو لـه هغو شیانو ځینې روژه نیولې وه چې الله ورباندې حلال کړی دی او پـه هـغـه څه یې روژه ماته کړه چې الله تعالیٰ ورباندې حرام کړې دې۔ دواړه یـوې بـلـې تـه کیـنـاستـې او دواړو پـه شـریـکه د خلکو غوښه او خوړله[1]۔

قَـالَ رَسُـوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَـنْ كَانَ ذَاوَجْهَيْنِ فِي الدُّنْيَا كَانَ لَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ لِسَانٌ مِّنْ نَّارٍ [2]۔

رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک چې وی دوه مخی په دنیا کښې وی به ده لره په ورځ د قیامت ژبه د اور(ذاوجهین نه مراد هـغه سړې دې چې د دوو تنو تر منځ جنګ وی او دې هر یو ته ورځی۔ د هـغـه حـمـایـت کـوی او د هـغـه د مخالفت او دشمن سره دشمنی ظـاهروی۔ داسې سړی دپاره به په قیامت کښې د اورژبه وی او په دنیا کښې داسې انسان فاسق مسلمان وی)[3]۔

**حکایت**: لـه حـضـرت کعب الاحبارؓ څخه روایت دې چې یو ځل په بـنی اسرائیلو باندې قحط راغې یعنی بارانونه ونه شول۔ موسیٰ علیه السـلام څـو څو ځله د باران لپاره دُعا اوکړه خو باران ونه شو نو موسیٰ عـلیه السلام ته الله تعالیٰ وحی اوکړه چې زه ستا او ستا د ملګرو دُعا

........................................

(۱). مکاشفة القلوب۔ صفحه ۲٦۷

(۲). دارمی (۳)۔ ارشاد الطالبین۔ صفحه ۲۵۱)

نـه قبـولـم ځـکه چې ستاسو په مینځ چغلی کوونکی دی چې پر دغه کنـاه اصـرار او همیشه والې کوی۔ موسیٰ علیه السلام عرض او کړو ای زمـا ربّـه! هـغه (چغلی کوونکی) څوک دی؟ ماته ئې اوښایه۔ تردې چې د خپلو منځونو څخه ئې اوباسو؟ الله تعالیٰ اوفرمائیل: ای موسیٰ! زه تاسو له چغلی نه منع کوم او په خپله دا کار اوکړم نو تولو توبه او کړه او باران اوشو[1]۔

د حـضـرت ابـن عبـاسؓ نه روایت دې۔ فرمائی چې نبی کریم ﷺ دوه نـوی قبـرونـو بـاندې تیریدو۔ وې فرمائیل چې دې دواړو تـه عـذاب ورکول کیږی۔ د دوی دواړو دا کناه وه، دې یو به تشو متیازو نه ځان نه ساتلو او دې بل به چغلکری کوله۔ بیا ئې یوه شنه د کجهورې لخته راواخسته او په منځ ئې څیرې کړه۔ یوه یوه حصه ئې په یـو یـو قبـر اودروله۔ صحابوؓ تپوس اوکړو یا رسول الله ﷺ! دا دې ولې داسې اوکړل؟ وې فرمائیل دا د دې دپاره چې په دوی دا عذاب لـږ سپک شی۔ ترڅو پورې چې اوچې شوې نه وی۔ امام فقیه مصنف فـرمـائـی دغـه کـنـاه ستاسو په ذهن کښې وړه ده مګر د الله تعالیٰ په وړاندې لویه کناه ده۔

د حضرت حذیفهؓ نه روایت دے: **لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ** ۔ "نه به داخلیږی جنت ته چغلخور[2]۔

..............................

(۱)۔ مکاشفة القلوب۔ صفحه ۲۰

(۲)۔ بخاری و مسلم۔ تنبیه الغافلین۔ صفحه ۱۶۳

## اُمت محمدیه ﷺ کښې غریب څوک دی:

امام فقیه ابو اللیث سمرقندیؒ په خپل سند سره فرمائی۔ د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دې چې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې مفلس څوک وی؟ مونږ جواب ورکړو هغه څوک دې چې پیسې او اشرفئ ورسره نه وی او نه نور څه سامان ورسره وی۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: مفلس زما د اُمت هغه څوک دې چې د قیامت په ورځ به د مونځ، روژې سره راشی خو چاته به ئې کنځل کړی وی او په چا به ئې تهمت لګولې وی او د چا مال به ئې خوړلې وی او د چا به ئې وینې توی کړی وی او څوک به ئې وهلی نو د دې سړی نه به نیکی هغې تولو ته په بدل کښې ورکړې شی تردې چې د دې سړی نیکئ به ختمې شی او د خلقو حقونه به نه وی ختم شوی۔ بیا به د هغوی ګناهونه راخستلې کیږی او په ده به اچول کیږی۔ بیا به په دوزخ کښې وراوغورځولې شی[1]۔

**واقعه:** یوه ورځ حسن بصری صاحبؒ ته یو کس راغې او ورته ئې اووئیل چې ای د مسلمانانو امامه! فلانی سړی ستا غیبت کړې دې. حسن بصریؒ یوه پیمانه کجهورې واخستې او خپلو شاګردانو سره روان شو۔ کله چې د هغې سړی کور ته اورسیدو ورئې ورته اوټکولو او هغه سړې ورته رااووتو۔ حسن بصریؒ ورته اووئیل چې دا کجهورې واخله تا

................................

(۱)۔ رواه مسلم ۲/۱۱ و ترمذی۔ تنبیه الغافلین۔ صفحه ۱۱۳

ما سره احسان کړي دي۔ هغه سړی ورته اوونیل ما خو تا سره احسان نه دي کړي۔ حسن بصریؒ ورته اوونیل چې تا پرون ما سره ډیر زیات احسان کړي دي۔ هغه سړی ورته اوونیل ما تا سره څه احسان کړي دي۔ حسن بصریؒ ورته اوونیل چې تا پرون ماته خپل نیک اعمال رالیږلی او دا کجهورې په بدله کښې واخله۔ هغه سړی ورته اوونیل چې ما تا ته څنګه خپل نیک اعمال لیږلی دی۔ حسن بصریؒ ورته اوونیل چې تا زما غیبت کړې دې او په غیبت سره ټول نیک اعمال هغه کس ته ځی چې د چا غیبت شوې وی او دا د رسول الله ﷺ حدیث دې چې په غیبت سره ټول نیک اعمال هغه کس ته ځی چې د چا غیبت شوې وی۔ بیا هغه سړی د حسن بصریؒ ښپو ته پریوتلو او معافی ئې ترې اوغوښتله او حسن بصریؒ ورته معافی اوکړله۔ بیا هغه سړی په ټول عمر کښې غیبت اونه کړو[1]۔

ای مسلمانانو تاسو اوس سوچ اوکړئ د هغه کس په باره کښې چې غیبت کوی۔ دا څومره د افسوس مقام دې چې انسان ټول عمر نیک اعمال اوکړی او په یخنی او په ګرمی کښې مونځونه کوی او نور د قرآن تلاوتونه او ذکرونه هم کوی۔ ډیر په خپل ځان باندې تکلیف و بوجه راولی۔ بیا آخر کښې په غیبت سره ټول نیک اعمال خپل سوځوی۔

.................................

(۱). د معاشري اصلاح، صفحه ۲۶

ای مسلمانانو په وَاللهِ الْعَظِيْمِ چې زما زړه په تاسو باندې سوځیږی او زه په تاسو باندې ډیر زیات خفه کیږم۔ تاسو زما مسلمان ورونه یئ۔ ځکه رسول الله ﷺ فرمائی چې مسلمانان د یو بل ورونه دی۔ زه تاسو ته دا نصیحت کوم چې بالکل غیبت مه کوئ او خپل دا نیک اعمال په غیبت سره مه ختموئ۔ دا ډیره لویه گناه ده چې د انسان ټول له خواری د یو غیبت په وجه لاړه شی۔ د دې مثال داسې دې چې یو انسان بهر ملک ته لاړ شی او ښه ډیرې پیسې او گټی او بیا په لاره کښې ډاکوان ئې ترې نه واخلی۔ دا چې کور ته راشی ده سره یوه روپۍ هم نه وی۔ ده ته پلار اووائی چې بچیه څه دې راوړل ماته۔ دغه کس به څومره خفه شی۔ دغه شان د نیک اعمالو مثال دې چې ټول د غیبت سره ختمیږی۔ دا چې د قیامت په ورځ راشی بیا ډیر زیات خفه وی خو خفگان به ئې پکار رانشی۔اوس هم که تاسو غیبت کوئ ستاسو خپله خوښه ده زما غاړه خلاصه شوه۔(۱)

☆☆☆

☆

# تقریر په بیان د مرګ کښې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ سَلَامٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِیْنَ اصْطَفٰی.

اَمَّا بَعْدُ! اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

وَ تَعَالٰی فِیْ قُرْآنِ الْحَکِیْمِ قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِیْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِیْکُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰی عٰلِمِ الْغَیْبِ وَالشَّهَادَةِ فَیُنَبِّئُکُمْ بِمَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ

عَنْ اَبِیْ سَعِیْد رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِّنْ رِیَاضِ الْجَنَّةِ اَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ.

الله جل جلاله په خپل کتاب قرآن کریم کښې فرمائی:

کُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ.

ترجمه:"هر صاحب روح حیوان څکونکي د مرګ دي"۔ یعنی په دنیا کښې چې څومره جاندار حیوانات دی تولو ته به یو ځل مرګ راځی۔

ای خلقو مرګ یقینی دي چې د دي نه انکار ممکن نه دي۔ تاسو ته به په دنیا کښې داسې خلق میلاؤ هم شی چې هغوی د قرآن کریم نه انکار کوی۔ د پیغمبر نه انکار کوی۔ د داسې خلقو هم کمې نشته چې هغوی الله تعالیٰ نه انکار کوی خو داسې به څوک هم پیدا نشی چې به د مرګ نه انکار کوی۔ د مرګ نه انکار کیدي هم نشی۔ دا خو یو داسې ښکاره حقیقت دي چې د دي مشاهده هر انسان په

خپلو سترګو سره شپه او ورځ په هر کور، محله کوڅه کښې ګوی۔ مونږ او تاسو په مخکښې د سړی ساه اوزی او زنې ورله اوتړو او غسل ورکوو او کفن ورکوو او په خپلو اوګو ئې وړو او په خپل لاسونو سره تیګې وربانـدې بږدو او خاورې وربانـدې اړوو خو افسوس چې نن صبا خلق د دې نـه عبـرت نـه اخـلـی۔ ښه ګوری دغه انسان مړ شو، قبر ته لاړو، دغه شان ته خو به یوه ورځ زه هم وفات کیږم او دې قبر ته به ځم۔

محترمو مسلمانانو ورونو! د مرګ نه خلاصی نشته۔ الله تعالیٰ په خپل کتاب قرآن مجید کښې فرمائی:

قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِیْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ مُلٰقِیْکُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰی عٰلِمِ الْغَیْبِ وَالشَّهَادَةِ فَیُنَبِّئُکُمْ بِمَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ.

ترجمه: ''اووایه بیشکه مرګ هغه چې تاسو تښتئ د هغه نه پس بیشکه هغه میلاویدونکې دې تاسو سره بیا به واپس کړې شی تاسو چې وئ تاسو به کول به مو هغه ذات ته د عالم دې په غیبو او په ښکاره باندې پس هغه به خبر درکړی تاسو ته په هغو کارونو چې وی تاسو چې کول به مو'' (۱)۔

د شام په ملک کښې سلیمان علیٰ نبینا علیه الصلوة والسلام ناست وو۔ نور خلق هم ورسره وو چې عزرائیل علیه السلام راغې او سلیمانؑ د هغه نه تپوس اوکړو چې تاسو یو منټ کښې یو

...............................

(۱) سورة الجمعة آیت ۸

ځـائ کښـې او پـه بل منتهٔ کښې زر میله لرې د نورو انسانانو روحونه څـرنګ اوبـاسـې نـو هـغـه جـواب ورکړو چې د یو پلیتهٔ نه د انارو دا ورسوئ۔ نو هغه هندوستان ته اورسیدو نو دویمه ورځ خبر راغې چې هغه وفات شوې دې نو سلیمانؑ د عزرائیلؑ نه تپوس اوکړو چې دا څه خبـره وه نـو هـغـه ورته اووئیل چې کوم وخت زه تاته راغلې ووم نو دا سړې تا سره ناست وو۔ ما ده ته د دې وجې نه کتل چې ماته د دهٔ روح قبـض کولو حکم په هندوستان کښې شوې وو نو ما دهٔ ته په غور سره کتـل چـې دا هـم هـغه سړې دې یا بل څوک دې۔ معلومیږی خو هم هغه لیکن دې خو په آرام سره د شام په ملک کښې ناست دې۔ دې به پـه یـو ورځ کښـې هـلتـه (هندوستان) ته څنګه ورسیږی۔ بهرحال د عزرائیلؑ کتل په مقرر وخت د روح وتلو دپاره سبب جوړ شو[۱]۔

حسـن بـصـریؒ فـرمائیلی دی۔ کله چې الله تعالیٰ آدم علیه السلام او د هغه اولاد پیدا کړو نو فرشتو عرض اوکړو چې یا الله دا تول اولادِ آدمؑ بـه پـه زمـکه کښې ځائ نه شی۔ الله تعالیٰ اوفرمائیل: زه به مـرګ پیدا کړم۔ فرشتو عرض اوکړو که مرګ دې پیدا کړو نو د دوی ژوند به خوشحاله پاتې نه شی۔ الله تعالیٰ ورته ارشاد او فرمائیلو: چې زه به ورته اُمیدونه (اوږده اوږده) پیدا کړم[۲]۔

..................................................

(۱) ارشاد الطالبين، صفحه ۳۳

(۲) الزهد للامام احمد بن حنبل، [illegible] الاعمال، صفحه ۲۰۹

## د مومن مثال:

سوچ اوکړئ چې په کوم سړی د پهانسۍ یعنی د ادام حکم شوې وی او د هغه د پهانسۍ په کوټه کښې بند وی نو څه هغه به په دې یوازېوالی کښې د ګناه په باره کښې سوچ اوکړی؟ کوم سړی ته چې دا یقین وی چې صبا به پهانسی کیږم۔ یوازېوالی او تیارۍ سره به د هغه ذهن د ګناه طرف ته نه ځی۔ د هغه په زړهٔ به غم سوروی۔ دهٔ ته پته وی چې نن زما دپاره د مرګ فیصله شوې ده۔ د مؤمن مثال بالکل هم داسې وی۔ دهٔ ته د خپل مرګ یقین وی چې راځی خو دهٔ ته دا پته نه وی چې کله به راځی۔ د دې دپاره د دهٔ مثال د پهانسۍ د هغه د کوټې د مجرم په شان وی ځکه خو اوفرمائیلې شُو۔ اَلدُّنْیَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ. "دُنیا د مؤمن دپاره جیل خانه ده"۔ دهٔ ته نه ده معلومه چې کوم وخت به مرګ راځی او د انسان دروازه به اوټنکوی۔ مونږ ته څه پته ده چې مونږ دلته ناست یُو او مرګ په راتلو راتلو زمونږ دروازې ته رسیدلې وی۔

### مرګ به ناڅاپه راځي:

نبی کریم ﷺ د خپلو یارانو نه تپوس اوکړو چې د مرګ باره کښې څه پیژنئ۔ چا عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! چې سحر شی نو زما دا یقین نه وی چې شپه به راشی که نه؟ دویم اوونیل ای د الله رسوله ﷺ! چې څلورو رکعتو نیت اوکړم نو

زما دا يقين نه وی چې پوره به ئې کړم که نه. نبی کريم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو زما دا حال دې لکه چې مونځ گزار مونځ کوی او هغه يو طرف ته سلام گرځولې وی او هغه ته دا هم پته نه وی چې بل طرف ته به سلام اوگرځولې شم که نه. يعنی د ژوند باره کښې دومره هم يقين نه وی. د کومو ملکرو په زړهٔ کښې چې دا حاضری او ياداشت وی نو بيا الله تعالیٰ د هغه ژوند د سنتو او شريعت مطابق جوړوی[1].

ملک الموت ته د مړ کيدونکو خلکو فهرست ورکول کيږی.

له حضرت حثيمه رحمه الله نه روايت دې چې يو ځل ملک الموت د حضرت سليمان عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو. هغوی له دوی نه تپوس اوکړو. ای ملک الموت! ته د يو کور تول اوسيدونکی وژنې مگر د هغوی گاونډيانو ته هيڅ تکليف نه رسيږی. د دې څه وجه ده. ملک الموت عرض اوکړو ماته نور هيڅ نه معلوميږی چې څوک مړ کوم. زه الٰهی د عرش لاندې يم. ماته د مړ کيدونکو خلکو فهرست راکول کيږی او په هغه کښې چې د چا نوم ليکل شوې وی د هغ روح قبضوم او د چا چې نه وی ليکل شوې هغه پريږدم[2].

له حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی چې له مانه تپوس اوکړې شو چې دوه کسان په يو وخت کښې مړ کيږی. يو په مشرق کښې وی او بل په غرب کښې نو بيا د هغوی روحونه څنگه

(۱). خطبات فقير. صفحه ۳۶۹

(۲). ابن ابی شيبه. حال الموت و القبور. صفحه ۶۶

قبضوی۔ ما ورته اوونیل د ملک الموت قدرت په مشرق او مغرب کښې داسې دې لکه چې د یو شخص په وړاندې دسترخوان وی۔ هر څه چې اوغواړی د هغه له سر نه اوچتوی[1]۔

له حضرت ابو هریرهؓ څخه روایت دې چې محمد ﷺ اوفرمائیل آیا تاسو نه ګورئ چې کله انسان مړ کیږی نو د هغه سترګې وازې پاتې کیږی۔ اصحابه کرامؓ عرض اوکړو چې یا رسول الله ﷺ بالکل همداسې کیږی۔ محمد ﷺ اوفرمائیل دا په هغه صورت کښې کیږی چې د هغه روح والوزی او د هغهٔ سترګې خپل روح د آسمان په طرف تللو کښې وینی۔ ابن سعد و ابن ابی الدنیا هم په خپلو سندونو سره همداسې روایت نقل کړې دې[2]۔

الله تعالىٰ اوفرمائیل: لِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ط اِذَا جَاءَ اَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّ لَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۴۹﴾ (سورة یونس)

ترجمه:" دپاره د هر اُمت یوه نیټه ده کله چې راشی اجل د هغوی یعنی نیټه د هغوی نو نه روسته کیږی یو ساعت او نه به مخکښې کیږی"۔

ای خلقو مونږ او تاسو څومره خلق چې دی او څومره خلق چې راشی دا به ټول مړ کیږی۔ مرګ یقینې دې۔ مرګ نه هیڅ څوک

................................................

(۱)۔ ابن ابی خاتم ابو الشیخ شرح الصدور صفحه ۵٦

(۲)۔ مسلم شریف۔ شرح الصدور صفحه ۹۶

انکار نکوی۔ البته هوښیار هغه څوک دي چې مرګ لپاره خپل ځان تیار کړی او حضرت ابن عمرؓ فرمائی چې مونږ لس کسان وو۔ یو په کښې زهٔ هم وم۔ د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو۔ یو انصاری د نبی کریم ﷺ نه سوال اوکړو چې د تولو نه زیات پوهه او تولو نه زیات محتاط، هوښیار سړي څوک دي؟ نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: اَکْثَرُهُمْ ذِکْرَ الْمَوْتِ وَ اَکْثَرُهُمْ اِسْتِعْدَادًا لِلْمَوْتِ اُولٰئِکَ الْاَکْیَاسُ ذَهَبُوْا بِشَرَفِ الدُّنْیَا وَ کَرَامَةِ الْاٰخِرَةِ (۱)۔

یعنی چې کوم خلق مرګ لره د تولو نه زیات یادونکی وی او د مرګ لپاره د تولو نه زیات تیاری کوونکی وی همدغه خلق دی کومو چې د دنیا مرتبې او د آخرت عزتونه یوړل۔ یو حکیم او هوښیار سړي جنازې سره روان وو۔ په لار کښې خلکو په هغه مړی باندې افسوس او غم کولو۔ دې حکیم ورته اووئیل چې تاسو په خپل ځان غم او افسوس اوکړئ ځکه ستاسو دپاره همدا زیاته د فائدې خبره ده۔ دې خو لاړو او د دریو فتنو نه ئې خلاصې بیاموندو۔(۱) د آئنده لپاره د ملک الموت (د مرګ فرشته یعنی عزرائیل علیه السلام) د لیدلو ویره ورته پاتې نه شوه۔ (۲) د مرګ سختی زغمل ئې پرې بیا نه راځی۔ (۳) د خرابئ د خاتمې ویره ئې ختمه شوه۔ خپل فکر کوئ چې دا درې

(۱)۔ ابن ماجه، طبرانی مغیر

واړه معاملې ستاسو لپاره باقي دی(۱)۔

حضرت عائشهؓ وائی: د نبی کریم ﷺ څخه مې پوښتنه اوکړه چې داسې څوک به هم وی چې هغوی به د شهیدانو په ډله کښې د قیامت په ورځ راپورته شی۔ نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل: هو۔ هغه څوک به د شهیدانو په ډله کښې پاڅیږی څوک چې د ورځې شل کرته ځان ته مرګ یادوی۔

**تشریح**: یعنی کوم کس چې مرګ ډیر یاد کړی نو ورځخه به ګناه نه کیږی۔ د مرګ چې څومره سختیانې دی دا چې کله ورته یادې شی نو د دې زړه ګناه ته نه کیږی ځکه چې پس د مرګ نه قبر دې، میدان حشر دې، جهنم دې، عذابونه چې ورته یاد شی نه به دې ګناه کوی، نه به غلط کار۔ نو دې به الله تعالیٰ ته ډیر ګران شی۔ الله تعالیٰ به دې د شهیدانو په ډله کښې پاڅوی(۲)۔

نبی کریم ﷺ فرمائی: مرضونه او دردونه دا ټول استازی او رسولان د مرګ دی کله چې وخت د مرګ نزدې شو نو ملک الموت ورته راشی نو ورته اووائی چې ای بنده! ډیر خبرو نه پس د خبرو نه او ډیر رسولان پسې د رسولانو نه (ملک الموت به اوفرمائی) چې زه خبر هغه یم چې زما نه پس خبر نشته او زه رسول هغه یم چې

.........................

(۱)۔ معراج الواعظين۔ صفحه ۳۱۲

(۲)۔ د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۲۴۵

زمـا نـه پس رسول نشته او د الله تعالیٰ اجابت او کړه که په خوشئ سره وی و کـه ناخوشئ سره وی۔ هر کله چې د ده روح قبض کړی او خلق پـه دې سـړی چـغې جوړې کړی نو ملک الموت وائی په چا ژړا کوئ۔ قسـم پـه الله تـعالیٰ چې ما د ده په عمر کښې کموالی نه ده کړې او نه مـې د ده رزق خـوړلي دې بلکه دې الله جل شانه اوبللو نو ژړیدونکی دې پـه خپـل ځان ژړا اوکړی ځکه چې بیا بیا راتلونکې یم۔ تردې حده پورې چې په تاسو کښې به یو کس هم پرې نږدم۔

حسـن بصریؒ فرمائی چې که خلک ملک الموت اووینی او د هـغـه خبـرې واوری نـو مـړ سړې به ئې له یاده ووځی او په خپل حال باندې به په ژړا شروع شی[1]۔

**حکایت**: شفیق بلخیؒ وائی چې ابراهیم بن ادهمؒ د بصرې په بازار کښې روان وو۔ خـلق ورته راجمع شُو او ورته ئې اوفرمائیل چې ای ابو اسحاق چـې الله تـعـالـیٰ پـه خپـل کتاب کښې فرمائیلی دی چې تاسو زما نه دُعاګانې غواړئ نو زه به ستاسو دُعاګانې قبلوم او مونږ د ډیر وخت نه دُعـاګـانـې غواړو او هغه نه قبلیږی۔ ابراهیم بن ادهمؒ ورته اوفرمائیل چـې اهـل بـصـرې والو! ستاسو زړونه په لسو څیزونو کښې مړه دی نو ستاسو دُعاګانې څرنګه قبولې شی۔ (۱) تاسو الله تعالیٰ پیژنئ او حق ئې نه ادا کوئ۔(۲) د الله تعالیٰ کتاب وایئ او عمل پرې نه کوئ۔

..................................

[1]۔ مظهری۔ یواقیت الاعمال۔ صفحه ۳۲۸

(۳) د رسـول الـله ﷺ د محبت دعویٰ کوئ او سنت مو ورله پـرېښـودی دی۔ (۴) د شیطان د دُشمنئ دعویٰ کوئ او د هغه اطاعت او مـوافـقت کوئ۔ (۵) جنت ته د داخلیدو دعویٰ کوئ او عمل ورته نـه کـوئ۔ (٦) د جهـنـم نـه د نجات دعویٰ کوئ او ځان ورته په خپله غورځوئ۔ (۷) او دا وایئ چې مرګ حق دې خو تیاری ورته نه کوئ۔ (۸) د خپلـو روریـانو عیبونو ته ګورئ او خپلو عیبونو ته نه ګورئ۔ (۹) د خپـل ربّ نـعـمتونه خورئ او شکر پرې نه اوباسئ۔ (۱۰) خپل مړی دفن کوئ او په دوی سره عبرت نه اخلئ۔

محترمو مسلمانانو! دا یقینی خبره ده که چیرې په مونږ کښې د دې لسـو خبرو احساس پیدا شی نو زمونږ دُعاګانې به قبلیږی ځکه چـې د دُعـاګـانـو قبـلیدل د صفایئ سره تعلق لری او صفائی هله په انسـان کښـې راځـی چـې دې ځانته جنت او جهنم او خپل مرګ یاد کړی۔ جـنـت چې ځان ته یاد کړی نو د ښو اعمالو کوشش به شروع کړی چـې دا نعمت ماته حاصل شی او چې جهنم ځان ته یاد کړی نو تـوبه به اوباسی او د بدو أعمالو نه ځان منع کړی او چې مرګ ځان ته یـاد کـړی نو د دُنیا د لذتونو نه به غافل شی، صفائی به په خپله راشی او الله تعالیٰ ته به متوجه شی نو الله تعالیٰ نې دُعاګانې قبلوی(۱)۔

رسول الله ﷺ فرمائی چې زما په اُمت باندې به داسې

.................................

(۱) مواقبت الاعمال صفحه ۳۲۹

زمانه راشي چي دوی به شپږ شیان خوښوي، شپږ په له یاده اوباسي- یو دا چي دوی به مخلوق سره محبت کوي او خالق به هیروي او بل دا چي دوی به بنګلي خوښوي او قبر هیروي او بل دا چي دوی ګناه خوښوي او توبه هیروي او بل دا چي دوی به دنیا خوښوي او آخرت به هیروي او دوی به ژوند خوښوي او مرګ به هیروي او بل دا چي دوی به مال خوښوي او زکات به هیروي۔ رسول الله ﷺ فرمائی چي الله تعالیٰ د دغه قسمه خلکو نه بری دی۔(۱)

محترمو مسلمانانو ورونو! د انسان په مخکښي ډیري مرحلي او منزلونه دی لکه زنکدن او قبر او میدانِ حشر او پُل صراط۔ د زنکدن ډیري سختي دی۔ د حضرت حسن بصریؒ نه روایت دی چي رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ای ابو هریرهؓ پوهه شه چي د مرګ سختي او تکلیف په مؤمن باندي په اندازه د دري سوو د تُوري ګذارونه دی یعني چي انسان ته چي تُوري باندي دري سوه ګذاره ورکړي شي څومره تکلیف ورته رسی دومره تکلیف به د مرګ په وخت کښي مؤمن انسان ته رسی۔(۲)

ذکر شوی دی چي عیسیٰ علیه السلام به د الله تعالیٰ په امر باندي مړی (یعنی مُردګان) ژوندی کول۔ بعض کافرانو اووئیل چي ته

.....................................

(۱) د معاشري اصلاح۔ صفحه ۳۰

(۲) د معاشري اصلاح۔ صفحه ۲۴۲

هغه مړی ژوندی کوې چې هغه تازه وفات شوی وی۔ شاید چې هغه مړ نه وی نو ته مؤنږ ته هغه څوک ژوندی کړه چې هغه په زمانه اول کښې وفات شوی وی۔ عیسیٰ علیه السلام ورته اوفرمائیل: هغه څوک غوره کړی چې څوک ستاسو خوښ وی۔ دوی ورته اوفرمائیل چې سام بن نوح علیه السلام راته شوندې کړه نو عیسیٰ علیه السلام د هغه قبر ته راغې او دوه رکعته مونځ ئې ادا کړو او د الله تعالیٰ نه ئې سوال اوکړو۔ الله تعالیٰ ورته هغه ژوندې کړو چې سر او ږیره ئې دواړه سپین شوی وو نو عیسیٰ علیه السلام ورته اوفرمائیل چې دا سپین والې د څه دې څکه چې دا خو ستاسو په زمان کښې نه وو۔ سام بن نوحؑ ورته اووئیل چې ما آواز واوریدو نو گمان مې اوکړو چې قیامتْ قائم شو نو زما د هیبت نه سر او ږیره سپینه شوه نو عیسیٰ علیه السلام ورته اوفرمائیل چې ته د کوم وخت نه وفات شوې ئې۔ هغهٔ ورته اوفرمائیل چې څلور زره(۴۰۰۰) کاله اوشو او زما نه له تراوسه پورې د مرګ هغه نشه او تریخ والې نه دې تللې او وئیلی شوی دی چې داسې یو مؤمن نشته چې هغه مړ شی مګر په هغه باندې ژوند پیش کړې شی او واپس کیدل دنیا ته لیکن دې دا ښه نه غواړی چې زه واپس لاړم دنیا ته له وجې د سخت والی د مرګ نه ما سوا د شهیدانو نه څکه چې دوی د مرګ شدت نه دې لیدلې نو دوی بیا تمنا کوی چې زهٔ بیرته دنیا ته لاړ شم او بیا شهید شم۔(۱)

.........................................

(۱) یواقیت الاعمال۔ صفحه ۳۶۲

اللّٰه تـعـالـیٰ فرمائی: مِـنْهَـا خَـلَـقْـنٰـكُـمْ وَ فِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَ مِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰىط

ترجمه:''له دې ځمکې نه مې پیدا کړی یئ او په دې ځمکه کښې به بیا تاسو واپس اوکرځوم (یعنی مړهٔ به مو کړم) او د دې ځمکې نه به بیا تاسو واپس بل ځل تاسو رااوباسم''۔

پـه دې آیـت مبـارک کښـې اللّٰه تـعالیٰ د انسان پیدائش او د مـواپـس کیدو د ژوند او د مرګ حال بیان کړې دې ځکه اللّٰه تعالیٰ ې فـرمـائـی چې ما تاسو له خاورو نه پیدا کړی یئ ځکه چې ستاسو اصل آدم عـلـیـه السلام دې او هغه ما د خاورو نه پیدا کړې دې نو تاسو هم بـالـواسطه د خاورو نه پیدا شوی یئ۔ له دې وجې نه په انسـان یوه بله زنـدګـی راځـی چې هغې ته برزخ وائی او برزخ د دنیا او د آخرت ترمنځ عـالـم دې چـې انسـان پـس د مـرګـه تـرقیامت پورې په هغې کښې اوسیږی۔ (۱)

محترمو عزتمندو! د قبر عذاب حق دې۔ دحضرت عائشې نه روایـت دې چې بیشکه یوه یهودیه ښځه یو ځلې راغله نو د عذابِ قبر ذکرئې اوکړو نووې فرمائیل چې دعذابِ قبرنه پناه اوغواړه نو حضرت عـائشـې د حـضـور ﷺ نـه تپوس اوکړو په باره د عذابِ قبر کښې نو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چې اوعذابِ قبرحق دې۔

(۱) یواقیت الاعمال۔ صفحه ۳۴۸

قَالَتْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا فَمَا رَأَیْتُ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ بَعْدُ صَلٰوۃً اِلاَّ تَعُوْذَ بِا اللّٰہِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ.(۱)

حضرت عائشہؓ وائی چې ما یو ځل هم رسول اللّٰه ﷺ نـه دې لیـدلې چې مونځ کړې دې پس د دینه مګر د اللّٰه تعالیٰ نه ئې د عـذاب قبر نـه پـناه غوښتې ده۔ محترمو د رسول اللّٰه ﷺ د عـذابِ قبـر نـه پـناه غوښتل د اُمت مرحومه دپاره تعلیم دې چې زما اُمـت دې د هـر مـانـځـه نه پس د عذابِ قبر نه پناه غواړی ځکه چې پیغمبرانو دپاره عذابِ قبر نشته۔ (۲)

ای مسـلـمـانانو! د دې کور څه نا څه سوچ کول هر انسان ته پکار دی چې زهٔ به یوه ورځ دې قبر ته ځم۔ مانه به اللّٰه تاعلیٰ تپوس کـوی چـې ای انســانـه ما تاته دومره عمر درکړې وو۔ تا د دې عمر په مقابله کښې ماته څه راوړل، تاته ما دومره مال درکړې وو تا د دې مال پـه عـوض کښې ماته څه راوړل۔ آیا تا دا مال په ښه ځائ کښې خرچ کړو که په ناروا کارونو کښې۔ مونږ به ورته څه وایُو۔ هر یو انسان دپاره پـکار دی چې دې کور دپاره تیاری اوکړی۔ د حضرت عثمانؓ آزاد کړې شـوی غـلام هـانـئ فـرمـائی چې حضرت عثمانؓ به کله یو قبر سره اودریدو نو ډیر به ئې ژړل۔ تردې چې په اوښکو به ئې ږیره مبارکه لونده

................................

(۱) بخاری شریف

(۲) یواقیت الاعمال۔ صفحه ۳۵۱

شوه۔ عرض ورته اوکړې شو دا څه خبره ده چې تاسو د جنت او دوزخ په تذکره باندې نه ژاړئ او قبر لیدلو سره دومره ژاړئ؟ وې فرمائیل چې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: قبر د آخرت د منزلونو نه رومبې منزل دې۔ که بنده په دې کښې خلاصې بیاموندو نو راتلونکی منزلونه د دې نه زیات آسان دی او که په دې منزل کښې ئې خلاصې بیا نه موندو نو راتلونکی منزلونه د دې نه زیات سخت دی۔ (دارنګ) رسول الله ﷺ دا ارشد اوفرمائیلو: ما د قبر نه زیات ویرونکې هیڅ یو منظر نه دې لیدلې۔ (۱)

حضرت ابو سعیدؓ فرمائی چې یو ځل رسول الله ﷺ د مانځه دپاره جماعت ته تشریف راوړو نو وې لیدل چې د بعض خلقو د خندا په وجه غاښونه ښکاری۔ رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: که چیرې تاسو د لذاتو ماتوونکی څیز مرګ لره په کثرت سره یادولې نو ستاسو به دا حالت نه وې کوم چې زهٔ وینم۔ دې دپاره د لذاتونو ختمونکی څیز مرګ ډیر ډیر یادوئ ځکه چې په قبر باندې هیڅ یو ورځ داسې نه تیریږی چې هغه په کښې دا آواز نه کوی چې د ځانله والی کوریم۔ زهٔ د تنهائئ کوریم۔ زهٔ د خاورې کوریم۔ زهٔ د چینجو کوریم۔ هر کله چې یو مؤمن بنده دفن کړې شی نو قبر ورته وائی ستا راتلل دې مبارک وی۔ ډیر دې ښه اوکړل چې ته راغلې۔

................................

(۱) ترمذی شریف۔ منتخب الحدیث۔ صفحه ۲۶

څـومره خلق چې زما په شا باندې ګرځيدل ته په کښې د تولو نه زيات خـوښ وې نـن تـه زمـا حـواله کړې شوې او ماله راغلې نو زما بهترين سـلوک به هم اووينې۔ دې نه پس قبر دومره فراخه شی څومره چې د مـری نـظـر لګی او دهٔ دپاره يوه دروازه جنت طرفته پرانستلې شی او هر کـلـه چـې څوک ګنهګاريا کافر قبر کښې کيښودلې شی نو قبر ورته وائی ستا راتلل نامبارک دی۔ ډير بد دې او کړل چې ته راغلې۔ څومره خـلـق چـې زما شا باندې ګرځيدل په هغوې کښې مې د تولو نه زيات نـفرت ستا نه وو۔ نن کله چې ته زما حاله کړې شوې او ماله راغلې نو زمـا بدسلوکی به هم اووينې۔ دې نه پس قبر هغه له داسې زورورکوی چې پښتئ ئې په يو بل کښې ننوځی۔ نبی کريم ﷺ د يو لاس ګـوتـې پـه بـل لاس کښـې اچولو سره اوښودل چې داسې ئې د يو اړخ پښتـئ پـه بـل اړخ کښې ننوځی او د الله تعالیٰ پرې اويا (۷۰) اژدهاګانې داسـې مسـلط کوی که چيرې يو هم د هغوی نه په زمکه باندې پوکې اووهـی نـو د هـغـې د (زهـريله) اثرپه وجه به ترقيامته پورې په زمکه وابـښـه راټـوکيـدل بـنـد شـی۔ هـغـه به دې تر قيامته چيچی۔ بيا نبی کريم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو:

اِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ اَوْ حُفْرَةٌ مِّنْ حُفَرِ النَّارِ. (۱)

''قبر د جنت يو باغ دې يا د دوزخ يوه کنده ده''۔(۲)

(۱) رواه الترمذی۔ (۲) منتخب احاديث۔ صفحه ۲۷

محترمو کله چې يو انسان وفات شی او دې په قبر کښې کيدی نو حديث مبارک دې د حضرت انسؓ نه روايت دې چې حضور ﷺ او فرمائيل: هر کله چې بنده په قبر کښې دننه کيښودې شی او خلق ترې واپس کيږی نو هغه مړې د تلونکو د پنړو (بوټونو) آواز اوری او هغه له دوه فرشتې راشی او هغه کينوی او تپوس ترې نه کوی چې ته به د هغې سړی (يعنی نبی عليه السلام په باره کښې څه وائې۔ مؤمن بنده ورته جواب کښې وائی زهٔ د دې خبرې شهادت کوم چې هغه يعنی محمد ﷺ د الله تعالیٰ بنده او د هغه رسول دې۔ بيا هغه ته اووئيلې شی چې ته خپله د اوسيدو ځائ دوزخ کښې اوګوره چې الله پاک بدله کړې ده او د هغې په عوض کښې ئې تاله جنت کښې ځائ درکړې دې نو مړې دواړه ځايونه (يعنی جنت او دوزخ) اووينی او کوم مړې چې منافق يا کافروی د هغه نه هم دغه تپوس کيږی چې ستا د هغه سړی په باره کښې څه خيال دې۔ هغه جواب کښې وائی زهٔ په هيڅ نه پوهيږم۔ څه چې به نورو خلقو وئيل هغه به ما هم وئيل۔ بيا به هغه ته اووئيلې شی۔ تا په عقل سره اونه پيژندو او نه دې قرآن شريف اولوستلو۔ دې وينا سره به هغه د اوسپنې په ګرزونو سره اووهلې شی نو دې به يوه چغه اوباسی چې چغه ايستلو سره سيوا د انسانانو او پيريانو نه نزدې تول ځيزونه به ئې اوری۔ (۱)

............................

(۱) بخاری او مسلم

حضرت ابو هريرهؓ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ او فرمائيل چې نه وى يو مړې هم مګر د هغه دپاره يو قسم فرياد وى چې هغه فرياد ټول زنده سرشيان اورى مګر انسانان او پيريان ئې نه اورى. که چيرې انسانانو او پيريانو اوريدلې وې ون دوې به بې هوشه پراته وو يعنى دومره خطرناک آواز کوى چې د هغې آواز او فرياد ته انسانان او پيريان نه شى ټينګيدلې. بيا کله چې دغه مړې قبر ته روان کړې شى. که دغه مړې نيک عمل وى نو آواز به کوى چې تاسو ما زر زما قبر ته بوځئ. که چيرې تاسو زما په نيک عمل باندې خبر وئ تاسو به زهٔ قبر ته ډير زر بوتلې وې او که چيرې بد عمل وى نو آواز به کوى چې اى خلکو! ما زر مه بوځئ قبر ته ځکه که چيرې تاسو خبر وئ زما د هغه بد اعمالو نه کوم چې ما په دنيا کښې کړى وو نو تاسو به زهٔ قبر ته زر نه وې بوتلې.(۱)

قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَتْبَعُ الْمَيِّتُ ثَلٰثَةٌ فَيَرْجِعُ اِثْنَانِ وَ يُبْقٰى مَعَهٗ وَاحِدٌ يَتْبَعُهٗ اَهْلَهٗ وَ مَا لَهٗ وَ عَمَلُهٗ فَيَرْجِعُ اَهْلَهٗ وَ مَا لَهٗ وَ يُبْقٰى عَمَلُهٗ.

ترجمه: "نبى کريم ﷺ فرمائيلى دى: روانيږى په مړى پسې درې څيزونه. نو واپس کيږى له ده نه دوه څيزونه او پاتې کيږى هغه سره يو روانيږى په دې پسې اهل د ده او مال د ده او عمل د ده او پاتې کيږى عمل د ده (يعنى د مړى سره چې پاتې کيږى هغه صرف د د:

...................................

(۱) تذکرة الواعظين. د معاشرې اصلاح. صفحه ۲۵۰

اعمال دی کوم چې ده په دنیا کښې په اخلاص سره کړی دی۔ اعمال که ښه وی او که بد په هر حال کښې به ده سره ځی او د هغې مطابق به جزا سزا مرتب کیږی"۔(۱)

یو اعرابی د رسول الله ﷺ نه تپوس او کړو چې زما مور او پلار ستا نه قربان شه۔ یا رسول الله ﷺ! ملګری په قبر کښې څه دی۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د قرآن کریم تلاوت د قبر ملګری دی۔ بیا ئې تپوس او کړو یا رسول الله ﷺ په قبر کښې رڼا څه شي دې۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې په شپه او ورځ کښې پنځه وخته مونځ کول۔ بیا ئې د رسول الله ﷺ نه تپوس او کړو یا رسول الله ﷺ په قبر کښې فرش څه شي دې۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې په دنیا کښې نیک عمل دا د انسان دپاره په قبر کښې فرش دې۔ بیا ئې د رسول الله ﷺ نه تپوس او کړو چې یا رسول الله ﷺ! خزانه په قبر کښې څه شي دې۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ د قبر خزانه ده۔(۲)

ای مسلمانانو! تاسو ته د قبر مختصر شان بیان اوشو۔ الله تعالیٰ دې مونږ او تاسو ټولو ته توفیق راکړی چې خپل ژوند کښې خپل

................................

(۱) ارشاد الطالبین۔ صفحه ۱۵۹

(۲) تذکرة الواعظین۔ د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۲۵۳

ربّ راضی کړو او د دنیا د فانی ژوندکۍ پروا اونه کړو او همیشه خپل د آخرت دپاره تیاری او کړو۔آمین

وَ اٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

☆☆☆

# تقریر په فضیلت د لمانځه کښې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَا نَبِيَّ بَعْدَهٗ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ اَوْفُوْا عَهْدَهٗ.

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

فَقَدْ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ. قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بُنِيَ الْاِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ شَهَادَةُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَنَّ مُحَمَّدً رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط وَ اِقَامُ الصَّلٰوةِ وَ اِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ وَ صَوْمُ شَهْرِ رَمَضَانَ وَ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ط اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ط يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ۞ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى اٰلِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ بَارِكْ وَ سَلِّمْ.

محترمو مسلمانانو! لمونځ د ایمان نه وروسته د مسلمان

فـريـضــه ده او د اسـلام لـه ارکانو څخه لمونځ رکن دي الله جل جلاله' او رسول الله ﷺ پرې امر کړی دی۔ دواړو د لمانځه د ادا کولو کلکه غـوښتـنـه کړې ده۔ د ترک کولو ئې سخته غندنه کړې ده۔ لمونځ د دين سـتـنه ده۔ د جنت کُنجی ده۔ تر ټولو او نيکو غوره دې هغه لومړني عمل دې چې د قيامت په ورځ به د الله تعالیٰ په محکمه کښې د هغه پوښتنه کيږی۔ حـضـرت حسن بـصـریؒ نــه روايت دې نبي کريم ﷺ فـرمـائيـلـی دی چـې د قيـامت په ورځ به اول د ټولو نه د مونځ حساب کيږی۔ که دا مونځ کړه وی نو ټول حساب به ورته اسان شی او که د دې نه څـه کـم شـی الله تـعـالـیٰ فرشتو ته اوفرمائی: آيا زما د دې بنده څه نفلی مـونـځـونـه شتـه دې۔ تاسو ئې د نفلی مونځونو نه فرضی مونځونه پوره کـړئ۔ کـه دا فـرضی مونځونه ورباندې پوره شول نو ټول اعمال ورباندې اسان شی۔ (۱)

عَـنْ اِبْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ (فِيْ حَـدِيْـث) وَ لاَ دِيْـنَ لِـمَـنْ لاَّ صَـلٰـوةَ لَـهُ اِنَّمَا مَوْضِعُ الصَّلٰوةِ مِنَ الدِّيْنَ كَمَوْضِعِ الرَّأْسِ مِنَ الْجَسَدِ.(۲)

د حضرت ابن عمرؓ نه روايت دې چې رسول اکرم ﷺ فـرمـائيـلـی دی چا سره چې مونځ نه وی (يعنی څوک چې د لمونځ نه

............................................

(۱) تنبيه الغافلين۔ صفحه ۲۵۸

(۲) رواه طبرانی فی اوسط مغير

کوی) هغه سره دین نشته۔ د لمانځه او د دین داسې نسبت دې لکه د سر نوربدن سره یعنی که سر له بدن سره نه وی نو بدن بې روحه او دې مړ دې۔ دغه شان که مونځ له دین سره نه وی نو نور عملونه ئې بې روحه دی۔ **عَنْ نَوْفَلُ بْنَ مُعَاوِیَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ یَقُوْلُ مَنْ فَاتَتْهُ صَلاۃٌ فَکَاَنَّمَا وُتِرَ اَهْلُه‘ وَ مَا لُه‘.**

د خوږ نبی ﷺ ارشاد مبارک دې چې د چا څخه هم یو لمونځ فوت شو کویا د هغه څخه د کور خلق او مال او دولت تول لوټ کړې شول۔ د لمونځ ضائع کول اکثر د بال بچ له وجهې نه کیږی چې څومره رنج او صدمه چې په دې حالت کښې کښې وی هغه هومره غم د لمانځه په پریښودو کښې کول پکار دی۔(۱)

الله تعالیٰ فرمائی: **اِنَّ الصَّلٰوۃَ تَنْهٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْکَرِ** بی شکه چې مونځ سړې د بې حیایئ او ګناهونو نه منع کوی۔ حضرت انسؓ وائی چې یو شخص وو چې د محمد ﷺ سره به ئې یو ځائ پنځه وخته مونځ ادا کولو لیکن داسې یو فحش کار نه وو چې ده به نه کولو۔ خلکو نبی کریم ﷺ ته د دې خبرې شکایت اوکړو۔ نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل یقیناً د هغه مونځ به هغه یوه ورځ د بدو کارونو نه منع کړی. څه وخت لا نه وو تیر چې هغه کس توبه اوویسته نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې ما

..............................

(۱) معراج الواعظین۔ صفحه ۵۰

تاسو ته نه وو وئيلی چې يوه ورځ به دې خپل مونځ منع کوی د بدو کارونو نه۔ دا حديث شعبی روايت کړې دې۔(۱)

وَ عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَوْ اَنَّ نَهْرًا بِبَابِ اَحِدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيْهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسًا هَلْ يَبْقٰی مِنْ دَرَنِهٖ شَیْءٌ قَالُوْا لَا يَبْقٰی مِنْ دَرَنِهٖ شَیْءٌ قَالَ فَذٰلِكَ مَثَلُ الصَّلٰوةِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا. (۲)

حضرت ابو هريرهؓ د رسول اللهﷺ نه نقل کوی چې رسول اللهﷺ اوفرمائيل: اوښايئ چې د چا په دروازه باندې يو نهر وی چې په هغې کښې پنځه ځله روزانه غسل کوی۔ آيا د دهٔ په بدن کښې څه خيرې پاتې شی۔ اصحابوؓ عرض اوکړو هيڅ خيرې به باقی پاتې نه شی۔ نبی کريمﷺ اوفرمائيل همدارنګه حال د پنځو مونځونو دې چې الله پاک د مسلمانانو ګناهونه داسې پرې لرې کوی۔ زما ورونړو د دې حديث په تائيد باندې چې انسان الله تعالیٰ د ګناهونو نه په امن کوی په سبب د پنځو مونځونو باندې نو بايد مونځ دستور العمل اوګرځولې شی۔(۳)

**حکايت**: يو ځلې حضرت عيسیٰ عليه السلام د سمندر په غاړه روان

---

(۱) يواقيت الاعمال جديد۔صفحه ۲۱

(۲) متفق عليه

(۳) التقريرات العاليه۔صفحه ۳۴

وو۔ هغوئ يوه خائسته مرغئ اوليده چې په ختته کښې ئې ځان کنده کړو او بيا رااووته او غسل ئې اوکړو او بيا ئې په ختته کښې ځان کنده کړو او غسل ئې اوکړو او خائسته خوبصورته شوه او بيا په ختته کښې ننوته او بيا رااووته او غسل ئې اوکړو او خائسته خوبصورته شوه يعنی پنځه ځله ئې داسې کاراوکړو نو عيسیٰ عليه السلام په تعجب شو نو جبرائيل عليه السلام ورته اوفرمائيل۔ ای عيسیٰ عليه السلام الله تعالیٰ د اُمت محمديه ﷺ د پنځو مونځونو کوونکی داسې مثال ښائی ځکه چې دا ختته په مثل د ګناهونو دهـ په سمندر کښې غسل کول په مثل د پنځو مونځونو دې۔(۱)

عَنْ عَبَادَةَ بِنِ صَامِتٌ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ خَمْسُ صَلَوٰتِ اِفْتَرِضِهُنَّ اللهُ تَعَالٰی عَلَی الْعِبَادِ مَنْ اَحْسَنَ وُضُوْ هُنَّ وَ صَلّٰتُهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ وَ اَتَمُّ رُكُوْعَهُنَّ وَ سُجُوْدُهُنَّ وَ خُشُوْعَهُنَّ كَانَ عَلَى اللهِ عَهْدٌ اَنْ يَّغْفِرَلَه‘ وَ مَنْ لَمْ يَفْعَلْ لَه‘ فَلَيْسَ لَه‘ عَلَى اللهِ عَهْدٌ اِنْشَاءَ عَفَرَلَه‘ وَ اِنْشَآءَ عَذَّبَه‘.(۲)

حضرت عباده بن صامتؓ فرمائی چې ما د رسول الله ﷺ نه ۱۱ فرمان واوريدو! الله تعالیٰ پنځه مونځونه فرض کړی دی۔ څوک چې د دې مونځونو دپاره په ښه شان اودس کوی او په مستحب وخت

............................................

(۱) نزهة المجالس۔ يواقيت الاعمال۔ صفحه ۷۸

(۲) رواه ابو داوٗد

کښې ئې ادا کوی۔ رکوع ، سجده په اطمینان سره کوی او پوره خشوع سره ئې کوی نو د الله تعالیٰ وعده ده چې خامخا به د ده بخښنه کوی او څوک چې د مونځونه په خپل وخت باندې نه کوی او نه ئې خشوع سره کوی نو هغه سره هیڅ وعده د بخښنې نشته۔ خوښه ئې ده که بخښی ئې یا عذاب ورکوی۔(۱)

د ابو مسلمؒ نه روایت دې۔ دوی وائی چې زهٔ ابو امامه ته ورغلم او دوی په جماعت کښې تشریف فرما وو۔ ورته مې اوونیل چې یا ابا مامه ماته ستاسو د جانبه یو سړی حدیث بیان کړې دې چې هغه حدیث تاسو د نبی کریم ﷺ نه اوریدلې دې۔ هغه چا چې اودس اوکړو او په ښه طریقه ئې اوکړو۔ خپل لاسونه ئې اووینځل، مخ ئې اووینځه او مسح ئې اوکړو په سر باندې او غوږونو باندې بیا پاسیدو او فرض مونځ ئې ادا کړو نو الله تعالیٰ ورته د دغې ورځې ګناهونه معاف کوی یعنی هغه ګناهونه چې د دې ورته په ښپو تلی وی یا هغه ګناه چې دوی په لاسونو نیولی وی یا هغه ګناه چې دوی په سترګو لیدلی وی یا هغه چې دهٔ ته خیال راغلې وی د څه بدئ نه۔ نو ابو امامهؓ ورته اوفرمائیل چې ما څو کرته دا حدیث د نبی کریم ﷺ نه اوریدلې دې۔ (۲)

..................................

(۱) ابو داؤد۔ منتخب احادیث۔ صفحه ۱۲

(۲) رواه احمد۔ یواقیت الاعمال۔ صفحه ۱۲

په تنبيه الغافلين کښې د حارث رح په روايت سره ذکر دی چې يو ورځ حضرت عثمان رض تشريف فرما وو او مونږ هم ناست وو۔ په دغه وخت کښې مؤذن راغې نو حضرت عثمان رض اوبه رااوغوښتې او اودس ئې اوکړو او بيا ئې اوفرمائيل چې ما حضور صلی الله علیه وسلم په دې طريقه اودس کونکې ليدلې وو او ما د حضور صلی الله علیه وسلم دا ارشاد اوريدلې دې چې څوک په دې طريقه اودس اوکړی او بيا د ماسپخين مونځ ادا کړی نو الله تعالیٰ د دوی ګناهونه معاف کړی۔ کوم ګناهونه چې دوی د صبا او ماسپخين په مينځ کښې کړی وی او بيا د مازيګر مونځ ادا کړی نو الله تعالیٰ ورته د مازيګر او ماسپخين په مينځ کښې ګناهونه معاف کړی او کله چې د ماښام مونځ ادا کړی نو الله تعالیٰ ورته د ماښام او مازيګر په مينځ کښې ګناهونه معاف کړی او چې کله د ماسخوتن مونځ ادا کړی نو الله تعالیٰ ورته د ماسخوتن او د ماښام په مينځ کښې ګناهونه معاف کړی او بيا چې کله شپه تيره شی نو چې د سحر مونځ ادا کړی نو الله تعالیٰ ورته د شپې ګناهونه معاف کړی۔ (۱)

**حکايت**: يوه نيکه صالحه بې بی وه چې کور ئې تنور لمبه کړو او بيا ئې د مانځه نيت اوکړو او دا خيال ئې اوکړو چې مونځ اوکړم نو بيا به ډوډئ پخه کړم۔ د دې يو بچې وو چې په کور کښې ئې لوبې کولې۔

..................................

(۱) يواقيت الاعمال۔ صفحه ۱۲

شیطان لعین راغې او دا ماشوم ئې د تنور خوا ته بوتلو او بیا ئې مور له راغې او مور ته ئې اووئیل چې ستا بچې د تنور خوا له تلې دې۔ مونځ مات کړه او خپل بچی سنبهال کړه۔ هستې نه چې په اور ستی شی لیکن هغې صالحې بی بی هیڅ خیال اونه کړو او په خپل مانځه کښې مشغوله وه۔ شیطان ډیر غصه شو او ډیر زر ئې د هغې زنانه بچې اوچت کړو او په تنور کښې ئې واچوو اؤ بیا ئې دې ښځې ته اووئیل چې مونځ کوه بچې دې په تنور کښې ستی شو۔ شابه جلتی کوه چې څه حصه ئې د اوره بچ شی او ته هغسې لا په مانځه ولاړه ئې بچې دې مړ شو۔ شیطان به هر څومره کوشش اوکړو لیکن هغې هیڅ فرق په مانځه کښې رانه وستو۔ شیطان رسوا شو او واپس لاړو۔ د مانځه نه فارغه شوه۔ ډیر په آرام سره د تنور خوا له لاړه چې وې کاته بچې ئې ژوندې په تنور کښې ناست دې او اور لمبې وهی او ماشوم د انکار سره لوبې کوی۔ یو سروټکه دې ماشوم په غلې کړه هغه یخه شوه۔(۱)

الله تعالیٰ فرمائی: اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ اَقَامُوا الصَّلٰوۃَ وَ اٰتَوُا الزَّکٰوۃَ لَهُمۡ اَجۡرُهُمۡ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ۚ وَ لَا خَوۡفٌ عَلَیۡهِمۡ وَ لَا هُمۡ یَحۡزَنُوۡنَ ﴿۲۷۷﴾

بیشکه هغه کسان چې ایمان راوړی او اوکړی عمل نیک او قائم کړی مونځ او ورکړی زکوٰة۔ ده د هغوی لپاره بدله د هغوی په نزد د

..................................

(۱) یواقیت الاعمال۔ صفحه ۲۰

ربّ هغوی او نه به وی ویره په هغوی باندې او نه به هغوی غمجن کیږی یعنی بیشکه هغه کسان چې ایمان راوړی او اوکړی نیک عمولنه او مونځونه اوکړی او زکاتونه ورکړی نو دغو کسانو دپاره درې انعامه وی۔ اول الله تعالیٰ اجرونه او ثوابونه ورکوی او دوهم او نه به وی هغوی باندې ویره په ورځ د قیامت او دریم او نه به هغوی غمجن کیږی په ورځ د قیامت۔(۱)

عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ خَرَجَ مِنَ الشِّتَاءِ وَالْوَرَقُ یَتَھَافَتُ فَاَخَذَ بِغُصْنَیْنِ مِنْ شَجَرَۃٍ قَالَ فَجَعَلَ ذَالِکَ الْوَرَقُ یَتَھَافَتُ قَالَ فَقَالَ یَا اَبَا ذَرٍّ قُلْتُ لَبَّیْکَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ قَالَ اِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَیُصَلِّی الصَّلٰوۃَ یُرِیْدُ بِھَا وَجْہَ اللّٰہِ فَتَھَافَتُ عَنْہُ ذُنُوْبُہٗ کَمَا تَھَافَتُ ھٰذَا الْوَرَقُ عَنْ ھٰذِہِ الشَّجَرَۃِ.(۲)

ترجمه:" او د حضرت ابو ذر غفاری ؓ نه روایت دې چې بیشکه نبی کریم ﷺ بهر ته تشریف یوړلو۔ د یخنۍ په موسم کښې او پاڼې دوریدلې نو هغوی د اُونې دوه څانګې اونیولې۔ راوی وائی چې د هغوی ﷺ نیولو سره پاڼې غورځیدل شورع شُو۔ بیا ئې اوفرمائیل چې ای ابو ذرؓ ما اوونیل زه حاضر یم ای د الله تعالیٰ رسوله ﷺ! نو وې فرمائیل بیشکه چې مسلمان بنده خامخا

..............................

(۱) سورة البقرة۔آیت ۲۷٦

(۲) رواه احمدؒ ۱۲۔مشکوٰة ص ۵۸

چې کله مونځ کوی د الله تعالیٰ رضا غواړی نو د هغه نه ګناهونه داسې غورځیږی لکه چې دا پاڼړې د دې اونې نه راغورځیږی۔

**فائده:**

د ژمی په موسم کښې د وُنو پاڼړې دومره ډیرې غورځیږی چې په بعضو وُنو یوه پاڼړه هم نه پاتې کیږی۔ د نبی کریم ﷺ ارشاد دې چې په اخلاص سره د مونځ کولو اثر هم داسې وی چې د هغه ټول ګناهونه به معاف شی یوه به هم پاتې نه شی۔(۱)

حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روایت دې چې یو سړې نبی کریم ﷺ ته راغې او پوښتنه ئې ورځنې اوکړه چې بهتر په عباداتو کښې کوم عبادت دې د ایمان راوړلو نه وروسته۔ هغویٰ ورته اوفرمائیل لمونځ کول تر دې چې درې ځل ئې ورته دا اوفرمائیل۔ بیا ئې ورته اوونئیل:بیا څه دې: بیا یې ورته وفرمایل، جهاد فی سبیل الله د الله د دین د لوړوالی په خاطر چې د الله تعالیٰ دین اوچت شی۔ بیا ئې ورځینې پوښتنه اوکړه چې زما مورپلار ژوندی دی د هغوی باره کښې راته څه اووایه۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې زهٔ تاته د موراو پلار سره د ښیګړې امر کوم چې د هغوی سره ښه اوکړه۔ احترام او قدر ئې اوکړه چې خفه درځینې نه شی۔ بیا هغه سړی اوونئیل زهٔ به ضرور جهاد کوم او مورپلار به پریږدم۔ بیا ورته نبی کریم ﷺ

(۱) فضائل اعمال۔ فضائل نماز۔ صفحه ۲۰

او فرمائیل چې ته ښه پوهیږې- اوس په جهاد او د مور او پلار په خدمت کښې چې کوم خوښه وی هغه اوکړه- نبی کریم ﷺ به د پوښتنې خاوند یا تپوس کوونکی ته کتل- بیا به ئې ورته جواب د هغه مطابق ورکولو چې څه به په کښې کمبود وو هغه به ئې ورته وریادول چې دا ښه کار دې-(۱)

حضرت عبادهؓ فرمائی چې ماته زما محبوب نبی کریم ﷺ اووه نصیحتونه اوکړل چې په هغې کښې څلور دا دی- اول دا چې الله تعالیٰ سره شریک څوک مه جوړوه- اګر که ته ټکړې ټکړې کړې شې یا اوسوزولې شې یا پهانسی کړې شی- دویم دا چې په قصد سره مونځ مه پرېږده څوک چې په قصد سره مونځ پرېږدی هغه د مذهب نه اوزی- دریم دا چې د الله تالیٰ نافرمانی مه کوه چې په دې سره الله تعالیٰ ناراضه کیږی- څلورم دا چې شراب مه څکه چې دا د ټولو ګناهونو جرړه ده- (۲)

حضرت ابو هریرهؓ فرمائی چې د یوې قبیلې دوه صحابهؓ په یو ځائ مسلمانان شو- یو کس د هغوی دواړو نه جهاد کښې شهید شو او دویم صاحب یو کال پس وفات شو- ما په خوب کښې اولیدهٔ چې څوک یو کال پس وفات شوې وو هغه د شهید نه ړومبې جنت ته

(۱) رواه احمد- جنتی کالې- صفحه ۳۴

(۲) فضائل اعمال- فضائل نماز- صفحه ۳۶

داخل شو نو ماته لوئي تعجب اوشو چې د شهید درجه خو ډیره اوچته وی۔ پکار ده چې جنت ته رومبې داخل شوې وې۔ ما نبی علیه السلام ته په خپله عرض اوکړو یا بل چا عرض اوکړو نو نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چې کوم صاحب روسته وفات شو د هغه نیکی نه کورې څومره زیاتې شوې۔ د یو رمضان المبارک روژې زیاتې شوې او شپږزره او دومره دومره رکعتونه د مانځه په یو کال کښې د هغه زیات شول۔(۱)

حضرت ابو امامہؓ نه روایت دې چې نبی علیه السلام فرمائیلی دی: د یو فرض مونځ ادا کولو څخه د بل فرض مونځ ادا کولو پورې تول واړه ګناهونه بخښل کیږی او د یوې جمعې نه تر بلې جمعې پورې تول ګناهونه بخښل کیږی او د یوې د روژې میاشت نه د بلې میاشتې د روژې نیولو پورې تول ګناهونه بخښل کیږی او یو حج ادا کولو نه تر بل حج ادا کولو پورې تول ګناهونه بخښل کیږی۔ بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل چې نه دی جائز یو ښځې ته چې هغه د حج فریضہ ادا کړی مګر خاوند یا محرم سره۔ (۲)

که څوک پوښتنه اوکړی چې د چا ګناهونه نه وی هغه ته به څه بدله ورکړل شی؟

..................................

(۱) احمد و ابن ماجه و ابن حبان۔ یواقیت الاعمال جدید۔ صفحه ۱۸

(۲) رواه طبرانی

جـواب دا دي چې الله تعالىٰ د هغه رتبه نوره هم اوچته کړی او ثواب به ئې ورته ورکړی۔(۱)

عَبۡـدُ اللهِ بـن عُـمَـرُ رَضِـیَ اللهُ تَـعَالٰی عَنۡهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوۡلُ اللهِ ﷺ بُـنِـیَ الۡإِسۡلَامُ عَـلٰـی خَـمۡــسٍ شَهَادَةُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَ اَنَّ مُحَمَّدً رَّسُـوۡلُ اللهِ وَ اَقَـامُ الـصَّلٰوةِ وَ اِیۡتَآءُ الزَّ کٰوةِ وَ صَوۡمُ شَهۡرِ رَمۡضَانَ وَ حِجُّ الۡبَیۡتِ مَنِ اسۡتَطَاعَ اِلَیۡهِ سَبِیۡلاً۔(۲)

د حـضـرت عبـدالله بـن عـمـرؓ نـه روایت دې چې نبی کریم ﷺ اوفـرمـائیـل: د اسـلام بـنیاد په پنځو څیزونو باندې قائم کړې شوې دې۔ لَآاِلٰـهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللهِ۔ گواهی ورکول یعنی د دې حـقیقت کواهی ورکول چې د الله تعالیٰ نه سیوا هیڅوک د عبادت او بـنـده کـئ لائق نشته او محمد ﷺ د الله تعالیٰ بنده او رسول دې۔ مـونـځ کول، زکوٰة ورکول ، حج کول او د رمضان المبارک روژې نیول۔(۳)

د نبی علیه السلام نه روایت شوې چې نبی کریم ﷺ اوفـرمـائیل: کله چې الله تعالیٰ جبرائیل علیه السلام پیدا کړو په ډیر ښائسته شکل سره چې شپږ سوه وزرونه ئې وو، چې د هر یو اوږدوالې د

..........................................

(۱) جنتی کالې۔ صفحه ۴۴

(۲) رواه بخاری

(۳) بخاری۔ منتخب احادیث۔ صفحه ۱۵۲

شرق نه تر غرب پورې وو۔ دهٔ چې ځان ته او کتل چې ډېر ښائسته دې نو عرض ئې او کړو چې ای الله تعالیٰ! زما نه دې هم څوک ښائسته پیدا کړی۔ الله تعالیٰ جل جلاله' ورته اوفرمائیل نه! نو جبرائیل علیه السلام د شکر لپاره دوه رکعته لمونځ ادا کړو چې په هر رکعت کښې شل زره کاله اودریدو۔ کله چې فارغ شو نو الله تعالیٰ ورته اوفرمائیل: ای جبرائیل! تا زما په حقه او څنګه چې مناسب وو عبادت او کړو لیکن آخره زمانه کښې به یو نبی راځی چې زما دوست دې چه د هغه پاک نوم محمد ﷺ دې۔ د دهٔ یو کمزورې اُمت چې ګنهګار به وی۔ دوی دوه رکعته مونځ په لږ وخت او فکر او سوچ ډیر سره د سهو او نقصان کوی۔ زما دې په خپل عزت قسم وی چې د دوی مونځ ماته غوره دې ستا د مونځ نه ځکه دوی زما په امرْ عبادت کوی او ته بغیر د امر نه۔ جبرائیل علیه السلام عرض اوکړو ای ربّه! ته دوی ته بدله کښې څه ورکوې۔ الله تعالیٰ ورته اوفرمائیل: ما ورته بدله کښې جَنَّةُ الْمَأْوٰی ورکړې نو اجازت ئې اوغوښتو د الله تعالیٰ نه چې دوی اووینی نو اجازت ورته میلاؤ شو نو جبرائیل علیه السلام خپلې تولې وزرې خلاصې کړې او والوتلو۔ کله چې به ده دوه وزرې خلاصې کړې نو د درې زره کالو مسافت به ئې وهلو او کله چې به ئې تولولې نو هم به ئې دومره لاره وهله۔ نو کله چې عاجز شو د یوې وُنې سُوری ته راکوز شو او په سجده پریوتو او عرض ئې اوکړو چې ای ربّه! آیا نیمې یا دریمې یا څلورمې ته ئې رسیدلې یم؟ الله تعالیٰ ورته اوفرمائیل چې ای جبرائیل

بیا ئې اوفرمائیل پرې مې ده چې زه د خپل ربّ عبادت اوکړم۔ دا ئې وفرمائیل په مانځه اودریدو او ژړا ئې شروع کړه۔ تردې چې اوښکې ئې په سینه مبارکه اوبهیدې۔ بیا ئې رکوع اوکړه۔ په هغې کښې هم دغه شان ژړل۔ بیا ئې سجده اوکړه په هغې کښې ئې هم دغه شان ژړل۔ بیا د سجدې نه پاڅیدو په هغې کښې ئې هم دغه شان ژړل۔ تردې چې حضرت بلال راغې او د سحر مانځه دپاره ئې آوازورکړو۔ ما عرض اوکړو ای د الله تعالیٰ رسوله ﷺ! تاسو دومره اوژړل۔ حال دا دې چې تاسو گناه نه پاک یئ۔ مخکښې روستنی تول گناهونه (که چیرې بالفرض وی هم نو) د مغفرت وعده الله تعالیٰ کړې ده۔ نبی علیه السلام ارشاد اوفرمائیلو بیا زه شکر گزار بنده جوړ نه شم؟ دې نه پس ئې ارشاد اوفرمائیلو چې ما به داسې ولې نه کول حال دا دې چې نن په ما باندې دا آیتونه نازل شوی دی۔ اِنَّ فِیۡ خَلۡقِ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ. د سورة آل عمران آخری رکوع۔ اَقَامَةُ الۡحُجَّه۔(۱)

د حضرت عمران بن حسینؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل مونځ په ولاړه کوئ او که د څه عذر په وجه یو سړې نه شی کولې نو بیا دې په ناسته مونځ کوی او که په ناسته ئې هم نه شی کولې نو بیا دې ئې په ملاسته کوی۔(۲)

..................................

(۱) فضائل اعمال۔ حکایت الصحابه۔ صفحه ۸۴

(۲) بخاری

**تشریح**: د دې حدیث نه دا معلومه شوه چې په یو حالت کښې هم یو انسان ته د دې اجازت نشته چې دې مونځ پرېږدی او که په ملاسته هم نه شو کولې نو بیا ورته معاف دې چې ترڅو په ملاسته هم کولې شی ورته معافی نشته۔ اوس تاسو په دې زمانه کښې اوګورئ چې د یو انسان پـه سـر درد راشی نو ورپسې مونځ هم پرېږدی او که ورته اووائې چې ورشه خپل کار ته نو بیا په منډه راروان شی او بعض خلک دی چې د کـار نـه راشـی بیا ستړی وی نو په قرار اوده شی هیڅ د مانځه په قیـصه کښې نه وی۔ دا توله دوکه او فریب دې۔ د دې نه ځان اوساتئ او په هیڅ وجه سره مونځ مه پرېږدئ۔(۱)

نبـی علیه السلام فرمائیلی دی: مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ وَ مَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّه'.(۲)

تـرجـمـه:" چا چې مونځ اوکړو د ماسخوتن د جمعې سره لکه چې دې اودریدلې نیمه شپه او چا چې مونځ اوکړو د صبا په جمعې سره لکه چې ده مونځ اوکړو توله شپه"۔

**تشریح**: دا د مسلمانانو دپاره یو ډیر زبردست او لوئې زیرې دې چې د ماسخوتن او د سحر د مونځ په وجه توله شپه په عبادت کښې

(۱) د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۳

(۲) مسلم

حسابیږی چې دې اوده وی او فرشتې د ده په عملنامه کښې نیک اعمال لیکی خو شرط په کښې دا دې چې د ماسخوتن د مانځه نه پس خپل وخت په فضولیاتو کښې تیر نه کړی او د قرآن کریم نه څه لږه حصه تلاوت اوکړی یا تقریر تبلیغ اوکړی یا ذکر اذکار اوکړی۔ د دې حدیث نه دا معلومه شوه که چیرته دغه کس د ماسخوتن مانځه نه پس فلم اوکتلو یا تی وی ته کیناستو یا کانې ئې واوریدلې یا فضول مجلسونو کښې کیناستو نو شپه به ئې عبادت کښې نه شمار کیږی۔ الله تعالیٰ دې مونږ او تاسو ته توفیق راکړی چې خپل وخت په فضولیاتو کښې تیر نه کړو۔(۱)

وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ یُوْشَکُ اَنْ یَّاْتِیَ عَلَی النَّاسِ زَمَانٌ لَا یَبْقٰی مِنَ الْاِسْلَامِ اِلَّا اسْمُهٗ وَ لَا یَبْقٰی مِنَ الْقُرْاٰنِ اِلَّا اسْمُهٗ مَسَاجِدُهُمْ عَامِرَةٌ وَ هِیَ خَرَابٌ مِنَ الْهُدٰی عُلَمَاءُ هُمْ شَرٌّ مَنْ تَحْتِ اَدِیْمِ السَّمَآءِ مِنْ عِنْدِهِمْ تَخْرُجُ الْفِتْنَةُ وَ فِیْهِمْ تَعُوْدُ (۲)

او نبی کریم ﷺ اوفرمائیل قریب ده چې راشی په خلکو باندې یو زمانه باقی به نه وی پاتې د اسلام ته مگر د هغه نوم او نه به وی پاتې د قرآن نه مگر د هغه نقش د به خلکو جوماتونه به آباد وی او هغه به ویران (خراب) وی د هدایت نه د هغه [illegible] به ډیر باکاروی د آسمان

..............................

(۱) د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۳

(۲) البیهقي.۱۲

د څرمن د لاندې د هغوی نه به فتنه رااوځی او هم هغوی ته به واپس کیږی- په دې حدیث کښې د قیامت یو څو نخښې ښودلې شوې دی-

(۱) اول خو دا چې اسلام به په کتابونو کښې موجود وی- په زړونو کښې به نه وی- په نورو الفاظو سره چې دا به مسلمان وی خو هغه به د اسلام نه او اسلام به د ده نه لرې وی-(۱)

(۲) د قیامت دویمه علامه به دا وی چې خلک به د قرآن پاک د عمل په نیت نه زده کوی بلکه خلکو ته ښودنې دپاره به ئې زده کوی او هغوی به صرف حرفونه او مخرجونه زده کولو پوره کوشش کوی او څه چې د قرآن کریم مقصد دې چې د دې اوامر او نواهی زده کړی او عمل پرې اوکړی نو دې نه به دا خلک په میلونو لرې وی- (۲)

(۳) په حدیث شریف کښې د قیامت نخښې بیان کړی دی چې جماتونه به په ظاهره د خلکو نه ډک وی خو جماتونو ته د راتللو والا مقصد به عبادت نه وی بلکه دوی به جماتونو کښې کینی او دنیاوی او فضول خبرې به کوی یا دویم مطلب دا دې چې جماتونه به په ظاهره ډیر ښائسته او په دې کښې قالینونه او فانوسونه وغیره به وی خو مونځ گذاره به صرف په نوم وی- (۳)

..............................

(۱) مظاهر حق

(۲) کتاب مرقات

(۳) کتاب مرقات

(۴) دلته د علماء نه مراد صرف علماء نه دی بلکه دلته علماء سوء یعني باطل دی۔ دوی به د هغه زماني ظلم کوونکی ته ښودنه کوی نو هغه ظلم کولو والا به دوی ته هم بدي ردي او کنځل کوی نو دا علماء ډیر خراب مخلوق شو۔ ولي چي د دوی کارخو دا وو چي دا ظالمان ئي پوهه کړی وي او دوی ئي دین طرف ته رابنکلي وي نو ظلم به دوی طرف ته راکرځی او هغه ظالمان خلق به په دوی هم مسلط کیږی که دوی دي ظالمانو ته ښودنه نه کوله نو په دي وعید کښي به داخل نه وو۔ (۱)

دا حدیث په مشکوٰة کښي کتاب العلم صفحه ۳۸ باندي دي۔(۲)

ای زما محترمو مسلمانانو ورونو! الله جل جلاله' مونږ پیدا کړی یُو صرف عبادت دپاره ځکه الله تعالیٰ په قرآن کریم کښي فرمائیلی دی۔ وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ ﴿۵۶﴾

الله تعالیٰ فرمائیلی دی چي ما نه دی پیدا کړی پیریان او انسانان مګر عبادت دپاره"۔

مونږ او تاسو مسلمانان باید د الله تعالیٰ عبادت ډیر او کړو ځکه چي اصلی مقصد زمونږ عبادت دي، دا نور کارونه صرف د دنیا معاملي دی۔ عبادت ځکه ډیر زیات او کړو چي مرګ او ژوند هیڅ پته

..................................

(۱) مظاهرحق

(۲) روضة الطالبیه شرح زاد الطالبین۔ صفحه ۴۲۴

نـه لـګـئ چې کله به وفات کیږو۔ د وفات نه مخکښې دا سوچ او فکر پکار دې چې مونږه ځان د مرګ دپاره تیار کړو۔ د تیارولو نه دا مطلب چې ځان له توخه د نیک اعمالو برابره کړو ځکه چې نیک عمل په قبر او په میدانِ حشر کښې هر ځائ کښې انسان سره وی۔

عَنْ اَنَسْ بن مَالک رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یَتْبَعُ الْمَیِّتُ ثَلٰثَةٌ فَیَرْجِعُ اِثْنَانِ وَ یَبْقٰی مَعَه' وَاحِدٌ یَتْبَعُه' اَهْلُه' وَ مَالُه' وَ عَمَلُه' فَیَرْجِعُ اَهْلُه' وَ مَالُه' وَ یَبْقٰی عَمَلُه'.

د حضرت انسؓ نـه روایت دې چې رسول الله ﷺ فرمائیلی دې چې سړی سره قبر ته درې څیزونه ځی۔ په هغې کښې دوه څیزونه واپس راځی او هغه سره یو څیز باقی پاتې کیږی۔ هغه سره د هغه رشته دار، د هغه مال او د هغه عمل ځی۔ خو د دهٔ رشته دار او د دهٔ مال واپس راځی او دهٔ سره د دهٔ عمل باقی پاتې کیږی۔

**تشریح**: د حدیث مطلب دا دې لکه څنګه چې دنیاوی ژوند کښې یو سړې د یو ځائ نه بل ځائ ته سفر کوی نو د دې په مناسبت سره د سامان تیاری کوی۔ څومره چې اوږد سفر وی نو هم هغه هومره د لارې د سامان تیاری کوی۔ نو دغه شان سړې به د آخرت طرف ته سفر کوی او بیا هلته د همیشه همیشه دپاره اوسیدل دی نو د عقل خاوندان د هغه ځائ دپاره هم توښه تیاروی۔ په دې حدیث کښې ډیر په ښائسته طریقې سره د دې خبرې طرف ته توجه ګرځولې شوې ده چې

انسان په دنیا کښې چې څه غواړی نو اودې کړی خو یو ورځ به د آخرت طرف ته سفر کوی او ټول څیزونه به هم دلته پریږدی او ځی به۔ مال، اولاد بـه د قبـر پورې او واپس به راځی۔ په عربو کښې مال هم قبرستان تـه د اوړلـو رواج وو او عـمل یو داسې ملګرې دې چې همیشه به هغه سره وی او تر محشر پورې به هغه سره ځی۔(۱)

بهرحال مسلمانانو ورونو بهترینه توبه دا ده۔

حضرت کُمیلؓ فرمائی چې زه یو وارې حضرت علیؓ سره روان ووم۔ هـغـه یـو ځـنګل ته اورسیدو۔ بیا یوې مقبرې طرف ته ئې مخ کـړو۔ وې فـرمائیل ای مقبرې والو! ای وراسته شوی خلکو! ای د ویرې او یـواځـی والـی خـلـکـو! څــه خبره ده، څـه حال دې۔ بیا ئې اراشد اوفـرمـائیـلـو: زمـونږ خبر خو دا دې چې ستاسو نه پس ستاسو مالونه تـقسیـم شول، اولاد مو یتیمان شول، ښځو مو نور خاوندان اوکړل۔ دا خـو زمـونږ خبر دې، څه خپل هم اووایئ۔ دې نه پس ما طرف ته ئې اوکتـل۔ وې فـرمائیل: کُمیله! که چیرې دې خلکو ته د وئیلو اجازت وې او دوی وئیـلې شوې نو دوی به په جواب کښې وئیل چې بهترینه تـوښه تقویٰ ده۔ دا ئې اووئیل په ژړا شو او وې فرمائیل: ای کُمیله! قبر د عمل صندوق دې او د مرګ په وخت به خبره معلومه شی۔(۲)

..................................

(۱) روضة الطالبین۔ صفحه ۲۳۸

(۲) منتخب کنزل۔ فضائل اعمال۔ حکایت الصحابه۔ صفحه ۷۸

نبی کریم ﷺ یو واري صحابه کرامؓ ته ارشاد اوفرمائیلو چې تاسو ته معلومه ده چې ستاسو مثال او ستاسو د بال بچ او عملونو مثال څه دی؟ د اصحابوؓ په پوښتنه نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: د دې مثال داسې دې لکه چې د یو سړی درې ورونه وی او هغه مړ کیږی۔ دغه وخت یو ورور رااوبلی او پوښتنه ترې اوکړی چې روره تاته زما حال معلوم دې چې په ما څه تیریږی۔ دا وخت به ته زما څه مدد اوکړې؟ هغه جواب ورکوی چې ستا دارو دُرمل، علاج او هر قسمه خدمت به اوکړم۔ کله چې ته مړ شې، غسل به درکړم، کفن به درته واغوندوم او په اوږه به دې اوچت کړم، یو به دې سم او دفن کولو نه پس به ستا ذکر خیر کوم۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: دا رور بال بچ دې۔ بیا هغه دویم رور نه هم دغسې سوال کوی۔ هغه ورته وائی چې زما او ستا تعلق د ژوندہ پورې دې۔ کله چې ته مړ شې نو زهٔ به بل ځائ ته لاړ شم۔ دا رور مال دې۔ بیا هغه دریم رور رااوبلی، پوښتنه ترې اوکړی۔ هغه ورته وائی چې زهٔ به په قبر کښې ستا ملګرې یم۔ د ویرې په ځائ کښې به ستا زړهٔ خوشحالوم۔ کله چې ستا حساب کتاب کیږی نو د نیکئ په چابړی کښې کینم، هغه به دَرنوم۔ دا رور عمل دې۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: اوس اوښایئ کوم رور فائده مند شو۔ صحابه کرامؓ عرض اوکړو ای د الله تعالیٰ رسوله ﷺ! بس دا رور فائده مند دې۔ رومبی دواړه خو بې فائدې شو۔ (۱)

............................

(۱) فضائل اعمال۔ حکایت الصحابه۔ صفحه ۷۹

الله تعالیٰ دې مونږه او تاسو ته توفیق راکړی چې مینه او محبت د عبادت سره پیدا کړو او په شوق سره د الله تعالیٰ عبادت او کړو۔ آمین

☆☆☆

# تقریر په بیان د ریاء کښې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَ نَسْتَعِیْنُهٗ وَ نَسْتَغْفِرُهٗ وَ نُؤْمِنُ بِهٖ وَ نَتَوَكَّلُ عَلَیْهِ وَ نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَ مِنْ سَیِّاٰتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَ مَنْ یُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِیَ لَهٗ ط وَ نَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَا ضِدَّلَهٗ وَ لَا نِدَّ لَهٗ وَ لَا شَبِیْهَ لَهٗ وَ لَا مِثْلَ لَهٗ وَ لَا مِثَالَ لَهٗ وَ نَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَ رَسُوْلُهٗ وَ هُوَ خَاتَمُ النَّبِیِّیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَیَاَیُّهَا النَّاسُ قَدْ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰی فِیْ كِتَابِهِ الْمَجِیْدِ وَ فُرْقَانَ الْحَمِیْدِ.

فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰی كَالَّذِیْ یُنْفِقُ مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ.

خوږو او کرانو عزتمندو مشرانو کشرانو! ما ستاسو په مخکښې

د قرآن کریم یو آیت د سورة البقرة د دریمې سپارې نه تلاوت کړو۔ انشاء الله العزیز چې په ډیرو لنډو تیزو تندو الفاظو کښې زه د دې آیت مختصره ترجمه او تشریه ستاسو په مخکښې بیانوم۔ الله تبارک و تعالیٰ دې اول ماته توفیق د صحیح وینا راکړی او د هغې نه وروستو دې پرې مونږ ټولو ته توفیق د عمل راکړی۔آمین ۔

الله جل شانه' فرمائی: يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى كَالَّذِىْ يُنْفِقُ مَالَه' رِئَآءَ النَّاسِ.

ترجمه:"ای د ایمان خاوندانو خپلې صدقې په احسان او تکلیف رسولو باندې مه ضائع کوئ په شان د هغه څوک چې ورکوی مال خپل دپاره د ښودنې د خلکو"۔

د حضرت عبدالله بن عباسؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې الله تعالیٰ کله جنت عدن پیدا کړو نو په هغې کښې ئې داسې څیزونه پیدا کړل چې نه خو کومې سترګې لیدلی او نه کومو غوږونو اوریدلی وو او نه د کوم بشر په زړهٔ کښې د هغې خیال راغلې دې۔ بیا ئې جنت ته اوفرمائیل: خبره کوه۔ نو هغه اووئیل مؤمنان کامیاب شول۔ درې ځله ئې اووئیل په هر بخیل او ریاکار باندې حرام یم۔(۱)

..............................

(۱) تفسیر ابن کثیر

د رسـول الله ﷺ ارشـاد مبارک دي چې تاسو د غم د کـوهـی نه پناه اوغواړئ. صحابه کرامو عرض اوکړو چې د غم کوهې څـه څیز دې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل دوزخ کښې یو کوهې دې چـې د هـغې نه روزانه په خپله دوزخ څلورسوه ځله پناه غواړی. عـرض اوکـړې شـو چې هغې ته به څوک ځی. وې فرمائیل: د خپلو عـمـلـونـو ښـودونکی عبادت کوونکی به ځی. یعنی کوم کس چې عبـادت دې ډپـاره کـوی چـې خلک ماته ښه اووائی او خلکو ته ځان ښایی، دغه قسمه خلک به دغه کوهی ته ځی.(۱)

د حضرت عمر بن خطابؓ نه روایت دې چې یوه ورځ د مسجد نبـویؐ پـه طـرف اووتلم نو ومې لیدو چې معاذ بن جبلؓ ناست وو د رسـول الله ﷺ قبر مبارک سره ئې ژړل. پس اووئیل عمر بن خطابؓ ای معاذه! ولې ژاړې (یعنی د رسول الله ﷺ جدایی دې ژړوی. وې فرمائیل چې ژاړم په دې چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چې لږه ریا هم شرک دې.(۲)

**عَنْ شَدَاد بن اوس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ مَنْ صَلّٰی یُرَائِی فَقَدْ اَشْرَکَ وَ مَنْ صَامَ یُرَائِیْ فَقَدْ اَشْرَکَ وَ مَنْ تَصَدَّقَ یُرَائِیْ فَقَدْ اَشْرَکَ.**(۳)

..................................

(۱) ترغیب او ترهیب (۲) ابن ماجه

(۳) رواه احمد

ترجمه:" د حضرت شداد بن اوسؓ نه روایت دي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چا چې د ښودنې په خیال مونځ اوکړو، ده شرک اوکړو او چا چې د ښودنې په خیال روژه اونیوله، ده شرک اوکړو او چا چې د ښودنې په خیال صدقه ورکړه، ده شرک اوکړو۔(۱)

د حضرت محمود بن لبیدؓ نه روایت دي چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې په کوم څیز زه په تاسو ډیر ډیرېږمه هغه شرک اصغر دې۔ عرض اوکړې شو چې ای د الله تعالیٰ رسوله ﷺ! شرک اصغر څه څیز دې۔ وې فرمائیل ریا ده۔(۲)

د ریا په باره کښې چې څومره حدیث نبویؐ ذکر شول نو غور کول پکار دی په حال د هغه چا چې په دنیا کښې مونځ، روژه او خیرات کوی۔ ځان هم کړاوی، مال هم خرچ کوی او په ورځ د حساب او کتاب کښې به د الله تعالیٰ په حضور کښې هم د خپل عمل په وجه ذلیل او خوار ولاړ وی او دا څه د تعجب خبره نه ده ځکه چې هر هغه څوک که د الله تعالیٰ د رضا کوم عمل کوی نو الله تعالیٰ حاضر او ناظر دې۔ د پټو خبرو نه خبردار دې۔ د قیامت د ورځې واکدار دې او که په دې د چا ایمان او یقین وی نو بیا ئې بندګانو ته د ښودنې هیڅ حاجت نشته او که فرض کړه څوک نیک عمل کوی او خلکو ته

............................

(۱) احمد (۲) بیهقی

پـرې ځـان ښـه کـوی چې خلک اووائی چې دا ډیر ښه عابد او زاهد او سخی ځوان دې نو دې ځکه په ځائ د ثواب د عذاب مستحق دې چې د دهٔ نه په الله تعالیٰ یقین شته او نه په ورځ د قیامت او که وی نو بنده ته ئې د ښـودنې څه حاجت نشته۔ دا رنګ د محققینو علماء هم په دې خبره فتویٰ ده چې ریا شرک دې او د مشرک ځائ جهنم دې۔

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ كَمْ مِّنْ صَائِمٍ لَیْسَ لَهٗ مِنْ صِیَامِهٖ اِلَّا الظَّمَاءُ وَ كَمْ مِّنْ قَائِمٍ لَیْسَ لَهٗ مِنْ قِیَامَةٍ اِلَّا السَّهَرُ.(۱)

ترجمه:"د حضرت ابو هریرهؓ نه رویت دې چې نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چې ډیر روژه دار داسې دی چې هغوی ته بغیر د تندې او د لوږې نه نور څه ورنه کرې شی او ډیر داسې د شپې بیدارونکی کسان دی چې هغوی ته بغیر د خپلې ستومانئ او بې خوبئ نه نور څه حاصل نه شی۔(۲)

**تشریح:** او دا ځکه چې روژه دار کله د ګناهونو، بهتان، دروغ او غیبت نه پرهیز ونه کړی او روژه د ثواب په نیت ونه ساتی نو بل څه ورته نه حاصلیږی بغتر د لوږې او تندې نه۔ اګر که قضاء یې د ذمې څخه ساقطه شوه۔ همدارنګه حکم د تجهد کوونکی هم دې چې د

................................

(۱) اخرجه الدارمی

(۲) رواه الدارمی

ریاکارۍ لپاره وی او د اخلاص لپاره نه وی نو صرف بیخوبی ورته حاصله شوه۔

بهرحال هر کار اخلاص، تواضع او آرام سره کول پکار دی څکه چې نبی کریم ﷺ مونږ ته خبر راکوی چې کورۍ ډیر خلک خپلې روژې خرابوی او ډیر خلق تو له شپه اودرېږی بیا هم ورته فائده نه وی۔ تاسو داسې مه کوئ۔

**حکایت:** نقل دی چې یو عبادت کونکی عبادت شروع کړو۔ کله چې د الله تعالیٰ دې قول (اِیَّاکَ نَعْبُدُ) خالص ستا عبادت کوو ته اورسیدو نو د هغه په زړهٔ کښې دا خبره تیره شوه چې واقعی هغه عابد دې۔ چا د هغه په زړهٔ کښې رو غوندې آواز ورکړو چې ته دروغژن ئې۔ ته خو صرف د مخلوق عبادت کوې۔ دا ئې واوریده توبه ئې اوویستله او د خلقو نه بالکل جدا شو۔ دې نه پس مانځه ته اودریدو۔ کله چې اِیَّاکَ نَعْبُدُ ته اورسیدو نو آواز راغې چې ته خو دروغژن ئې۔ ته خو د خپلې بی بی عبادت کوې۔ هغه ښځې له طلاق ورکړو۔ بیا ئې مونځ شروع کړو۔ کله چې اِیَّاکَ نَعْبُدُ ته اورسیدو نو آواز راغې چې ته دروغژن ئې۔ ته خو د خپل مال عبادت کوې۔ هغه خپل تول مال صدقه کړو۔ دې نه پس ئې بیا مونځ شروع کړو۔ کله چې اِیَّاکَ نَعْبُدُ ته اورسیدو نو آواز راورسیدو چې ته دروغژن ئې۔ ته خو د خپلو کپړو عبادت کوې نو هغه خپلې کپړې هم خیرات کړې۔ صرف د خپل ضرورت او ستر (عورت) پټولو دپاره ئې اوساتلې۔ بیا هغه مونځ شروع

کړو او کله چې اِيَّاکَ نَعْبُدُ ته اورسيدو نو آواز راغې چې که ته رښتوني
ئې نو واقعي عبادت کزارو کې ئې- والله اعلم بالصواب (۱)

عَـنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ
اِنَّ اللهَ لاَ يَنْظُرُ اِلٰی صُوَرِکُمْ وَ اَمْوَالِکُمْ وَ لٰکِنْ يَنْظُرُ اِلٰی قُلُوْبِکُمْ وَ
اَعْمَالِکُمْ. (۲)

ترجمه:" د حضرت ابی هريرهؓ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې الله تعالیٰ ستاسو شکلونو او مالونو ته نه کوری بلکې الله تعالیٰ ستاسو زړونو او عملونو ته کوری چې ستاسو عملونه د الله تعالیٰ د رضا دپاره دی او که نه"۔(۳)

محترمو عزتمندو! هريو کار بايد مونږ او تاسو په ډير اخلاص په صحيح نيت سره اوکړو ځکه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ ۔بيشکه ټولو (شرعی) عملونو دارومدار په نيتونو باندې دې۔صحابه کرامؓ به هريو کار به ئې د الله تعالیٰ د رضا دپاره کولو۔

حضرت علیؓ يوه ورځ روان وو چې يو کافر ئې مخې ته راغلو۔ کافر چې دهٔ ته اوکتل نو نيت ئې بد کړو۔ان چې دهٔ سره ئې لاس واچول۔حضرت علیؓ نه خو د هغه ره ځه سپوره ستغه يا ترخه خبره

..............................

(۱) حکايات عجيبه۔صفحه ۲۴

(۲) رواه مسلم (۳) مسلم

کړي وه او نـه ئـې څه زیان تاوان وررسولې وو۔ دهٔ دغه کافر ته اووئیل چې تـه ولـې اوبـه څـروې۔ زه الله تعالیٰ په نیغه لاره واړوه۔ خپل کار کـوه۔ کـافـر چې د الله تعالیٰ نوم واوریدو نو هسې لکه د سُور اور لمبه شـو او الله تـعـالـیٰ ته په اوتو بوتو وئیلو سر شو۔ تردې چې د حضرت عـلـیؓ صبـر تمام شو او تُورې ته ئې لاس کړو۔ دا کافر هم خپل زور ته غاوره وو۔ هـغـه هـم تُوره راوبنکله او په حضرت علیؓ ئې گذار اوکړو۔ حضرت علیؓ خو ځان بچ کړو او دواړه سره په پرخُولو شول۔ کافر هم ډیر غـټ پـټ او بنهٔ مضبوط وو۔ ولې شیرِ د خدائ ته کله ټینګیدې شو۔ حـضـرت عـلـیؓ ورتـه یـوه لـنګتی اړمه کړه او درز شو چې زمکې ته ئې راخـلاص کـړو او پـه سیـنـه ئې جُخت کیناستو او تُوره ئې ورله په مرۍ کیښـودهـ۔ چـې دغه کم بخت د لاندې نه په مخ تو کانې تو کړل۔ په دې حـضـرت علیؓ له ډیر سخت قهر ورغلو۔ ولې سمدستی د کافر د سینې نه پاځیدو، تُوره ئې په تیکې کښې دننه کړه۔ کافر خو ځان مړ گڼلې وو، ولې چې حضرت علیؓ دهٔ ته هیڅ ونه وئیل نو په خپله حیران شو چې دا څـه وو او څـه راواوشـول۔ دهٔ د حـضـرت علیؓ نه پوښتنه اوکړه چې ای عـلـیؓ! زهٔ خو ستا په پنجه کښې کیر ووم او ځان مې درنه په هیڅ دستور نـه شو خلاصولې۔ دا څه چل اوشو چې زهٔ دې پریښودم۔ حضرت علیؓ ورتـه اووئیـل چې ای کافره! اول چې ته ما راواوپرخولې او ستا د وژلو اراده مې اوکړه نو هغه د الله تعالیٰ دپاره وه۔ زما په کښې هیڅ ځانی عرض نه وو۔ ولـې چـې تا زما په مخ تو کړل نو ماته په خپلې دې بې عزتی سخت

قهر راغلو او د بدل اخستو خيال مې زړهٔ کښې تير شو۔ نو که دغه وخت مې ته وژلې وې نو دا به د الله تعالیٰ دپاره نه وو بلکې په دې به ما خپل بدل اخستې وې۔

کافر چې د حضرت علیؓ دا خبره واوريدله نو حيران پاتې شو او په هغهٔ د دې واقعې دومره اثر اوشو چې دسمدستی ئې کلمه اووئيله او مسلمان شو۔

د حضرت جندبؓ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې هر هغه کس چې خلکو ته د اورولو دپاره کوم عمل کوی نو وابه وری خلکو ته الله تعالیٰ دغه عمل د ده (يعنی د دهٔ عيب به خلکو ته الله تعالیٰ ښکاره کړی او خلکو ته به ذليل او سپک معلوم شی او کوم سړې چې ريا کوی نو د رياکارو غوندې معامله به ورسره الله تعالیٰ اوکړی (يعنی د قيامت په ورځ به ورته اوفرمائی چې ته خپله بدله د غير الله نه اوغواړه۔(۱)

د حضرت عبدالله بن عمروؓ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ما واوريدل چې کوم سړې خپل عمل خلکو ته رسول غواړی (يعنی دا ئې رضا وی چې زما دا نيک عمل دې په خلکو کښې ښکاره شی نو الله تعالیٰ به ئې د خلکو غوږونو ته ورسوی چې دا سړې رياکار دې او د خلکو په نظر کښې به ئې ذليل او سپک

..................................

بخاری و مسلم

ښکاره کړی۔ (۱)

د حضرت علیؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې د ریاکارو څلور نخښې دی۔ (۱) کله چې ځانته وی نو سست وی په عبادت کښې۔(۲) کله چې د خلکو سره وی نو چستی ښائی یعنی زیات عبادت کوی۔(۳) کله چې د هغه تعریف اوکړې شی نو نور کار کوی۔(۴) او کله چې ئې مذمت اوکړې شی نو مخکښې هم پریږدی۔(۲)

فقیهؒ فرمائی چې څوک په آخرت کښې د خپل عمل د ثواب طالب وی نو هغه له پکار دی چې هغه بغیر د ریاکارۍ نه خالص د الله تعالیٰ د رضا دپاره عمل اوکړی۔ بیا دې دا عمل هیر کړی دپاره د دې چې تکبر د دهٔ عمل باطل نه کړی ځکه وئیلې کیږی چې د نیکۍ حفاظت د هغې د کولو نه زیات مشکل دې۔(۳)

په صحیح مسلم کښې له حضرت ابو هریرهؓ څخه روایت دې چې مونږ له رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې د قیامت په ورځ به په هغو خلکو کښې چې ترټولو له مخه به ئې فیصله کیږی یو هغه سړې وی چې شهید شوې وی۔ هغه به الٰهی دربار ته حاضر کړې شی۔ الله تعالیٰ به هغه ته خپل نعمتونه وریه یاد کړی۔ دې به هغه

..................................

(۱) بیهقی (۲) تنبیه الغافلین

(۳) تنبیه الغافلین

اوپیـژنی۔ وروستـه به الله تعالیٰ اوفرمائی۔ تا زما د رضا لپاره څه عمل اوکـړو؟ دې بـه عرض اوکړی یا الله! ما ستا په لاره کښې جهاد اوکړو۔ ترڅو چې شهید شوم۔ الله تعالیٰ به اوفرمائی تا دروغ اووئیل۔ ته خو د دې لپـاره جنګیدلې وې چې تا ته غښتلې او دلاوره اووئیل شی نو تا ته په دنیا کښې بهادر او زړه ور اووئیل شول۔ وروسته به د دهٔ په باره کښې حـکـم ورکـړی چـې پـړمخې دې په کشولو سره دوزخ ته واچول شی۔ دوهـم به هغه سړې راوستلې شی چې علم ئې حاصل کړې وی او نورو تـه ئـې هم ورزده کړې وی او قرآن کریم ئې وئیلې وی۔ الله تعالیٰ به دهٔ تـه خپـل نـعمتونه ورپه یاد کړی۔ دې به ئې اوپیژنی۔ وروستـه به الله تـعـالـیٰ پوښتنه ځینې اوکړی چې تا زما د رضا دپاره څه عمل اوکړو؟ دې به اووائی، ما علم حاصل کړو او نورو ته مې هم ورزده کړو او ستا د رضـا لپاره مې قرآن اووایه۔ الله تعالیٰ به اوفرمائی: تا دروغ اووئیل۔ تا خو علم د دې لپاره حاصل کړې وو چې تا ته عالم اووئیلې شی او قرآن کـریـم دې د دې لپـاره اووایه چې ته قاری اووئیل شې نو په تحقیق سره تـاتـه پـه دنیـا کښـې دغسـې اووئیـل شُـو۔ د دهٔ په باره کښې به حکم ورکـړی چې دې دې پړمخې په کشولو سره دوزخ ته واچولې شی۔ دریم بـه هـغـه سـړې راوستـې شی چې دهٔ ته الله تعالیٰ د ... فراخی ورکړی ...ی۔ دولت او دارا ئې ورکړی وی۔ الله تعالیٰ به دهٔ ته خپل نعمتونه ور ... یـاد کـړی۔ دې بـه هغه اوپیژنی۔ نو الله تعالیٰ به اوفرمائی: تا زما د ...سا لپـاره څه عمل اوکړو؟ دې به عرض اوکړی ما ستا په لاره کښې

بـه ډيـر مـالونه خرڅ کړی دی۔ خواران او غريبان مې ماړهٔ کړی دی۔ الله تـعـالـیٰ بـه اوفرمائی: تا دروغ اووئيل۔ تا خو دا هر څه د دې لپاره اوکـړل چـې تـاتـه لوئې سخی اووئيل شی نو په تحقيق سره تاته په دنيا کښې سخی اووئيلې شو۔ بيا به د دهٔ په باره کښې حکم ورکړی چې دې دې پړمخې په کشولو سره دوزخ ته واچولې شی۔(۱)

په يو حديث کښې راغلی دی چې د قيامت په ورځ د حشر په ميـدان کښې به يو آواز کوونکې آواز اوکړی چې چا په څه عمل کښې بـل شـريک کړې وی هـغـه دې د هغې بدله د هغه نه اوغواړی۔ الله تعالیٰ په تولو شريکانو کښې د شرکت نه ډير زيات بې نيازه دې۔

د حـضرت ابو هريرهؓ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ اوفـرمـائيـل: چـا چـې هغه زده کړلو کوم چې د الله تعالیٰ د رضا دپاره حـاصلولې شی خو دې صرف د دنياوی نفعې دپاره زده کړې وی نو د جـنـت عـرف بـه هـم مـحسـوس نه کړی يعنی د جنت بوئ به هم محسوس نه کړی، جنت خو لا څه کوې۔(۲)

عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيَ بِهِ الْعُلَمَاءَ اَوْ لِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ اَوْ يَصْرِفَ بِهٖ وُجُوْهَ النَّاسِ اِلَيْهِ اَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ.(۳)

.................................

(۱) صحيح مسلم۔ کتاب الامارة۔ باب من قاتل للرياء والسمعة استحق النار

(۲) ابو داؤد (۳) رواه الترمذي

ترجمه:"د حضرت کعب بن مالک ؓ څخه روایت دې چې نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چا چې طلب د علم اوکړو د دې لپاره چې مقابله اوکړی په دې باندې د عالمانو سره یا د دې لپاره چې جګړه (جنګ) اوکړی په دې باندې د جاهلانو سره یا رااوګرځوی په دې باندې مخونه د خلقو ځانته، داخل به کړی ده لره الله تعالیٰ اور ته"۔

**فائده:**

یعنی کوم سړې چې علم د الله تعالیٰ د رضا په ځائ د نورو غرضونو په خاطر حاصل کړی نو د دې علم هیڅ فائده نشته۔ داسې عالم به الله تعالیٰ په جهنم کښې اوغورځوی۔ اوګوره څومره سخت وعید دې چې د الله تعالیٰ د رضا د حصول لپاره علم حاصلول نه وی۔ الله تعالیٰ دې مونږ ته د دې وید څخه خلاصې او امان راکړی۔

**نصیحت:** زما محترمو او عزتمندو مسلمانانو ورونو! تاسو ته د ریا بیان اوشو چې په ریاکارۍ کښې څومره ګناه ده۔ ابو بکر واسطی فرمائی چې د نیکۍ حفاظت د عمل نه زیات مشکل دې۔ د دې مثال د شیشې په شان دې چې زر ماتیږی او بیا واپس نه جوړیږی۔ دغه شان چې عمل لره کله ریاکاری مسح کوی نو ماتوی ئې او کله چې بنده ریاکاری اوکړی نو د ده عمل نه قبلیږی او د ځینې خلکو په زړه کښې دا خیال راځی چې زه خلکو ته ښه ښکاره شم۔ کوشش دې اوکړی چې سوچ هم د زړه نه اوباسی که نه شی کولې نو خیر دې۔ دا چې یو سړې مونځ یا ذکر یا تلاوت کوی خو د ده په زړه کښې دا راځی چې خلکو ته

ښه ښکاره شم پروا نه کوی۔ د داسې وسوسې په وجه به خپل عمل نه پرېږدی۔ ریا دې ته وئیلې شی چې یو کس یو عمل کوی چې خپل ځان خلکو ته اوښائی چې زهٔ خو هم یو سړې یم چې دا دا عملونه کوم۔ که په زړهٔ کښې ئې خاص د الله تعالیٰ رضا وی بیا خیر دې که شیطان ورته وسوسه اچوی خو زهٔ اکثر خلک گورم چې هغوی یو نیک کار اوکړی بیا ئې د هر چا په مخکښې یادوی چې ما نن دا کار کړې دې۔ دا هم یو قسم ریا ده۔ عمل خو هسې هم کوو خو ښه خبره دا ده چې زمونږ او ستاسو نیتونه صفا وی۔ الله تعالیٰ دې مونږ تولو ته توفیق راکړی چې خپل عمل د ریا نه پاک کړو او خاص د الله تعالیٰ د رضا دپاره ئې اوکړو چې الله تعالیٰ مونږ نه راضی شی۔ آمین

وَ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ وَ سَلَّمَ تَسْلِیْمًا کَثِیْرًا کَثِیْرًا

☆☆☆

☆

# د دُنیا قدر و قیمت

اِنَّا جَعَلۡنَا مَا عَلَى الۡاَرۡضِ زِيۡنَةً لَّهَا لِنَبۡلُوَهُمۡ اَيُّهُمۡ اَحۡسَنُ عَمَلًا ﴿٧﴾ وَ اِنَّا لَجٰعِلُوۡنَ مَا عَلَيۡهَا صَعِيۡدًا جُرُزًا ﴿٨﴾

ترجمه:"مونږه د زمکې د پاسه څیزونه د دې زمکې دپاره ښائست جوړ کړی دی چې مونږه د دې په ذریعه په خلکو باندې امتحان اوکړو چې په دوی کښې زیات ښه عمل څوک کوی۔ امتحان دا دې چې څوک د دې دُنیا په ښائست او رونق باندې مئین کیږی او د الله تعالیٰ او د آخرت نه غافله کیږی او څوک داسې نه کیږی"۔

غرض دا چې دا دُنیا د امتحان ځائ دې او دویم آیت مبارک ترجمه دا ده:

"او بیشکه کرخوو مونږ هغه شې چې په زمکه کښې دی۔ وچه ډاګه چې نه په دې څوک او سیدونکی پاتې شی نه څه وُنه او نه غرونه او نه څه ځائ او نه څه آبادی۔ لنډه دا چې یو شې به هم پاتې نه شی"۔

تاسو ته به لاندې د رسول الله ﷺ احادیث مبارک ذکر شی چې رسول الله ﷺ د دُنیا په باره کښې څه فرمائیلی دی۔ د حضرت جابرؓ نه روایت دې چې یو ځلې مونږه او رسول الله ﷺ د چیلی په یو داسې مړ بچی تیریدو چې غوږونه ئې واړه واړه وو۔ رسول الله ﷺ چې اولیدو، وې وئیل چې داسې

څوک شته چې دا مُرداره د چیلۍ بچې په یو درهم وخلي۔ دا تاسو خوښوئ؟ صحابه کرامو عرض اوکړو چې ای د الله تعالیٰ رسوله ﷺ! دا د هیڅ څیز په عوض کښې مونږه نه اخلو۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: قسم په الله تعالیٰ چې د الله تعالیٰ په نزد دنیا د دې نه هم زیاته ذلیله او سپکه ده۔ څرنګه چې ستاسو په نزد دا د چیلۍ بچې ذلیل او سپک ښکاری۔ (۱)

الله تبارک و تعالیٰ فرمائي: وَ مَا هٰذِهِ الْحَیٰوةُ الدُّنْیَا اِلَّا لَهْوٌ وَّ لَعِبٌ ط وَ اِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِیَ الْحَیَوَانُ لَوْ كَانُوْا یَعْلَمُوْنَ ﴿۶۴﴾ (۲)

ترجمه: "نه دی د دُنیا ژوند مګر صرف توقې لوبې دی۔ د آخرت کوړ د همیشه والی کور دې۔ کاش که دوی په دې پوهیدلې"۔

**فائده:**

په دې تلاوت شوی آیت مبارک کښې الله تعالیٰ خپلو بندګانو له د دُنیا نه زهد بې رغبتۍ او آخرت ته د مینې میلان کولو تلقین ورکوی یعنی مقصد دا شو چې په ژوند د دنیا او د هغې په دولتونو او نعمتونو دومره مه مشغوله کیږئ د آخرت نه بې پرواه شئ او عزت او دولت مقصود اوګرځوئ او آخرت هیر کړئ بلکه په ژوند کښې د آخرت کامیابی حاصله کړئ۔

..............................

(۱) مسلم

(۲) سورة العنکبوت

د حضرت سهل بن سعدؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ او فرمائیل: که چرې دا دنیا د الله تعالیٰ په نزد د ماشی د وزر هومره قدر او قیمت لرلې نو الله تعالیٰ به کافر ته یو کوټ اوبه هم نه وې ورکړې (یعنی کافر خو د الله تعالیٰ دښمن دې او دښمن ته څوک د فائدې څیز نه ورکوی۔(۱)

تاسو سوچ او کړئ چې دنیا الله تعالیٰ ته څومره ناخوښه ده چې خپل دښمن ته ئې هم ورکوی نو باید مونږه او تاسو دنیا سره محبت پیدا نه کړو ځکه چې دا دنیا الله تعالیٰ ته ناخوښه ده۔ مونږ او تاسو ته باید ناخوښه شی۔

وَ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَلَا اِنَّ الدُّنْیَا مَلْعُوْنَةٌ وَ مَلْعُوْنٌ مَا فِیْهَا اِلَّا ذِکْرُ اللّٰهِ وَ مَا وَالَاهُ وَ عَالِمٌ اَوْ مُتَعَلِّمٌ. (۲)

له حضرت ابی هریرهؓ نه روایت دې چې جنابِ محمد ﷺ فرمائیلی چې خبردار بیشکه دا دنیا ملعونه ده یعنی لعنت کړې شوې ده او ملعون دی هغه څه چې په دې کښې دی مګر د لعنت نه بچ ذکر د الله تعالیٰ دې یعنی ذاکرین"۔

لعنتیان نه دی او هغه څیز چې د الله تعالیٰ خوښ وی چې

---

(۱) ترمذی۔ ابن ماجه

(۲) رواه الترمذی و ابن ماجه

جماتٖ دي، دیني مدارس دي، عبادت خانې دي یا عابدان زاهدان دي او عالم د لعنت نه بچ دې او طالب علم د لعنت نه بچ دې۔ د دې دنیا متعلق عبدالرحمٰن بابا ښه ستائینه کړې ده۔ یو ځائ کښې فرمائي:

چا چې کړي دي دُنیا وته اسرې دي
د هغو په سر همه خورې ایرې دي
چې بې خدایه محبت کوي کوم خلق
ناریـنـه ئې واړه خره او ښځې ئې خرې دي

**حکایت**: یوه ورځ حضرت عیسیٰ علیه السلام په سفر روان وو۔ ورسره یو ملګری هم وو۔ دوی د ځان سره درې ډوډۍ واخستلې۔ څه لږ مزل چې ئې اوکړو نو هلته ئې دمه اوکړله۔ حضرت عیسیٰؑ څه حاجت پسې لاړو او ملګری ته ئې اوفرمائیل چې دلته کیښنه، زهٔ راځم۔ بیا به دا ډوډۍ او خورو۔ چې حضرت عیسیٰؑ واپس راغې، ډوډۍ ئې راواخستله نو دوه ډوډۍ دي دریمه ترینه هغه بل اشنا په پټه خوړلې وه۔ حضرت عیسیٰؑ ترینه تپوس اوکړو چه دریمه ډوډۍ چا خوړلې ده۔ هغه ورته اووئیل چې ماته پته نشته او منکر شولو۔ کله چې دوی ډوډۍ اوخوړله او روان شُو نو یو ځائ کښې حضرت عیسیٰؑ شګې راغونډې کړلې او درې ډیرې ئې ترینه جوړ کړل او ورته ئې اوفرمائیل چې کُوْنِیْ ذَهَبًا بِإِذْنِ اللّٰهِ سرهٔ زر شه په امر د الله تعالیٰ سره۔ پس سرهٔ زر ترینه جوړ شُو۔ حضرت عیسیٰؑ هغه خپل ملګری ته اوفرمائیل چې دا یو ډیرې ستا شو او دا بل زما شو او دا بل د هغه چا شو چې چا دریمه ډوډۍ خوړلې وی۔ دې سړی

د سرو زرو د لالچ په وجه خپله غلا ښکاره کړله او وې وئيل چې قسم په الله تـعـالـیٰ دې چـه هغه دريمه ډوډښ ما خوړلې ده۔ حضرت عيسیٰ ورتـه اوفـرمائيل چې دا يو ډيرې د خپله برخه ده او دا بل د ډوډۍ خوړلو بـرخه شوه او زما دا حصه دې انعام کښې شوه چې رښتيا دې اووئيل۔ زه درنـه لاړم او تـه خپـل مـال سنبهال کړه۔ حضرت عيسیٰ لاړو او دې د مـال د سـنبـالـی پـه تکل کې لګيا وو چې دې سره څه او کړمه۔ په دې کښـې وربـانـدې يـو سړې راغلو۔ ده چې د لرې نه اوليدو نو اشارې ورته کوی چې ديخوا مه راځه۔ هغه سړی سو چ او کړو چې خدائ کو څه چل خـو دې او راغـې چـې کوری د زرو درې ډيری پراته دی۔ هغه سړی ورته اووئيـل چـې دا تا ځکه وئيل چې ديخوا مه راځه۔ دې سړې ورته اووئيل چې يو ډيرې ستا شو بل زما شو او دا دريم به په مينځ نيم کړو خو شور مه کـوه چې څوک خبر نه شی۔ په دې کښې پرې يو بل سړې راغلو۔ دوی ورتـه اشـارې کـولې چې ديخوا مه راځه۔ هغه هم راغلو او ورته وائي چې ښه دا تاسو ځکه اشارې کولې۔ دوی ورته اووئيل چې راځه دا دريم ډيرې پـه کښې ستا شو خو ډير وخت اوشو اوږی شوی يُو څه مو نه دی خوړلی چـرته ډوډۍ پکار ده۔ دا دواړه ناست دی او دې بل ملګری ته ئې اووئيل چـې لاړشه او د بازار نه ډوډۍ راوړه چې ډوډۍ اوخورو نو بيا به دا مال په خپـل ميـنـځ کښې تقسيم کړو۔ دا کوم ملګرې چې ئې بازار ته ډوډۍ له تلې وو هغه سو چ کوی چې راشه په دې ډوډۍ کښې ورته زهر ګډ کړه نو تول مال به درته پاتې شی۔ بل طرف ته دا نور دوه کسان په خپل مينځ

کښې مشوره کوی چې دې واپس راشی نو مړ به ئې کړو او د هغه حصه ډیرې به په خپل مینځ کښې تقسیم کړو۔ چې هغه ملګرې ئې واپس راغلو نو دوی هغه مړ کړو خو چې ډوډۍ ته کیناستل او ډوډۍ ئې اوخوړله نو په هغې کښې خو زهر ګډ شوی وو۔ دوی هم مړه شول او سره زر هم داسې په ډاکه پاتې شول۔ درې ورځې پس چې حضرت عیسٰیؑ په دغه لاره راغلو نو چې ګوری درې واړه کسان مړه پراته دی۔ حضرت عیسٰیؑ بیا زرو ته اوفرمائیل چې کُونِیْ تُرَابًا (خاورې شئ) دا د مال د حرص نتیجه وه۔(۱)

د حضرت انس ؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې مړی سره تر قبره پورې درې څیزونه ځی۔ دوه څیزونه داسې دی چې هغه واپس راځی او دې یو اځې پریږدی او یو څیز ده سره پاتې کیږی۔ چنانچه اهل خپلوان د ده او مال د ده واپس راځی او صرف عمل ده سره پاتې کیږی۔ که ښهٔ عمل وی او که بد۔(۲)

**تشریح**: دې حدیث کښې مسلمانانو ته ډیر زیات لوئې عبرت ښکاره شو۔ هغه دا چې نن سبا ټول خلک خپل خپلوانو سره محبت کوی یا خپل مال سره او حال دا دې چې دا دواړه بې وفا شیان دی ځکه چې دا دواړه به ورسره تر قبره پورې ملګری وی چې کله دې دفن کړې شی نو

.....................................................

(۱) سیف الواعظین۔ صفحه ۵۵

(۲) بخاری، مسند

د دې نـه بـه خپـلـوان هم راځی او مال به هم راځی۔ چې هغه مال ئې کېټ او د کېټ د پاسه چې کومه کپړه خوره وی صرف د دې عمل به ورسـره پـاتې وی چې هغه نیک عمل وی او که بد عمل۔ دا څومره د افسـوس مقام دې چې خلک خپل دائمی ملګری سره محبت نه کوی او بـې وفـا مـلـګری سره محبت کوی نو باید مونږه او تاسو خپل دائمی مـلـګری سره محبت اوکړو چې هغه نیک عمل دې چې څوک نیک عـمـل اوکړی نو دا به ورسره په قبر کښې هم ملګرې وی او په آخرت کښـې همـده سره ملګرې وی چې جنت ته به ئې بوځی او که بد عمل وی نو دا به ورته په قبر کښې هم لوئې مصیبت وی او په آخرت کښې هـم ځکه چې انسان ته د بد عمل په وجه عذاب ملاویږی۔ الله تعالیٰ دې مونږ له توفیق راکړی چې نیک اعمال اوکړو۔آمین

**عَنْ عَبْدُ اللهِ بنِ عمر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اَخَذَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِمُنكبی فَقَالَ كُنْ فِی الدُّنْيَا كَاَنَّكَ غَرِيْبٌ اَوْ مَا عَابِرُ سَبِيْلٍ.(۱)**

تـرجـمـه:" حضرت عبدالله بن عمرؓ فرمائی چې حضور ﷺ زمـا اوږه اونیوله۔ بیا ئې اوفرمائیل چې په دنیا کښې دا رنګ اوسه لکه چې مسافر بلکه څرنګ چې په لاره تیریدونکی"۔

(۱) رواه بخاری

**يوه عجيبه واقعه**: په بنی اسرائیلو کښې يو سړې مړ شو۔ د هغه دوه ځامن وو۔ د هغوی ترمينځه د يو ديوال د تقسيم په سلسله کښې جګړه جوړه شوه۔ د جګړې په دوران کښې د هغې ديوان نه يو عجيبه غيبې آواز راغې چې تاسو جګړه مه کوئ ځکه چې زما حقيقت دا دې چې زهٔ ډيره موده په دې دنيا کښې بادشاه ووم۔ زه وفات شوم او زما بدن خاورو سره خاورې شو۔ بيا د هغې خاورې نه کولال لوښې جوړ کړو۔ ډيره موده د لوښی په صورت کښې پاتې کيدو نه پس زهٔ مات کړې شوم۔ بيا د ټيکرو په شکل کښې وو۔ آخر دا چې بيا د خاورې او شګې په شکل کښې بدل شوم۔ بيا چې موده پس زما د بدن د اجزاوو نه خلقو خښتې جوړې کړې لکه چې اوس مې تاسو وينئ نو تاسو به په داسې خراب او ناکاره څيز جګړه ولې کوئ۔ افسوس! ارمان! چې دا دُنيا ډيره دهوکه بازه ده۔ د فانی کيدلو باوجود د خلقو خوښه جوړه شوې ده او په خپل ظاهری رنګ روغن خلقو لره ګمراه کولو سره د آخرت نه په غفلت کښې غورځوی۔ (۱)

د حضرت ابو هريرهؓ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې بنده وائی چې زما مال، زما مال (يعنی په خپل مال او دولت فخر کوی او بهروسه پرې کوی چې ما سره مال دې حالانکه د دغه مال نه دهٔ له درې څيزونه دی چې هغه د دهٔ پکار راځی۔ يو هغه

(۱) خورې ملغلرې۔ صفحه ۳۶

چې وی خوړو۔ پس ختم شو۔ بل هغه چې وائي غوستو نو زوړ شو۔ دریم هغه چې د الله تعالیٰ په رضا ئې ورکړو او د آخرت دپاره ئې خزانه کړو او سیوا له دې نه تول مال چې څه دې وارثانو ته پاتې دې او دې تلونکې دې نن یا سبا۔(۱)

**حکایت**: حسن بصریؒ په ابتداء کښې جوهر فروش وو۔ لعلونه او ملغلرې به ئې خرڅولې۔ د لویو لویو خلقو سره ئې تعلقات وو۔ یوه ورځ ئې څه تحفې تیارې کړې وې او روم ته لاړو او د روم د بادشاه سره ئې د ملاقات اراده او کړه۔ وزیراعظم سره ملاؤ شو او ورته ئې اووئیل چې زهٔ صبا له د بادشاه سره ملاقات کول غواړم۔ وزیراعظم ورته اووئیل چې بادشاه صبا له په یو لوئي مهم روان دې او ستا ملاقات ورسره نشی کیدې او هغه د لیدلو خبره ده یوه تماشګاه ده زهٔ به ئې درته اوښایم۔ حسن بصریؒ ورته اوفرامئیل چې ډیره ښه ده چې صبا شو وزیراعظم صاحب حسن بصریؒ ته وائی راځه چې نن تاته د بادشاه هغه مهم اوښایم۔ وزیراعظم مخکښې دې او حسن بصریؒ ورپسې دې۔ د روم ښار نه بهر اووتل او په یوه مقبره ورداخل شول۔ هلته یو قبر دې، د قبر د پاسه یوه خیمه لګیدلې ده۔ د خیمې ستنې د سپینو زرو دی او تنابونه ئې د سرو زرو دی۔ وزیراعظم حسن بصریؒ ته وائی چې دلته کینه او تماشه کوه۔ حسن بصریؒ یو طرف ته لرې کیناستلو۔ لږ

................................

(۱) مسلم

ساعت پس څه کوری چې ډلې ډلې خلق د روم د ښار نه مقبرې ته راروان دی۔ د عالمانو ډله قبر له راغله۔ د طبیبانو ډله، د فوځیانو ډله۔ الغرض ډلې ډلې خلق راغلل۔ د عالمانو او پیرانو ډله قبر له راغله او څه دُعا ئې اوکړه او واپس لاړل۔ بیا د طبیبانو ډله قبر له راغله۔ هغوی هم دُعا اوکړه او واپس لاړل۔ بیا د وسله وال بند فوځونو ډله راغله۔ هغوی هم دُعا اوکړه او واپس لاړل۔ بیا ورپسې خائسته ځوانې ښځې راغلې چه په لاسونو کښې ورسره د لعلونو او جواهرو نه ډک تباخونه وو۔ هغوی هم د قبر نه تاؤ راتاؤ شوې او وې ژړل او واپس لاړې۔ د هغو نه پس بادشاه راغلو۔ قبر ته اودریدو۔ دا قبر د بادشاه د ځوئ وو۔ الله تعالیٰ ورله ډیره موده پس یو ځوئ ورکړې وو او بیا وفات شوې وو۔ بادشاه لاس اوچت کړو او په دُعا کښې وائی چې الله ځویه! تا نه چې چا روح اخستې دې که چرې نن هغه په منتونو او جرګو رضا کیدې شو نو ما به پرې دا د عالمانو ډله جرګه کړې وه او ستا روح به مې واپس کړې وو خو ولې ستا روح د هغه ذات په قبضه کښې دې چې هغه په خپل حکم کښې د چا جرګه او منت نه منی او ډیر ئې اوژړل او بیا ئې لاس اوچت کړو او وائی چې ای ځویه! له تا نه چې چا روح اخستې دې که نن ستا روح د علاج په ذریعه سره واپس کیدې شوې نو دا د حکیمانو، ډاکټرانو ډله ما سره موجوده ده ما به ستا هر قسمه علاج کړې وو خو افسوس دا دې چې ستا روح د هغه حکیم مطلق په قبضه کښې دې چه د هغه د حکمت د پاسه د

بـل چا حکمت نه چلیږی او ډیر ئې اوژړل او بیا ئې لاسونه اوچت کړل او وائـی چـې ای خـویه! له تا نه چې چا روح قبض کړې دې که نن ستا روح پـه زور او پـه طاقت سره واپس کیدې شوې نو دا تمام وسله بند فـوځـونـه به ما ستا په سر کښې قربان کړی وو لیکن افسوس دې چې ستـا روح د هغه ذات په قبضه کښې دې چې د هغه طاقت په مقابله کښـې د بـل چا طاقت نه چلیږی۔ ډیر ئې اوژړل او بیا ئې لاسونه پورته کـړل او وائـی چې ای خویه! له تانه چې چا روح اخستې دې که نن ستا روح د خائسته ښځو په لالچ سره او په دولت سره واپس کیدې شوې نو دا خـائستـه ښـځـې دا ټول دولتونه به ما ورکړی وو او ستا روح به مې واپس کړې وو لیکن افسوس چې ستا روح د هغه ذات په قبضه کښې دې چې هغه د چا د دولت محتاج نه دې۔ نو زهٔ له تانه رخصت اخلم۔ ډیرئې اوژړل او نامراده راواپس شو۔ حسن بصریؒ وائی چې ما دا معامله اولیـدلـه د الله تـعالیٰ یو حکم راغې نو د دنیا ټول قوتونه ئې نیست او نـابود کړل نو ما د هغې ورځې نه د دنیا جوهر فروشی پریخودله او ما د آخـرت دپـاره تیـاری شروع کړه څنکه چې ما اولیدل چې منت کار نه کوی، طاقت کار نه کوی۔(۱)

د حـضـرت ابـن مسـعـودؓ نـه روایـت دې چـې رسـول الله ﷺ د کهـجـورو پـوزکی باندې اوده وو۔ څه وخت چې پورته

..................................

(۱) سیف الواعظین۔ صفحه ۵۹

شو نو په بدن مبارک ئې د پوزکی چاپونه وو۔ حضرت ابن مسعودؓ وائی ما عرض او کړو چې ای د الله تعالیٰ رسوله ﷺ! تاسو اجازت راکړئ چې زه تاسو دپاره نرمه بستره واچوم۔ رسول الله ﷺ او فرمائیل: ای ابن مسعودؓ! زما د دنیا سره څه تعلق دې۔ زما او د دنیا داسې مثال دې لکه څرنګه چې یو مسافر د یوې وُنې سیورې لاندې دمه شی او بیا ترې روان شی او وُنه په ځائ پاتې شی۔(۱)

د حضرت ابن مسعودؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې د قیامت په ورځ کښې به د انسان قدم یو تربله او نخلی (یعنی مزل به نشی کولې ترڅو پورې چې د پنځو سوالونو جواب ترې وانه خستې شی۔ (۱) عمر دې په څه کښې تیر کړې وو؟ (۲) ځوانی دې په څه (عمل) کښې زړه کړې وه؟ په ګناهونو او که په عبادت کښې؟ (۳) مال او دولت دې په څه طریقه حاصل کړې وو۔ په حرامو او که په حلالو؟ (۴) او هغه مال چې تا حاصل کړې وو هغه دې په کوم ځائ کښې خرچ کړې وو په ښه کار کښې او که په بدو کښې۔(۵) او چه علم دې کړې وو په هغې کښې دې څومره عمل کړې وو۔ (۲)

روایت دې چې حضرت موسٰی علیه السلام د یو زړا کوونکی سړی له څنګ نه تیر شو۔ کله چې واپس راغې نو هغه سړی هم

............................................

(۱) احمد، ابن ماجه

(۲) ترمذی

مغسي ژړل۔ حضرت موسیٰ عرض اوکړو چې یا الله تعالیٰ ستا بنده ستا له ویرې نه ژاړی۔ الله تعالیٰ اوفرمائیل: ای موسیٰ! که د دې له سترګو نه د دې ماغزه هم ووځی او پورته شوې لاسونه ئې مات شی بیا ئې زه نه بخښم ځکه چې دې له دنیا سره محبت کوی۔

الله تعالیٰ دې مونږ له توفیق راکړی چې په دې بیان باندې عمل اوکړو او د دُنیا سره محبت پیدا نه کړو۔ آمین

وَ اٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط

☆☆☆

☆

# تقرير په فضيلت د عالمانو کښې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ سَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى:

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى فِيْ قُرْآنِهِ الْمَجِيْدِ وَ فُرْقَانِهِ الْحَمِيْدِ يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ لا وَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ط وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۱﴾

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَ عَلَّمَهٗ: اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ط يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿﴾

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَ بَارِكْ وَ سَلِّمْ.

زمـا د اسلام خوږو ورونـو! مـا چې ستاسو وړاندې کوم آيات اولوستل الله تعالىٰ فرمائی: يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ لا وَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ط(۱)

تـرجمـه:" اوچوی الله پاک مؤمنانو لره او هغه چا لره چې علم ورکړې

(۱) سورة المجادلة

شوې په ډیرو درجو سره"۔

یـعـنی د دې څخه د علم لوئی څرګندیږی چې اول ئې د ایمان والا تـعـریف اوکـړو او بیـا ئې په هغوی کښې علم والا خاص او ممتاز کـړل او د لـوئـې مـرتبـې خاوندان ئې ورته اوونیل۔ الله تعالیٰ چا چاته لوئې اووائی ذ هغوی د لوئې څه حد دې؟ لکه چې بل ځائ ارشاد دې:

✓ هَلْ يَسْتَوِی الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لاَ يَعْلَمُوْنَ.

تـرجـمه:"آیا برابر دی هغه څوک چې عالمان دی او هغه څوک چې بې علمه دی"۔

صیـغـه د استـفـهـام انکاری ده یعنی برابر ندی بلکه عاله دین ترینه په ډیرو درجو سره بهتر دې۔

✓ د ابـی امـامـه بـاهـلـیؓ نه روایت دې۔ فرمائی چې د رسول الله ﷺ په حضور کښې د دوو کسانو ذکر اوشو۔ یو د دې دواړو نه عـابـد وو (یـعـنـی بـزرګ) او بـل پـه کښـې عـالم وو۔ د رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چې افضل په دې کښې څوک دې۔ رسول الله ﷺ اوفـرمـائیل چې د عالم فضیلت په عابد باندې دومره زیات دې لکه چې زما فضیلت په ادنیٰ کس ستاسو باندې۔ (۱)

رسـول الله ﷺ فـرمـائی چې د الله تعالیٰ فرشتې او اهـل د آسمانونو او د زمکې او غرونو او تردې میږې په خپل سُوړې او

................................

(۱) ترمذی

کبان په بحرونو کښې او عرش، کرسئ، لوح ، قلم، جبرائیلٌ، میکائیلٌ، اسرافیلٌ دا ټول د عالم دپاره د خیر دُعاګانې غواړی۔

**تشریح**: تاسو فکر اوکړئ چې د یو کس دپاره د الله تعالیٰ ټول مخلوقات طلب د مغفرت کوی او د خیر دُعاګانې ورته غواړی۔ آیا تاسو اووایئ چې دې کس دپاره به مغفرت ونۀ شی۔ ولې نه الله تعالیٰ به ورته ټول ګناهونه معاف کړی۔ د دې حدیث نه د عالم ډیر لوئې عزت او مرتبه معلومه شوه۔(۱)

د حضرت ابو بکر صدیقؓ نه روایت دې چې ما خوب اولیدو چې ما ته راغې رسول الله ﷺ او زۀ ئې د لاس نه اونیولم۔ ماته ئې اوفرمائیل چې ای ابابکر اوګوره جهنم ته۔ چې کله ما جهنم ته اوکتل ما یو ټولګې اولیدو د ګنهګارانو چې مخونه د هغوی د خنزیرانو وو۔ هغوی به وینې او زوې څکل او دوی به سوزیدل په اور کښې۔ ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چې ای محمد ﷺ! څه دې سبب د ګناهونو د دوی چې دوی دومره په لوئې عذاب کښې ګرفتار دی۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې دا هغه کسان دی چې په دنیا کښې به ئې عالمانو ته ضرر رسولول۔ بیا دوی وفات شول بغیر د توبې نه او دا د دوی جزا ده۔(۲)

.................................

(۱) د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۹۵

(۲) د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۹۵

رسول الله ﷺ فرمائی چې کله يو عالم يا طالب په يو کلی باندې تير شی د دې کلی د مقبرې نه به الله تعالیٰ څلويښت ورځې عذاب لرې کوی۔ څوک چې خوښ کړی چې يو عالم ته او کوری (يعنی په محبت سره ورته او کوری) الله تعالیٰ به خلاص کړی دغه کس د جهنم د اور نه (يعنی الله تعالیٰ به ورته نجات ورکړی)۔ رسول الله ﷺ قسم خوری چې زما دې په هغه ذات قسم وی چې د چا په قبضه او قدرت کښې زما روح دې چې نه دې يو طالب العلم مګر کله چې دې روان شی دروازې د علم ته (يعنی مدرسې ته) الله تعالیٰ به اوليکی دې طالب دپاره په يو قدم سره عبادت د يو کال او جوړ به کړی دې دپاره الله تعالیٰ په مقابله د هر يو قدم کښې يو ښار په جنت کښې۔ کله چې په زمکه باندې روان وی زمکه دې دپاره طلب د مغفرت کوی۔ کله چې سبا شی يا بيګا شی الله تعالیٰ به ئې تول ګناهونه معاف کړی (يعنی د سحر او ماسخوتن په مينځ کښې الله تعالیٰ نجات نصيب کړو د اور د جهنم نه)۔(۱)

په يو حديث کښې راځی اَلنَّظَرُ اِلٰی وَجْهِ الْوَالِدِ عِبَادَةٌ وَالنَّظَرَ اِلَی الْكَعْبَةِ الْمُكَرَّمَةِ عِبَادَةٌ وَالنَّظَرُ فِی الْمَصْحَفِ عِبَادَةٌ وَالنَّظَرَ اِلٰی وَجْهِ الْعٰلِمِ عِبَادَةٌ مَنْ زَارَ عَالِمًا فَكَاَنَّمَا زَارَنِیْ وَ مَنْ صَافَحَ عَالِمًا

...............................

(۱) د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۹۱

فَكَأَنَّمَا صَافَحَنِيْ وَ مَنْ جَلَسَ عَالِمًا فَكَأَنَّمَا جَلَسَنِيْ وَ مَنْ جَلَسَنِيْ فِي الدُّنْيَا اَجْلَسَهُ اللّٰهُ مَعِيَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ.(١)

يو عالم فرمائی چې څوک کيناستو اتۀ (٨) قسمو خلکو سره الله تعالیٰ به زيات کړی دۀ دپاره اتۀ (٨) څيزونه۔ څوک چې اميرانو (مالدارون) سره کيناستو، الله تعالیٰ به دۀ کښې تکبر پيدا کړی او زړۀ به ئې سخت شی او څوک چې د دُنيا محبت کوونکو خلکو سره کيناستو، الله تعالیٰ به دۀ کښې حرص او شوق د دُنيا پيدا کړی او څوک چې زنانو سره کيناستو بغير د خپلې ښځې نه، الله تعالیٰ به دۀ کښې جهل او شهوت زيات کړی او څوک چې ماشومانو سره کيناستو، الله تعالیٰ به دۀ کښې زيات کړی لوبې او عبثيات او څوک چې فاسقانو سره کيناستو (يعنی بې دينانو سره، الله تعالیٰ به دغه کس زړۀور کړی په ګناهونو او سستی به په توبه کښې ورته نصيب شی (يعنی ګناه به کوی او توبه به نه اوباسی) او څوک چې کيناستو نيکو خلکو سره، الله تعالیٰ به زيات کړی دۀ دپاره شوق په عبادت کښې (يعنی عبادت سره به ئې شوق پيدا شی) او څوک چې کيناستو فقيرانو او مسکينانو سره، الله تعالیٰ به دۀ کښې شکر او رضا پيدا کړی او څوک چې عالمانو سره کيناستو، الله تعالیٰ به د دۀ علم زيات کړی او دۀ کښې به پرهيزګاری پيدا شی او د الله تعالیٰ نه به هميشه يريږی او غلط کار به نه کوی۔

(١) روح البيان۔ ج١،ص ٢٢۔التقريرات العاليه راشد۔ صفحه ٥٢

مونږ او تاسو باید عالمانو سره او صالحانو او فقیرانو سره ډیر کینو چې د هغوی خوئ اخلاق په مونږه کښې پیدا شی۔ دې نورو مجلسونو کښې نه کینو ځکه چې د هغوی د مجلس اثر به په مونږ کښې پیدا شی ځکه چې رسول الله ﷺ فرمائی چې په هر مجلس کښې تاثیر وی او که ښو خلکو سره کیناستو نو ښه به شو ځکه چې د هغوی د مجلس اثر به په مونږ کښې پیدا شی او که چرته مونږه بدو خلکو سره کیناستو د هغوی د مجلس اثر به په مونږ کښې پیدا شی۔ تاسو او کورئ چې څومره ښه انسان وی چې څو ورځې بدو خلکو سره کیناستو د هغه په تقویٰ کښې او په دین داری کښې ډیر فرق راشی۔ باید مونږه او تاسو د فضولو مجلسونو څخه ځان اوساتو او د نیکانو مجلسونو سره تعلق پیدا کړو چې الله تعالیٰ مونږ نیکان کړی۔(۱)

✓ رسول الله ﷺ فرمائی چې کوم یو کس اووه (۷) ورځې علم وانه وریدو (د دین خبره ئې د عالمانو نه وانه وریده) د هغه اووه (۷) کاله عبادت به ختم شی۔ هغه عبادت چې قبول کړې شوې وی۔ کله چې د رسول الله ﷺ دا حدیث حضرت علیؓ واوریدو، په ژړا راغې حضرت عائشہؓ او فاطمہؓ ته۔ دوی ورته اووئیل چې ولې ژاړې، ای علیؓ! حضرت علیؓ اووئیل ای عائشېؓ او فاطمېؓ زه ژاړم د هغه خلکو په حال باندې چې په غرونو کښې اوسیږی۔ هغوی خو یوه

................................

(۱) د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۹۷

ورځ هم د دین خبره نه اوری۔ د هغوی حال به څه وی۔ بیا دوی پاڅیدل او دوه رکعته نفل مونځ ئې اوکړو او بیا ئې دُعا اوغوښتله۔ یا الله تعالیٰ! خوره کړه روزی (رزق) د عالمانو په هر ځائ کښې تردې چې دغه عالمان د دین ورښوی تولو خلکو ته چې الله تعالیٰ دا خلک د قیامت د سختئ نه اوساتی۔ (۱)

**تشریح:** باید موږه او تاسو په هفته کښې خو خامخا یو ځل د دین خبرې ته کینو او وائې ورو په خپلو غوږونو باندې هسې نه چې زمونږ نیک اعمال ختم شی۔

عَنْ اِبْنِ عَبَّاسَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ فَقِیْہٌ وَاحِدٌ اَشَدُّ عَلَی الشَّیْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ.

ترجمه:"د حضرت ابن عباسؓ روایت دې چې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چې یو فقهی (عالم دین په شیطان باندې د زرو (۱۰۰۰) عابدانو نه زیات سخت دې۔ (۲)

**تشریح:** یعنی عالم د شیطان د وسوسې جواب د قرآن و حدیث په دلیل سره کولې شی او عابد چونکې د قرآن او د حدیث په دلیل پوهه نه وی نو زر دوکه کیږی۔ عالم خو خبر وی چې دې کار کښې دومره گناه ده ولې ئې اوکړم او عابد خبر نه وی چې دې کار کښې څومره گناه

(۱) د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۹۷

(۲) ترمذی، ابن ماجه

ده۔ يعنی مطلب دا دی چې يو فقيه يو طرف ته او يو زر عبادت گذار بل طرف ته۔ دا زر عابدان شيطان ته دومره سخت نه دی لکه څومره چې يو فقيه ورته سخت وی۔ يعنی شيطان ته زر عابدان دهوکه کول آسان دی په نسبت د يو فقيه چې د ده دهوکه کول ډير مشکل دی شيطان دپاره۔ وجه ئې دا ده چې فقيه د شيطان د دهوکې ورکولو نه خبر داروی۔ دې وجې نه د هغه په پنجره کښې نه کيريږی په خلاف د عابدانو چې دا غريبان صرف په عبادت کښې اخته وی۔ دوی ته پته نه وی چې د شيطان به دې په دې طريقه دهوکه کوی۔ د دې دا مطلب نه دې چې فقيه عبادت نه کوی بلکه فقيه هم بنه عبادت کوی۔ يو فضيلت دا هم لری چې د شيطان د دهوکې ورکولو طرتقې هم پيژنی۔ (۱)

رسول الله ﷺ فرمائي: مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِی الدِّيْنِ.
چاته چې الله تعالیٰ د نيکئ اراده اوکړی نو هغه ته په دين کښې پوهه ورکړی۔

**تشريح**: د دې حديث نه دا معلومه شوه چې د علم نه ډير لوئې خير د الله تعالیٰ په نزد بل څه نشته۔ مونږه او تاسو چې اوغواړو چاته خير ورسوو يا ورته پيسې ورکوو يا بل د دنيا د څيزونو يو څيز دا زمونږ په نزد خير دې خو د الله تعالیٰ په نزد د علم خير دې۔ بايد د خير

---

(۱) د زاد الطالبين شرح ارشاد الطالبين۔ صفحه ۸۱

مونږه تول حاصل کړو که الله تعالیٰ زمونږه او ستاسو په نصیب کښې کړې دې۔ (۱)

رسول الله ﷺ فرمائی چې علماء د انبیاء علیه السلام وارثان دی۔

**تشریح**: د دې حدیث نه دا معلومه شوه چې د نبوت نه بله لویه مرتبه نشته او د وراثت نه بل لوئې شرافت نشته۔ الله تعالیٰ دې دا شرافت زمونږه او ستاسو په نصیب کړی چې د انبیاء علیه السلام وارثان شو۔آمین

د رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چې وحی او کړه الله تعالیٰ ابراهیم علیه السلام ته چې زهٔ عالم یم او عالم انسان خوښوم۔ رسول الله ﷺ فرمائی چې زما په اُمت کښې دوه ډلې دی چې هغوی ځان اصلاح کړو نو تول انسانان به اصلاح شی او که هغوی فاسدان شول نو تول انسانان به ځان سره فاسد کړی یو د دې دواړو نه امیر دی او بل عالم۔

رسول الله ﷺ فرمائی چې د عالم فضیلت په عابد باندې داسې دې لکه چې فضیلت د سپوږمۍ د لیلة البدر په تولو ستورو باندې۔

رسول الله ﷺ فرمائی چې د قیامت په ورځ به درې

(۱) د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۹۹

ډلې سفارش کوی۔ (۱) انبياء عليهم السلام (۲) عالمان (۳) شهيدان۔

عَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَ عَلَّمَهٗ.

د حضرت عثمانؓ نه د نبی کريم ﷺ دا ارشاد مبارک نقل شوې دې چې په تاسو کښې بهترين هغه څوک دې چې قرآن زده کړی او نورو ته ئې ښائی۔

قرآن شريف اصل دين دې۔ نو د قرآن کريم په اشاعت سره بقاء د دين ده۔ نو د دې په وجه د قرآن کريم يادول او بل ته د ښودلو غوره والې ثابت شو ځکه چې قرآن کريم د الله تعالیٰ کلام دې او دا کلام په ټولو کلامونو اوچت او غوره دې۔ نو لوستل او بل ته ئې ښودل يقيناً افضل دی۔ (۱)

عَنْ اَبُوْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهٗ ثُمَّ كَتَمَهٗ اُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ بِلُجَامٍ مِّنْ نَّارٍ. (۲)

د حضرت ابی هريرهؓ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ فرمائی چې د چا نه د يوې مسئلې تپوس اوکړې شی او هغه ته معلومه وی او پټه ئې کړی (يعنی هغه مسئله ښکاره نه کړی) نو په ورځ د قيامت کښې به ورته د اور قبضې په خُله کښې واچولې شی۔ (۳)

..........................................

(۱) يواقيت الاعمال۔ صفحه ۱۲۳

(۲) رواه احمد و ترمذی۔ ۱۲ (۳) ارشاد الطالبين۔ صفحه ۲۲۱

د حضرت ابن مسعودؓ نه روایت دي چې رسول الله ﷺ او فرمائيل چې د دوه کسانو په حق کښې حسد خير دې۔ (۱) هغه کس چې الله تعالیٰ ورته مال ورکړې وی او د الله تعالیٰ په لار کښې ئې خرچ کوی۔ (۲) بل هغه کس چې الله تعالیٰ ورته علم ورکړې وی او دې د علم مطابق حکم کوی او نورو ته ئې هم ښائی۔(۱)

**تشریح**: د دې حدیث مقصد دا دې چې يو مالدار د بل مالدار په ضد د الله تعالیٰ په لاره کښې مال خرچ کوی او يو عالم د بل عالم په ضد علم خلکو ته ښائی خو صرف مقصد د دې د آخرت کاميابی وی نه د دنيا۔(۲)

**حکایت**: د محمود غزنویؒ وينا ده چې ماته درې شکونه راپيښ شوی وو۔ اول دا چې زهٔ د خپل پلار ځوئ يم او که نه۔ دويم دا چې علماء وارثان د انبياء عليهم السلام دی او که نه۔ دريم دا چې بدله د اعمالو يقيناً ورکولې شی او که نه۔ وائی چې زهٔ په خپل دور حکومت کښې يوه شپه بهر راووتم، لښکريان راسره وو او حالات مې کتل چې ملک کښې څه قيصه ده۔ څوک په چا ظلم اونکړی۔ يو ځائ ته ورسيدو، څه گورو چې يو کس دې يو ځلې دوکان ته لاړ شی بيا واپس راشی او کينی۔ ډير ساعت داسې کيدل۔ آخر پوليس دا سړې گرفتار کړو او

(۱) بخاری،مسلم
(۲) د معاشرې اصلاح۔ صفحه ۲۰

مـاته ئې پيش کړو۔ ما تپوس اوکړو چې څه دې کول۔ وې فرمائيل زهٔ طـالب يم۔ کتاب مې کتلو خو ما سره د رڼا څه انتظام نه وو موجود او د دې دوکان د دروازې نه لږه رڼړا راتله۔ ما به ورته کتاب اوکتلو۔ بيا به مـې تياره کښې يادولو۔ غزنویؒ وائی طالب مې ځان سره بوتلو او يوه د سـرو ډيوه مې ورته ورکړه او تيل مې هم په کښې ورکړل۔ دينه وروسته چې زه کله اودهٔ شوم نو نبی کريم ﷺ مې په خوب کښې اوليدلو او راتـه ئـې اووئيـل چـې ای مـحمود غزنوی د سبکتګين ځويه! تا زما د وارث سره مدد اوکړو۔ الله تعالیٰ دې تاته د دې کاربدله درکړی۔ نو ماته د درې واړو سـوالـونو جواب ميلاؤ شو۔ دا د خدمتِ اهل علم په برکت عـلـم د انسان د سعادت او کاميابئ سبب جوړيږی او علم د الله تعالیٰ د رضـا ذريـعـه جـوړيـږی او ديتـه خيـر کثير وئيلې شوې دې۔ الله تعالیٰ فرمائی وَ مَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا۔ او "هـغه چاته چې ورکړې شو حکمت نو په حقيقت کښې ورکړې شو ډير خير"۔(۱)

او دنيـا تـه قـليـل او متـاع ويـلـې شوې دې۔ حضرت علیؓ فرمائی علم غوره دې د مال نه ځکه د مال څوکئ او ساتنه به ته کوې او عـلـم ستـا ساتنه کوی او علم حاکم وی۔ مشروی او مال هميشه مـحکوم وی او حاکم اوچت وی۔ د محکوم نه او بل دا چې مال خرچ کولو سره کميږی او علم په خرچ کولو سره زياتيږی۔

................................

(۱) سورة البقره

نبی کریم ﷺ فرمائی: يُوْزَنُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِدَادُ الْعُلَمَاءِ بِدَمِ الشُّهَدَاءِ۔ تـللې به شی په ورځ د قیامت سیائی د علماء د شهیدانو د وینې سره د دې سره سره چې د شهادت څومره زیات فضائل راغلې۔ (۱)

د حـضرت ابو هریرهؓ نه روایت دې چې هغه وائی چې ما د رسول الله ﷺ نـه اوریدلی دی چې څوک اُمید ساتی د ملاقات د ربّ الـعالمین نو هغه خلق د عزت او اکرام د اهل الله اوکړی۔ د رسول پاکؐ نـه تپـوس اوشـولـو چـې د الله تـعالیٰ لپاره هم اهل شته نو رسول الله ﷺ اوونیـل هو شته۔ بیا ترینه تپوس اوشولو چې اهل د الله تعالیٰ څوک دې۔ نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل هغه خلق دی چـې د قـرآن کـریـم تـلاوت کوی او خبردار کوم خلق چې دوی ته عـزت ورکـوی الله تـعـالـیٰ به دوی ته عزت ورکړی او جنت ته به ئې داخـل کـړی او کوم کس چې دوی ته اهانت او بې عزتی ورکړی نو الله تعالیٰ به ده ته عزت نه ورکوی او جهنم ته به ئې داخلوی۔ حضرت ابو هریرهؓ ته فرمائی چې د الله تعالیٰ په نزد معزز خلق نشته ما سوا د حامل القرآن هیڅوک زیات معزز نشته۔ د قرآن پاک حاملانو او عالمانو نه مگر یو انبیاء علیهم السلام ترینه بهتر دی۔ (۲)

حـضرت علیؓ د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی چا چې

..............................

(۱) یواقیت الاعمال۔ صفحه ۰

(۲) التقریرات العالیة۔ صفحه ۵۵

قرآن اوونیل او بیا ئې یاد کړو او د قرآن حلال ئې حلال اوګڼړلو او حرام ئې حرام اوګڼړلو۔ الله تعالیٰ به ئې جنت ته داخل کړی او د دهٔ شفاعت به د خپل ټبر د لس کسانو لپاره قبول کړی۔ هغه لس کسان چې جهنم ته د تلو فیصله ئې شوې وی۔(۱)

حضرت ابو سعید خدریؓ فرمائی چې یو ځلې د ضعفاء (غریبانو مهاجرینو) په ټولګی کښې ناست ووم او دوی سره دومره جامه هم نه وه چې په هغې ئې ټول بدن پټ کړې وې ځنې خلقو به د بعضو نه ځان پناه کړې وو۔ یو تن په کښې قرآن لوستلو چې په دې کښې حضور ﷺ تشریف راوړو او بالکل مونږ ته نزدې اودریدلو۔ د نبی کریم ﷺ په راتلو قاری چُپ شو نو نبی کریم ﷺ سلام اوکړو او بیا ئې پوښتنه اوکړه چې تاسو څه کول۔ مونږ عرض اوکړو چې کلام الله مو اوریدلو۔ حضور ﷺ اوفرمائیل چې ټول صفتونه هغه الله تعالیٰ لره دی چې زما په اُمت کښې داسې خلق پیدا کړل چې ماته په هغوی کښې د ناستې حکم اوشو۔ د دې نه پس حضور ﷺ زمونږ په مینځ کښې کیناستو چې ټولو ته برابر وو، څانه نزدې د چا نه لرې نه وو۔ بیا ئې ټولو ته په حلقه کښې د کیناستو حکم اوکړو۔ ټولو حضور ﷺ ته مخ کړو او کیناستل نو حضور ﷺ

.................

(۱) ترمذی۔ یواقیت الاعمال۔ صفحه ۴۵

ارشاد اوفرمائیلو: ای فقیرانو مهاجرینو! تاسو ته دې زیرې وی د قیامت په ورځ د کامل نوریعنی رڼا او د دې چې تاسو به د مالدارو نه نیمه ورځ مخکښې جنت ته داخلیږی او دا نیمه ورځ به د پنځوسو کالو برابره وی- (۱)

د کومو اندامونو چې پټول فرض دی هغه پټ وو خو د هغې نه علاوه بدن ئې ښکاریدو او دا هم په کنړه کښې ښه نه معلومیږی نو ځکه د یو بل روستو ناست چې چاته نه ښکاری- د نبی کریم ﷺ تشریف راوړو نه اول خو دوی ته د خپلې مشغولتیا په وجه پته اونه لګیده خو کله چې هغوی مبارک ئې بالک په سر اودریدو نو ورته معلومه شوه او قاری د ادب په وجه چُپ شو- د حضور ﷺ تپوس په ظاهر کښې د خوشحالۍ ښکاره کولو دپاره وو کنی نو حضور ﷺ خو قاری لیدلې وو چې قرآن کریم ئې لوستلو- نو محترمو عزتمندو د علماء او طالباء ډیر زیات فضیلت لری- نبی کریم ﷺ په خپله هم کیانستلې نو تاسو سوچ اوکړئ او رسول الله ﷺ فرمائیلی دی عالم هیڅ کله هم له علم څخه مه مړیږی تردې چې جنت ته ورسیږی، داخل شی او رسول الله ﷺ فرمائیلی دې زما د اُمت هلاکت دوو شیانو کښې دې-د علم پرینبودل او د مال جمع کول او رسول الله ﷺ

---

(۱) رواه ابو داؤد-یواقیت الاعمال-صفحه ۸۳

فرمائیلی دی: یا عالم شه یا متعلم شه ، یا د علم اوریدونکې شه او یا د علم سره مینه کوونکې شه۔ پنځم یعنی د علم سره بغض (دښمن) کوونکې مه کیږه چې هلاک به شې۔(۱)

یوه واقعه د شیخ عبدالقادر جیلانیؒ په ذکر کوی چې هغه باندې یو ځلې شیطان اواز اوکړو چې ای شیخ عبدالقادر ته نور عبادت نه آزاد ئې او له دینه وروسته عبادت مه کوه۔ شیخ صاحبؒ ورته اووئیل چې ته شیطان ئې او ما نشې دوکه کولې۔ شیطان ورته وائی ته څنګه پوهه شوې۔ دویؒ ورته اووئیل چې الله تعالیٰ پیغمبر علیه السلام ته د عبادت نه نهٔ معاف کوی او ورته وائی چې وَاعْبُدْ رَبَّکَ حَتّٰی یَأْتِیَکَ الْیَقِیْنَ یعنی ته عبادت کوه د الله ترڅو تاته مرګ راشی یعنی ترڅو ژوندې ئې نو ما څنګه معاف کړې۔ شیطان ورته وائی ای خوش قسمته! د علم په وجه رانه بچ پاتې شوې نو یقیناً علم کښې د دنیا او آخرت کامیابی او د انسان لپاره په کښې ښائست دې۔ شاعر وائی:

لَیْسَ الْجَمَالُ بِاَثْوَابٍ تُزَیِّنُهَا بَلِ الْجَمَالُ جَمَالُ.

ښائست په جامو نه دې چې خائسته ئې کړې بلکه اصلی ښائست الْعِلْمِ وَالْاَدَبِ لَیْسَ الْیَتِیْمُ مَاتَ وَالِدَهٗ د علم او ادب دی یتیم هغه نه دې چې پلار ئې مړ شی بَلِ الْیَتِیْمُ یَتِیْمُ الْعِلْمِ

........................................

(۱) مکاشفة القلوب۔ صفحه ۵۰

وَالْاَدَبِ بلکه هغه دې چې د علم او ادب نه محروم وی۔

د حضرت انس بن مالکؓ روایت دې چې یو کس د نبی کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ په خدمت کښې حاضر شو او تپوس ئې اوکړو چې قیامت به کله راځی۔ نبی کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ارشاد اوفرمائیلو تا د هغې دپاره څه تیارې کړې دې۔ عرض ئې اوکړو د فرائضو نه علاوه زیات مونځونه، روژې خو ما سره نشته۔ البته الله تعالیٰ او د هغه د رسول سره محبت ضرور شته۔ نبی کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ارشاد اوفرمائیلو اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ چې سړی حشر به هغې خلقو سره وی چې چا سره به د هغه محبت وی او ته به هغوی سره یې چې چا سره ستا محبت وی۔ حضرت انسؓ فرمائی چې دې ارشاد باندې مسلمانانو ته کومه خوشحاله اوشوه۔ داسې خوشحالی ما چرې نه وه لیدلې۔ مونږ او تاسو باید دې د علماء او طالباء او نیکو خلکو سره محبت اوساتو ځکه سړې به د قیامت په ورځ هغه چا سره وی د چا سره چې په دنیا کښې محبت وی۔ الله تعالیٰ دې مونږ تولو ته توفیق راکړی چې د علمی مجلسونو سره محبت پیدا کړو۔آمین (۱)

یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ كُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِیْنَ (۲)

الله تعالیٰ فرمائی ای د ایمان خاوندانو! زمانه اوویرېږئ او د

..................................

(۱) تنبیه الغافلین۔صفحه ۳۸۵

(۲) سورة التوبه

نیکانو خلقو په ډله کښې شامل شي یعنی د هغوی سره ناسته پاسته کوئ چې د هغه ښه او نیک صفتونه په تاسو کښې هم پیدا شی او دا ښکاره او د تجربې نه ثابته خبره ده چې سړې د کومو خلقو سره ناسته پاسته کوی نو د هغوی اثر به قبلوی۔ نو پکار دا ده چې انسان په خپله معاشره او ماحول کښې د کومو خلقو سره ناسته او پاسته کوی چې هغه داسې خلق وی چې عبث او فضول مجلسونه نهٔ کوی او په ګناهونو او نافرمانو کښې نه وی اخته ځکه چې د داسې خلقو سره ناسته پاسته او مجلس کول رو رو به هغه چا کښې هم هغه صفتونه پیدا کوی کوم چې د هغه مجلس په خلقو کښې وی۔ د صحابیؓ مقام د صحبتِ نبویؐ برکت دې۔ زما د اسلام خوږو وروڼو په دې باندې د ټول اُمت اتفاق دې که د ټول اُمت اولیاء، ولیان او عالمان راجمع شی نو د یو ادنی صحابیؓ مرتبې ته به اونه رسی۔ نبی کریم ﷺ په یو حدیث کښې فرمائی که څوک د اُحد د غر هومره سرهٔ زر د الله تعالیٰ په لار کښې خرچ کړی نو د صحابیؓ د یوې کهجورې صدقې ته نشی رسیدې۔ که سوچ اوکړې شی نو په صحابوؓ کښې ټول عالمان نه وو بلکه اکثریت په کښې عام خلق وو خو بیا ورته هم دا فضیلت حاصل دې ځکه چې هغوی ته د نبی علیه السلام صحبت نصیب شوې وو چې د هغې د وجې د هغویؓ په زړونو کښې کوم د کمال صفتونه پیدا شوی وو هغه په ډیرو عباداتو او ریاضتونو باندې نشی حاصلیدې۔ (۱)

(۱) د منبر کلونه۔ صفحه ۴۱

ونيلي شوى دى چې د قيامت په ورځ به په درې قسمه كسانو باندې لوئې مصيبت او حسرت وى۔ (۱) هغه مولا چې هغه غلام نيک عمل وى او د خپل مولا په خدمت باندې جنت ته لاړ شى او مولا ئې دوزخ ته لاړ شى۔ (۲) هغه عالم چې بد عمل وى په خپل عِلم باندې عمل ئې نه وى كړې او خلكو ته ئې بيان كړې وى هغوى نه نيكان جوړ شوى وى هغه خلک جنت ته لاړ شى او دا عالم دوزخ ته لاړ شى۔ نو دې به ډير زيات افسوس كوى چې خلک زما د بيان په وجه جنت ته لاړل او زهٔ دوزخ ته۔(۳) هغه كس چې ده په خوارئ او دروغو باندې مال جمع كړې وى او زكات ئې نه وى وركړې بيا دې وفات شى۔ مال ئې وارثانو ته پاتې شى۔ وارثانو د دهٔ په مال باندې ښه كارونه كړى وى او زكات ئې وركړې وى هغوى د دهٔ د مال په وجه جنت ته لاړ شى او هغه كس دوزخ ته لاړ شى نو دې به ډير افسوس كوى چې كاش ما د خپل مال زكات وركړې وې خو هلته به افسوس په كار نه راځى۔(۱)

تاسو ته د آيتونو او احاديثو نه معلومه شوه چې د عامو مسلمانانو شرعى ذمه وارى د علم دين او د علم دين د عالمانو احترام او عزت كول دى۔ د عالمانو په وينا عمل كول دى او د عالمانو شرعى ذمه وارى په خپل علم عمل كول او خاص د الله تعالىٰ

................................

(۱) تذكره۔د معاشرې اصلاح۔صفحه ۴۰

د رضا لپاره د اسلام تبليغ جاري ساتلي دي۔

د يو حديث شريف مضمون دې چې عنقريب دې را به شي داسې زمانه په اُمت زما چې تښتي به له عالمانو او فقهاؤ نه نو مبتلا به کړې دوی الله تعالیٰ په ريو بلاګانو سره۔ اوّله دا چې پورته به کړې شي برکت له کسب د دوی نه۔ دويم دا چې مسلط به کړی الله تعالیٰ په دوی باندې بادشاه ظالم او دريم دا چې لاړ به شي دوی له دې دُنيا نه بې ايمانه۔ (العياذ باالله)

الله تعالیٰ دې مونږه او تاسو ټولو مسلمانانو ته توفيق راکړی چې په خپله هم علم اوکړو او خپل زامنو نه هم عالمان جوړ کړو۔ الله تعالیٰ دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راکړی۔آمين ثمّ آمين

وَ اٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط

☆☆☆

☆

# تقریر په فضیلت د مور پلار کښې

نَحۡمَدُهٗ وَ نُصَلِّیۡ عَلٰی رَسُوۡلِهِ الۡکَرِیۡمِ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

وَ قَضٰی رَبُّکَ اَنۡ لَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّاۤ اِیَّاهُ وَ بِالۡوَالِدَیۡنِ اِحۡسَانًا وَ قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ رَضَی اللّٰهُ فِیۡ رَضَاءِ الۡوَالِدَیۡنِ وَ سَخَطُ اللّٰهُ فِیۡ سَخَطِ الۡوَالِدَیۡنِ ط اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِکَتَهٗ یُصَلُّوۡنَ عَلَی النَّبِیِّ ط یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا صَلُّوۡا وَ سَلِّمُوۡا تَسۡلِیۡمًا ط صَلَّی اللّٰهُ عَلَی النَّبِیِّ الۡاُمِّیِّ.

زما د اسلام خوږو ورونړو! په حقوق العباد کښې چې څومره حقونه دی نو په هغې کښې اول حق د مور او پلار دې ځکه خو په قرآن کریم کښې چې الله تعالیٰ کله هم د حقوق العباد ذکر کړې دې نو د ټولو نه اول ئې دا فرمائیلی دی چې د مور او پلار سره احسان او نیکی کوئ۔ انشاء الله نن به تاسو ته د مور او پلار مقام د قرآن کریم او احادیثو په رڼرا کښې بیانوم۔

په خطبه کښې چې کوم آیت تلاوت کړې شو نو الله تعالیٰ فرمائی وَ قَضٰی رَبُّکَ اَنۡ لَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّاۤ اِیَّاهُ وَ بِالۡوَالِدَیۡنِ اِحۡسَانًا ط

ترجمه:"او حکم فرمائیلې دې ربّ ستا چې عبادت مهٔ کوئ تاسو د هیڅا مګر یواځې د همدغه الله تعالیٰ او نیکی کوئ له مور او پلار سره

په احسان او نیکئ کولو سره"۔ اِمَّا یَبۡلُغَنَّ عِنۡدَکَ الۡکِبَرَ اَحَدُهُمَا اَوۡ کِلٰهُمَا فَلَا تَقُلۡ لَّهُمَاۤ اُفٍّ وَّ لَا تَنۡهَرۡهُمَا وَ قُلۡ لَّهُمَا قَوۡلًا کَرِیۡمًا ﴿۲۳﴾

که چرې ورسیږی په نزد ستا زوړوالی ته یو له دوی نه یا دواړه پس مه وایه ته دوی ته کلمه د اُف او مه رټه دواړه۔ اووایه دوی ته خبره نیکه وَاخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحۡمَةِ وَ قُلۡ رَّبِّ ارۡحَمۡهُمَا کَمَا رَبَّیٰنِیۡ صَغِیۡرًا ﴿۲۴﴾ او د مهربانئ د اظهار دپاره خپله د ذله دوی ته سره ښکته کوه (یعنی د دوی دپاره زما نه داسې دُعا کوه ای ربه! لکه څنګه چې دوی په ما رحم کړې وو او ماشوم والی کښې ئې زما تربیت کړې و نو ته په دوی هم مهربانی اوکړه۔(۱)

اِمَّا یَبۡلُغَنَّ عِنۡدَکَ الۡکِبَرَ اَحَدُهُمَا او کِلٰهُمَا.(۲)

دغه حالت الله تعالیٰ څکه خاص خږو چې په دغه حالت کښې مور او پلار زیات ضرورت لری خدمت ته څکه چې مور او پلار ورځ په ورځ کمزوری کیږی او زمونږ د اکثر خلقو چې مور او پلار ضعیف شی بیا د انسانیت په نظر ورته نه ګوری او څان سره ئې ناسته او پاسته پیغور ګنی او حال دا دې چې هر نعمت موندل ممکن دی لیکن مور او پلار داسې یو نعمت دې چې یو ځل ... شو بیا ئې موندل ممکن نه دی... زما د اسلام خوږو وروڼو ما خو تاسو ته د والدینو سره

..................................

(۱) سورة بنی اسرائیل

(۲) تفسیر قرطبی ج ۱۰، ص ۲۴۱

ښه سلوک په باره کښې صرف یو آیت اولوستلو۔ په قرآن پاک کښې ډیر آیاتونه د مور او پلار د حُسن سلوک درس ورکوی او دغه شان نبی کریم ﷺ په خپلو احادیثو کښې مور او پلار ته ډیره لویه درجه ورکړې ده۔

عَنْ اَبِیْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَبْدُ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِیَّ ﷺ اَیُّ الْعَمَلِ اَحَبُّ اِلَی اللهِ تَعَالٰی؟ قَالَ الصَّلٰوةُ عَلٰی وَقْتِهَا قُلْتُ ثُمَّ اَیٌّ قَالَ بِرُّ الْوَالِدَیْنِ قُلْتُ ثُمَّ اَیٌّ قَالَ اَلْجِهَادُ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ.

ابو عبدالرحمٰن د عبدالله بن مسعودؓ نه روایت دې۔ فرمائی ما د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چې په عملونو کښې کوم عمل د الله تعالیٰ ډیر خوښ دې نو نبی علیه السلام راته اوفرمائیل۔ (۱) په خپل افضل وخت کښې مونځ کول الله تعالیٰ ته ډیر خوښ دی او الله تعالیٰ پرې ډیر خوشحالیږی۔ راوی فرمائی او ما عرض اوکړو د دې نه روستو بیا په کوم څیز الله تعالیٰ ډیر خوشحالیږی نو (۲) نبی علیه السلام اوفرمائیل د مور او پلار سره نیکی کول (په دې الله تعالیٰ ډیر خوشحالیږی)۔ راوی اوفرمائیل او ما عرض اوکړو د دې نه روستو په کوم څیز الله تعالیٰ ډیر خوشحالیږی؟)۔ (۳) نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل د الله تعالیٰ په لار کښې جهاد کول (په دې الله تعالیٰ ډیر خوشحالیږی)۔

**تشریح:** کوربٔ په دې حدیث مبارک کښې نبی علیه السلام دغه صحابی ته دا فرمائی چې د مانځه نه روستو په تولو کښې افضل او غوره عمل د مور او پلار سره نیکی کول دی او د فکر خبره خو دا ده چې جهاد څومره لوئې عبادت دې خو د مور او پلار خدمت او د هغوی سره حُسن سلوک ته په دې حدیث کښې په جهاد باندې هم فوقیت ورکړې شوې دې۔ د دې پوره وضاحت د یو بل حدیث نه هم کیږی چې د مور او پلار خدمت ته په جهاد باندې فوقیت او غوره والې ورکړې شوې دې۔

## د مور او پلار خدمت جهاد دی:

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاصؓ نه رویت دې چې نبی علیه السلام ته یو سړې راغلو او عرض ئې اوکړو زهٔ تاسو سره په هجرت او جهاد باندې بیعت کوم او زهٔ به په دې د الله تعالیٰ نه د اجر او ثواب اُمید ساتم۔ نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل آیا ستا په مور او پلار کښې څوک ژوندی شته۔ هغه عرض اوکړو او (یواځې یو نه بلکه) دواړه ژوندی دی۔ بیا ترې نبی علیه السلام تپوس اوکړو۔ آیا د الله تعالیٰ نه د اجر او ثواب اُمید ساتې۔ هغهٔ اووئیل او۔ نو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل: ځه خپل مور او پلار ته واپس شه۔ د دوی سره ښه سلوک کوه (خدمت ئې کوه، بس په دې وخت کښې دا ستا هجرت هم دې او جهاد هم)۔

وَ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَجُلٌ یَا رَسُوْلُ

اللهِ! مَنْ اَحَقُّ بِحُسْنِ صَحَابَتِیْ قَالَ اُمُّکَ قَالَ ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ اُمُّکَ قَالَ ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ اُمُّکَ قَالَ ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ اَبُوْکَ وَ فِیْ رِوَایَتِهٖ قَالَ اُمُّکَ ثُمَّ اُمُّکَ ثُمَّ اُمُّکَ، ثُمَّ اَبُوْکَ ثُمَّ اَدْنَاکَ اَدْنَاکَ.(۱)

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دې چې یو سړی رسول الله نه تپوس اوکړو۔ یا رسول الله ﷺ! زما د ښه سلوک دپاره د ټولو نه بهتر څوک دی؟ نو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل ستا مور۔ هغه کس بیا تپس اوکړو؛ بیا څوک؟ نو حضور ﷺ اوفرمائیل ستا مور۔ هغه کس بیا تپوس اوکړو چې بیا څوک؟ نو حضور ﷺ اوفرمائیل ستا مور۔ هغه کس بیا تپوس اوکړو چې بیا څوک؟ نو حضور ﷺ اوفرمائیل: ستا پلار۔ او په یو روایت کښې دی چې ستا مور ستا مور ستا مور او بیا ستا پلار او بیا درجه په درجه ستا رشته دار۔

وَ عَنْ عَبْدُ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ رَضِیَ اللهُ فِیْ رِضَاءِ الْوَالِدَیْنِ وَ سَخَطُ اللهُ فِیْ سَخُطَ الْوَالِدَیْنِ.(۲)

د حضرت عبدالله بن عمر نه روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې د الله تعالیٰ خوشحالی د مور او پلار په

..................................

(۱) رواه بخاری و مسلم

(۲) رواه ترمذی

خوشحالئ کښې ده او د الله تعالیٰ خفګان د مور او پلار په خفګان کښې دې.(۱)

روایت کړې شوې دې د رسول الله ﷺ نه چې یو ځل رسول الله ﷺ ته یو ځوان راغې او شکایت ئې ورته اوکړو چې زهٔ مال په تکلیف د لاس خپل جمع کوم او زما پلار راشی زما د کور نه مال اخلی. ځومره ئې چې خوښه شی او زما ورته له سره اجازت نه وی نو رسول الله ﷺ پلار راواوغوښتلو او پلار ئې بوډا وو او په خپله امسا باندې ئې تکیه کوله چې راغې او رسول الله ﷺ ته ئې سلام اوکړو او ځوئ ئې هم حاضر وو. رسول الله ﷺ ورته اووئیل چې د ځوئ مال بغیر د اجازت ولې اخلی. بوډا سخت اوژړل او وې وئیل چې یو حال وخت داسې وو چې زما ځوئ زما نه هم زیات ضعیب او عاجز وو. او دهٔ مال نه شو جمع کولې لیکن ما ورباندې نفقه کوله او ما ورباندې بُخل نه کولو او زهٔ به د دهٔ په ډیر خوراک خوشحالیدم او په لږ خوراک به غمجن ووم. زما ګمان به د بیمارئ وو او زهٔ اوس د دهٔ په شان یم او دا زما په شان دې. نو ولې په ما بُخل کوی او ما ورباندې بُخل نه وو کړې او دهٔ په خپله امسا باندې تکیه لګولې وه او ژړا ئې کوله او ځومره خلق چې چار چاپیره موجود وو هغوی هم اوژړل او د دهٔ په ژړا باندې پیغمبر علیه السلام هم اوژړل او

..............................

(۱) علمی تقریرونه: دویمه حصه، صفحه ۲۴۲

ځوئ ته ئې اووئیل چې لاړه فَاَنْتَ وَ مَالُکَ لِاَبِیْکَ ۔ ”ته او ستا مال د پلار دې“۔ (۱)

حسن بصریؒ امام او عالم او عامل مضبوط او پرهیزګار صاحب د شریعت او طریقت وو او د حسن بصریؒ پلار وفات شوې وو او مورئې ژوندئ وه او د حسن بصریؒ ښځه او بچیان هم وو او د دهٔ عادت وو چې کله به د ماسخوتن لمانځه نه راغې نو مور سره به ناست وو او د خپلې ښځې او د بچیو کمرې ته به نه تللو او مور سره به ئې د خوشحالئ خبرې کولې او چې کله به مور ورته اووئیل چې لاړشه نو حسن بصریؒ به ورته اووئیل چې لاس او ښپې راله راکړه چې زهٔ ئې ښکل کړم نو حسن بصریؒ به ئې چې ښپې او لاسونه ښکل کړل او مور به ورته دُعا اوکړه بیا به د خپلو بچو کمرې له لاړو او دا عادت یې همیشه وو۔ بیا یوه شپه میلمانه ورته راغلل۔ هغوی سره د ماسخوتن لمانځه نه وروسته زیات مشغول شولو او چې کورته راغې نو مورئې اوده وه۔ حسن بصریؒ حیران شولو چې زما نه د مور د لاس او ښپو چُپ کیدل پاتې شول نو بیا پاځیدلو۔ په ډیر خفیه او آسانه طریقه ئې خپله ګیره مبارک د مور ښپو سره مسح کړله او بیا لاړو او مورئې خبره نه شوله۔ چې کله صبا لمانځه ته راووتلو او د خپلو معمولاتو نه فارغ شولو نو د دهٔ عادت وو چې د خپلو مریدانو نه به ئې تپوس

..................................

(۱) روح البتان۔ ج ۵۔ التقریرات العالیه۔ صفحه ۹۱

کولو چې خوب مو ليدلې دې او که نه او پيغمبر عليه السلام پسې به ئې اقتداء کوله ځکه چې پيغمبر ﷺ هم دا عادت وو چې چا به خوب ليدلې وو ورته بيان به ئې کړو او دهٔ به د خوب تعبير ورکړو۔ د دغيشپې په صبا کښې يو شخص خوب ليدلې وو چې د حسن بصريؒ په کيـره کښې د جواهرو او ياقوتو ملغلرې دی او ډير ښائسته کيره ئې وه۔ حضرت حسن بصريؒ ورته اووئيل چې ستا خوب رښتيا دې ځکه چې هغه خاورې د ښپو د مورزما کيرې پورې لګيدلې وې نو ترينه د جواهرو او ياقوتو ملغلرې جوړې شوې۔د الله تعالیٰ په نزد باندې زما معززين ورونو او کورئ حال د حسن بصريؒ ته چې د مور سره څه معامله کوی۔ الله تعالیٰ دې زمونږ په حال هم ورحميږی۔(۱)

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاصؓ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ فرمائيلی دی (لوئی ګناهونه خو ډير دی خو) د لويو ګناهونو نه يو دا هم دې چې سړې خپل موراو پلار ته کنځل کوی۔ صحابه کرامؓ عرض اوکړو ای د الله پيغمبره ﷺ! سړې خپل موراو پلارته هم کنځل کوی؟ نبی عليه السلام اوفرمائيل آو دې د بل سړی پلار ته کنځل اوکړی نو هغه د دهٔ پلار ته کنځل اوکړی او دې د بل مور ته کنځل اوکړی نو هغه د دهٔ مور ته هم کنځل اوکړی (که دهٔ د هغه موراو پلارته کنځل نه وې کړې هغه به هم د دهٔ

..............................

(۱) التقريرات العالية في المواعظ العشرة۔ صفحه ۹۵

موراو پـلارتـه کنځل نه وو کړی۔ نو دي د هغه د کنځلو دپاره سبب اوګرځیدو او داسې شوه لکه چې دهٔ په خپله خپل موراو پلار ته کنځل اوکړل)۔(۱)

زمـا مـعـززیـن وروڼو! د والدینو د نافرمانئ مختلف صورتونه کیدې شی۔ بعضې وخت مونږ په یو څیز دا خیال نه کوو چې دا د مور پـلار نـافـرمانی ده خو هغه هم د مورپلار نافرمانی وی لکه چې سړې د بـل مـوراو پلار ته کنځل کوی او هغه په جواب کښې د دهٔ مورپلار ته کـنځل اوکړی نو په حقیقت کښې دهٔ خپل موراو پلار ته کنځل اوکړل ځکه که دهٔ د بل والدینو ته کنځل نه وې کړې نو چا د دهٔ والدینو ته هم کنځل نه کول۔(۲)

د حضرت ابو امامهؓ نه روایت دې چې رسول اللهﷺ ته یـو سـړی عرض اوکړو چې په اولاد باندې د موراو پلار څهٔ حق دې۔ ارشـاد اوشو ، د موراو پلارستا دپاره جنت هم دې دوزخ هم دې (یعنی که تـه دوی خـوشـحاله ستې نو دوی ستا دپاره جنت دی او که سرکشی ترې اختیار کړې نو ستا دپاره جهنم دې۔(۳)

عَنْ عَبْدُ اللهِ بْنِ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ

(۱) بخاری و مسلم

(۲) د منبر کلونه۔ صفحه ۲۷۳

(۳) ابن ماجه۔ د معاشرې اصلاح۔ ۳۲۳

ﷺ اَلْكَبَائِرُ الْاِشْرَاكُ بِاللهِ وَ عُقُوْقُ الْوَالِدَيْنِ وَ قَتْلُ النَّفْسِ وَالْيَمِيْنُ الْغُمُوْسُ. (۱)

د حضرت عبدالله بن عمرو نه روایت دې چې حضور ﷺ اوفرمائیل چې په لویو ګناهونو کښې څو دا دی۔ الله تعالیٰ سره څوک شریک کول، د مورپلار نافرمانی کول، یو سړي ناحقه وژل او د دروغو قسم خوړل۔ (۲)

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنَّانٌ وَ لاَ عَاقٌ وَ لاَ مُدْمِنُ خَمْرٍ. (۳)

نبی کریم ﷺ فرمائیلی دې نه به داخلیږی جنت ته احسان نه کوونکی او مورپلار نافرمانی کوونکی او همیشه شراب څښونکی۔

روایت دې چې یو ځل حسن بصریؒ د بیت الله شریف طواف کولو۔ یو سړي ئې اولیدلو چې په اوږو ئې زنبیل وو او طواف د بیت الله ئې کولو۔ حسن بصریؒ ورته اوونیل چې زنبیل په زمکه باندې کیږده او بیا د بیت الله مبارکې طواف کوه۔ دغه سړي ورته اوونیل چې ای د مسلمانانو امامه دې زنبیل (کیجلوه) کښې زما مور ده چې دا

..............................

رواه بخاری

۲) روضة الطالبین۔ صفحه ۹۹

۳) رواه النسائی

اووم کال دې چې زهٔ خپله مور د شام نه په دې زنبیل کښې راولم او د حج ټول ارکان پوره کوم او دوی په دې زنبیل کښې ناسته وی۔ای د مسلمانانو امامه !آیا ما د خپل مور حق ادا کړې او که نه نو حسن بصری ورته اووئیل: که چرې اویا وارې د هغه بل سر د دنیا څخه راورې نو بیا به هم پوره نه کړې حق د دې چه ته ئې کزخولې ئې یو ځلې په کیده کښې ځکه نبی علیه السلام فرمائیلی دی۔ اِنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ اَقْدَامِ الْاُمَّهَاتِ ط "بیشکه جنت د مور د قدمونو لاندې دې"۔(۱)

د حضرت عباسؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې هریو فرمانبرداربچې چې د مور او پلار مخ ته د محبت په نظر اوګوری نو د دې په بدل کښې ورته الله تعالیٰ د قبول شوی (نفلی) حج ثواب په عمل نامه کښې لیکی۔ صحابه کرامؓ عرض اوکړو که سړې سل کرته اوګوری ځکه دا خو آسان کار دې۔ وې فرمائیل هو، ځکه چې الله تعالیٰ ډیر لوئې او پاکیزه دې (یعنی د الله تعالیٰ خزانې پُر او معمورې دی په ورکولو نه کمیږی۔(۲)

حضرت کعبؓ فرمائی چې یو وارې خوږ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې منبر ته رانزدې شئ۔ مونږ ورنزدې شُو چې نبی علیه السلام په اوله پوړۍ قدم مبارک کیښودو نو آمین ئې اووئیلو۔ کله چې په دویم پوړۍ قدم مبارک کیښودو نو آمین ئې اووئیلو او چې کله

.................................

(۱) معراج الواعظین۔صفحه ۲۳۶ (۲) بیهقی

دریمې ته اوختلو نو آمین ئې اوویلو۔ چې څه وخت نبی علیه السلام د خطبې نه فارغ شو نو مونږه عرض اوکړو چې نن مو تاسو نه داسې خبره واوریده چې مخکښې مو چرته نه وه اوریدلې۔ نبی علیه السلام ارشاد اوفرمائیلو چې دغه وخت جبرائیل ؑ زما وړاندې راغلې وو۔ کله چې ما په اوله پوړۍ قدم کیښودو نو هغه اووئیل چې هغه څوک دې هلاک شی چې چا د رمضان مبارک میاشت بیاموندله او بیا هم د هغه مغفرت اونه شو۔ ما اووې آمین۔ بیا چې دویمې ته اوختم نو هغوی اووئیل: هلاک دې شی هغه څوک چې د هغه وړاندې ستاسو ذکر مبارک اوشی او په تاسو درود اونه وائی۔ ما اووئیل آمین۔ کله چې زهٔ په دریمه پوړۍ اوختلم نو هغه اووئیل چې هلاک دې شی هغه څوک چې چا مورپلار دواړه یا یو د دوی نه د بوډاوالی په حالت کښې بیاموندل او هغوی دې جنت ته داخل نه کړو۔ ما اووئیل آمین

محترمو! په دې حدیث شریف کښې جبرائیل علیه السلام درې خبرې کړی دی او خوږ نبی ﷺ په هغه درې واړو آمین وئیلې دی

[illegible] جبرائیل غوندې فرښته داسې سختې خبرې اوکړی او نبی علیه السلام چې غوره دی د دواړه مخلوقاتو [illegible] درې آمین اووائی نو د داسې سړی په هلاکت کښې بیا څه شک دې۔ الله تعالیٰ دې توفیق راکړی چې د داسې خیرو نه بچ شو۔ آمین (۱)

(۱) یواقیت الاعمال۔ صفحه ۹۷

درې آيتونه دی چې په کښې دوه دوه څيزونه پيوست دی چې يو ادا نه شی نو بل هم نه قبليږی۔ (۱) وَ اَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ. "تاسو قائم کړئ مونځ او ورکړئ زکاتونه"۔

نو څوک چې مونځ کوی او زکات نه ورکوی نو مونځ ئې هم نه قبليږی۔

(۲) اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيۡعُوا الرَّسُوۡلَ. "تاسو د الله تعالیٰ اطاعت اوکړئ او د رسول الله ﷺ اطاعت اوکړئ"۔ څوک چې اطاعت د الله تعالیٰ کوی او اطاعت د رسول الله ﷺ نه کوی نو د دهٔ نه به اطاعت د الله تعالیٰ هم نه قبليږی۔

(۳) اَنِ اشۡكُرۡلِیۡ وَلِوَالِدَيۡکَ. "چې شکر ادا کړی زما او شکر ادا کړی د مور پلار"۔ نو څوک چې شکريه د الله تعالیٰ ادا کوی او د مور پلار نه ادا کوی نو د دهٔ نه به شکريه د الله تعالیٰ نه قبليږی۔(۱)

په يو روايت کښې راغلی دی چې حضرت حارثؓ مريض وو۔ نبی کريم ﷺ د بيمارپُرسئ لپاره ورغلو او د کلمهٔ شهادت تلقين ئې ورته اوکړو نو هغه انکار اوکړو۔ نبی کريم ﷺ ورته اووئيل: ولې کلمه شهادت نه وائې۔ هغه ورته اووئيل چې يا رسول الله ﷺ! زما په مخکښې د اُور غر دې۔ هر کله چې زهٔ اراده

..................................

(۱) يواقيت الاعمال۔ صفحه ۴۷

اوکړم چې کلمه اووایم نو هغه ماته تکلیف راکوی (یعنی سوزوی مې)۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې تا څه گناه کړې ده۔ حارثؒ اوفرمائیل چې مور سره مې خبرې نه دی کړی۔نو رسول الله ﷺ د هغه مور رااوغوښتله چې ځوئ معاف کړه او که چرې معاف ئې نه کړې نو روح ئې د اُورپه طرف روان دې۔ مورئې له دې نه منع اوکړه۔ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل زه به د الله تعالیٰ نه سوال اوکړم چې د دهٔ ژبه گویا (چالان) کړی۔ په کلمه د شهادت بياندې نو وحی راوړه حضرت جبرائیلؑ او د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې ئې عرض اوکړو چې الله تعالیٰ په تا سلام وائی او بیا فرمائی چې ته دې ته مه گوره ځکه ته ډیر عزتمند د خلکو ئې۔ ماته "فَوَ عِزَّتِیْ وَ جَلالِیْ اِنِّیْ لاَ اَرْضٰی عَنْهُ وَالِدَتُهٗ" یعنی زما دې قسم وی په عزت او لوئ خپلې چې بیشکه زه به ترهغه ترې راضی نه شم ترڅو چې د هغه نه خپله مور راضی شوې نه وی نو نبی کریم ﷺ سفارش اوکړو د هغه مورته، تردې چې مورئې راضی شوه د خپل ځوئ نه۔ "فَقَالَ حَارِثُ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَ اَنَّکَ رَسُوْلُ اللهِ" یعنی کلمه د شهادت ئې اوونیله۔

**تشریح**: تاسو سوچ اوکړئ چې د یو صحابیؓ نه مور خفه وه کلمه د شهادت ئې نه شوه وئیلې او حال دا دې چې په دې زمانه کښې ټول بزرگان او عالمان یو ځائ شی د یو ادنیٰ صحابیؓ ښپې خاورې ته نهٔ شی

رسیدې۔ د دې نه مور خفه وه او کلمه د شهادت ئې نهٔ شوه وئیلې او که مونږه او تاسو نه مور او پلار خفه شی نو زمونږه او ستاسو حال به څهٔ وی؟ بایـد مونږه او تاسو ۲۴ کینتې خپل مور او پلار راضی اوساتو ځکه چې د مور او پلار په رضامندئ کښې د الله تعالیٰ رضامندی دهٔ او د مور او پلار ناراضامندئ کښې د الله تعالیٰ خفګان دې چې کوم یو کس نه مور او پلار خفه وی هغه دې پوهه شی چې الله تعالیٰ ې د دهٔ نه خفه دې اګر که دې عالم وی یا بزرګ وی یا حافظ قرآنِ کریم وی۔(۱)

**حکایت**: ابو قلابهؒ نه نقل دی چې هغه په خوب کښې یو داسې مقبره اولیده چې د هغې قبرونه شلیدلی وو او د هغې مړی بهر راوتلی وو او د قبرونو په غاړه ناست وو او د هریو مخې ته د نوریو مجمع (غوړی) لوښې وو۔ هغوی خپلو ګاونډیانو کښې یو سړې اولیدو چې د هغه مخې ته د نور لوښې نه وو۔ ابو قلابهؒ د هغه نه تپوس اوکړو او وې فرمائیل چې څه وجه ده چې زه ستا مخې ته نور نه وینم؟ هغه اووئیل چې د هغه خلقو اولاد او دوستان دی چې هغوی ته دُعاګانې کوی او صدقې ورکوی او دا نور د هغوی صدقې او دُعاګانې دی۔ زما هم یو ځوئ شته خو هغه نیک بخته نه دې۔ هغه نه ماته دُعا کوی او نه صدقه ورکوی۔ دې وجې نه زما دپاره نور نه شته او زهٔ خپلو ګاونډیانو

(۱) معراج الواعظین۔ صفحه ۲۳۲

ته شرمنده یم۔ نو کله چې ابو قلابهٓ د خوب نه بیدا شو نو هغه د دې مړسړی خوئ رااوغوښتو او چې څه ئې په خوب کښې لیدلی وو۔ هغه ئې ورته بیان کړل۔ دې نه پس هغه هلک اووئیل چې بیشکه ته کواه اوسیږه۔ ما توبه کړه او په کوم حالت چې زه مخکښې ووم بیا به هغې طرف ته نه کرځم۔ بیا هغه د الله تعالیٰ اطاعت او د خپل پلار دپاره دُعا او صدقې طرف ته متوجې شو۔ بیا یو شپه پس ابو قلابهٓ هغه مقبره په هغه حالت کښې بیا اولیده او د هغې سره مخې ته ئې نور اولیدو۔ چې د نمر نه هم ډیر روښانه وو او د نورو د نور نه زیات کامل وو۔ دې نه پس هغه سړی اووئیل چې ای ابو قلابهٓ الله تعالیٰ دې تا له جزائې خیر درکړی۔ ستا په وینا باندې زما خوئ زهٔ د اور نه بچ کړم او زهٔ د خپلو کاونډیانو د شرمندګۍ نه خلاص شوم۔ ټول تعریفونه الله تعالیٰ دپاره دی۔ (۱)

وائی چې د بنو سلمه نه یو سړې د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې پیش شو او عرض ئې اوکړو۔ یا رسول الله ﷺ! زما مور او پلار وفات شوی دی۔ آیا په ما باندې اوس څه د هغوی د نیکئ حق شته؟ وې فرمائیل هو۔ اوس ورته بخښنه غواړه او د هغوی وعدې پوره کړه او د هغه د ملګرو عزت کوه او د هغه د رشتو خیال ساته۔ الله تعالیٰ به پوهیږی۔ مونږه او تاسو باید مور پلار سره د مرګ

..................................

(۱) حکایت عجیبه۔ صفحه ٦۲

12 نـه وروسته هم بنیکړه او کړو، دُعا ورته او کړو۔ آخری خبرې تاسو ته د دې آیـاتـونو حدیثونو او واقعاتو نه معلومه شوه چې د مورپلار څومره لوړ مقام دې۔

وروڼو! بـس دا مـو وخت دې که جنت کټل غواړئ نو د مور پلار خدمت او کړئ که وفات شُو نو د جنت د کهټلو یوه زریعه به درنه فـوت شی۔ الله تعالیٰ دې مونږ ته د مورپلار د خدمت توفیق راکړی او د مورپلار د نافرمانی دې مونږ بچ اوساتی۔ آمین

☆☆☆

☆

# تقریر په محبت د سید العرب والعجم محمد مصطفیٰ ﷺ کښې

نَحۡمَدُهٗ وَ نُصَلِّیۡ عَلٰی رَسُوۡلِهِ الۡکَرِیۡمِ.

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی قُلۡ اِنۡ کُنۡتُمۡ تُحِبُّوۡنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوۡنِیۡ یُحۡبِبۡکُمُ اللّٰهُ وَ یَغۡفِرۡ لَکُمۡ ذُنُوۡبَکُمۡ وَ اللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ ۝ عَنۡ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ قَالَ قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ لَا یُؤۡمِنُ اَحَدُکُمۡ حَتّٰی اَکُوۡنَ اَحَبَّ اِلَیۡهِ مِنۡ وَالِدِهٖ وَ وَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجۡمَعِیۡنَ ۝ اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِکَتَهٗ یُصَلُّوۡنَ عَلَی النَّبِیِّ ط یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا صَلُّوۡا عَلَیۡهِ وَ سَلِّمُوۡا تَسۡلِیۡمًا ۝ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوۡلَانَا مُحَمَّدٍ عَبۡدِکَ وَ رَسُوۡلِکَ وَ صَلِّ عَلَی الۡمُؤۡمِنِیۡنَ وَالۡمُؤۡمِنَاتِ وَالۡمُسۡلِمِیۡنَ وَالۡمُسۡلِمٰتِ وَ بَارِکۡ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوۡلَانَا مُحَمَّدٍ وَ اَزۡوَاجِهٖ وَ ذُرِّیَّتِهٖ ط

الله تعالیٰ فرمائي: قُلۡ اِنۡ کُنۡتُمۡ تُحِبُّوۡنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوۡنِیۡ.

"ای نبی ﷺ اووایه که یئ تاسو چې محبت کوئ الله"۔

یُحۡبِبۡکُمُ اللّٰهُ وَ یَغۡفِرۡ لَکُمۡ ذُنُوۡبَکُمۡ وَ اللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ ۝ (۱)

(۱) سورۃ آل عمران: آیت ۳۱

ترجمه:" سره نو راځئ په ما پسې محبت به اوکړئ ستاسو سره الله تعالیٰ او معاف به کړي تاسو لره ګناهونه ستاسو او الله تعالیٰ معاف کونکی او رحم کونکی دې۔

د دې آیت شانِ نزول کله چې پیغمبر ﷺ کعب بن اشرف او د هغه نور ملګری د اسلام منلو ته دعوت کړل نو دوی اووئیل مونږ د الله تعالیٰ د زامنو په شان یو (نَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنْهُ) او مونږ ورسره ډیره زیات محبت ساتو نو الله تعالیٰ خپل پیغمبر ﷺ ته اووئیل قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ ـ "ورته اووایه ای محمد ﷺ! که تاسو الله تعالیٰ سره محبت لرئ نو زما پیروی اوکړئ۔ الله پاک به تاسو سره محبت اوکړی"۔

امام غزالیؒ په خپل مشهور کتاب احیاء العلوم دین کښې لیکلی دی څوک چې د څلورو شیانو دعویٰ کوی پرته له څلورو شیانو نو هغه په خپله اِدعا کښې دروغجن دې۔ اول هغه څوک چې جنت سره د محبت دعویٰ کوی خو د الله تعالیٰ اطاعت او بندګی نه کوی۔ نو دا کس دروغجن دې۔ دوهم څوک چې د رسول الله ﷺ سره د محبت دعویٰ کوی خو د عالمانو او فقیرانو سره محبت نه ساتی نو دا دروغجن دې۔ دریم څوک چې د دوزخ نه د ویریدو دعویٰ کوی نو دا کس په خپله دعویٰ کښې دروغجن دې۔ څلورم او څوک چې د الله تعالیٰ سره د محبت دعویٰ کوی او مصیبتونو او امتحاناتو پرمهال شیاکت شور او فریاد کوی نو دا کس

هم دروغجن دي۔(۱)

عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰہُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ لاَ یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی اَکُوْنَ اَحَبَّ اِلَیْہِ مِنْ وَالِدِہٖ وَ وَلَدِہٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْنَ.(۲)

ترجمه:" حضرت انسؓ نه روايت دې چې نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی: يو کس له تاسو نه کامل مسلمان نه شی جوړېدې، ترهغه وخته پورې چې ما سره د خپل پلار نه، د خپل زوئ نه او د ټولو خلکو نه زيات محبت ونه کړی۔

امام بخاریؒ په روايت د عبدالله بن هشان باندې نقل کوی چې عمر فاروقؓ اوفرمائيل يا رسول الله ﷺ! ماته تاسو د هر څه نه زيات محبوب يئ ما سيوا د خپل ځان نه رسول الله ﷺ اوفرمائيل زما دې په هغه ذات قسم وی چې د چا په قدرت کښې زما روح دې۔ ترهغې پورې کامل مسلمان به نه شې ترڅو پورې چې زهٔ درته د خپل ځان نه زيات محبوب نه شم۔ حضرت عمر فاروقؓ اوفرمائيل اوس راته د خپل ځان نه زيا محبوب معلومېږې۔ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل اوس کامل شولو ايمان ستا اې عمرهٔ(۳)

د حضرت عکرمهٔ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ

...................................

(۱) مکاشفة القلوب۔ صفحه ۴۱

(۲) رواه بخاری و مسلم

(۳) د معاشرې اصلاح۔صفحه ۶۷

تــه یـو نـوجـوان راغې او وې فرمائیل: یا رسول الله ﷺ! مونږ تاسوته په دنیا کښې نظر کووخو په قیامت کښې به تاسو نه وینو ځکه چې تاسو به په اوچتو مرتبو کښې یئ نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔

وَ مَنۡ یُّطِعِ اللّٰہَ وَ الرَّسُوۡلَ فَاُولٰٓئِکَ مَعَ الَّذِیۡنَ اَنۡعَمَ اللّٰہُ عَلَیۡہِمۡ مِّنَ النَّبِیّٖنَ وَ الصِّدِّیۡقِیۡنَ وَ الشُّہَدَآءِ وَ الصّٰلِحِیۡنَ ۚ وَ حَسُنَ اُولٰٓئِکَ رَفِیۡقًا ﴿۶۸﴾ (۱)

تـرجمه:" څوک چې اطاعت د الله کوی او د هغه د رسول، دوی به د هـغـو کسـانـو سـره وی چې په چا باندې انعام کړې دې الله تعالیٰ چې نبیـان دی او صـدیقین او شهداء دی او نیکان دی او د ښکلی ملګرتیا ده۔(۲)

د ابـو ایـوب انصاریؓ د نبی کریم ﷺ سره دومره مینه وه چې پـه کوم تالی او لوښی کښې به نبی علیه السلام خوراک اوکړو او څـه بـه پـاتې شُو نو ابو ایوب انصاریؓ به تپوس کولو چې نبی علیه السـلام د کـوم ځـائ نه خوراک کړې دې نو په هغه ځائ باندې به ئې ګـوتـې کـرځـولې او دِ هغې نه به ئې خوراک کولو۔ یوه ورځ ابو ایوب انـصـاریؓ تپـوس اوکـړو چې نبی علیه السلام د کوم ځائ نه خوراک کړې دې۔ ورتـه اوونیـلـې شُـو چې هغوی خو خوراک نه دې کړې۔

................................

(۱) سورة النساء

(۲) تفسیر مظهری او تفسیر کبیر۔یواقیت الاعمال۔ صفحه ۱۲۹

حضرت ابو ایوب انصاریؓ سره فکر شو چې څه وجه کیدې شی چې نبې علیه السلام خوراک نه دې کړې۔ راغلو او عرض ئې او کړو۔ حضرت تاسو خو روټۍ اونه خوړله۔ ولې دا پیاز حرام دی۔ نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل نه حرام نهٔ دی خو دا بدبوئی پیدا کوی او زهٔ د فرشتو سره خبرې کوم نو د هغې څیز نه پرهیز کوم د کوم نه چې فرشتو ته تکلیف رسی او ابو ایوب انصاریؓ ورته اوفرمائیل حضرت چې کوم څیز دې محبوب خوښ نه وی هغه به د عاشق څنګه خوښ شی۔ د نن ورځې نه پس به زهٔ هم پیاز نه خورم۔(۱)

د حضرت انسؓ نه روایت دې چې یو باندچی (اعرابی) نبی کریم ﷺ ته راغې او وې فرمائیل: یا رسول الله ﷺ! قیامت به کله وی؟ نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې تا ورته څه تیارې کړې دې۔ هغه ورته اوفرمائیل چې ما خو ورته نه ډیر مونځونه کړی دی او نه مې ورته ډیرې روژې نیولی دی خو صرف د الله تعالیٰ او د هغه رسول ﷺ سره محبت کوم نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل "اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ" چې سړې به د هغه چا سره (په قیامت کښې) وی چې د چا سره ئې مینه وی۔

انسؓ فرمائی چې ما مسلمانان نه وو لیدلی خوشحاله پس د اسلام راوړو نه لکه څومره چې ما په دې خبره خوشحاله اولیدل۔ په

..................................

(۱) د منبر ګلونه۔ صفحه ۲۷

دې کښې يو لوئې بشارت دې که چا سره د عبادت ذخيره د نيکو اعمال زياته نهٔ وی بيا هم ورته په محبت د الله تعالیٰ او په محبت د محمد ﷺ ورته دا سعادت ميلاويږی۔(۱)

محترمو مسلمانانو! دا د صحابه کرامو د نبی کريم ﷺ سره ډيره مينه او محبت وو۔ بايد مونږ اوتاسو نبی عليه السلام سره مينه محبت اوکړو۔ د اُحد په غزا کښې مسلمانانو ته هم تکليف اورسيدو او په کښې شهيدان هم ډير شُو۔ مدينې منورې ته چې دا خبر اورسيدو نو زنانه پريشانه شوې او د حالاتو معلومولو دپاره د کورونو نه بهر رااووتلې۔ يوه انصاری زنانه وئيل چې تر کومې ما پخپله تصديق نه وی کړې ترهغې به يقين اونه کړم۔ هغه په يو سورلۍ کيناسته او خپله سورلۍ ئې هغه غر طرف ته اوزغلوله۔ ډيره نزدې راغله نو يو صحابیؓ نه ئې تپوس اوکړو۔ "مَا بَالَ مُحَمَّدٍ ﷺ" د محمد ﷺ څه حال دې؟"۔ هغه اووئيل چې ماته خو د محمد ﷺ معلوم نه دې خو ما اوليدل چې ستا د خوئ نعش (مړی) فلانی ځائ کښې پروت دې۔ دې ښځې ته د ځوان ځوئ د شهادت خبر ملاؤ شو خو هيڅ پرواه ئې اونه کړه۔ د دغه مور په زړهٔ کښې د رسول عشق او مينې دومره اثر کړې وو چې د ځوئ د شهادت خبر ئې واوريدو خو پرواه ئې اونه کړه۔ سورلۍ ئې ورمخکښې کړه۔ يو

............

(۱) الاحياء للعراقی۔ يواقيت الاعمال۔ صفحه ۱۳۰

بل صحابیؓ نه ئې تپوس اوکړو۔ "مَا بَالُ مُحَمَّدٍ ﷺ؟" د محمد ﷺ څه حال دې؟ هغه اووئیل چې هغوی ﷺ په فلانکی ځائ کښې موجود دی۔نو سورلی ئې هغه طرف ته روانه کړه۔ کله چې هلته اورسیده نو حضور ﷺ هلته ولاړ وو۔ هلته د خپلې سورلی نه کوزه شوه او د حضور ﷺ د څادریو کوټ ئې اونیوه او وې وئیل کُلُّ مُصِيبَةٍ بَعْدَ مُحَمَّدٍ ﷺ سَهْلٌ په ما ټول مصیبتونه د نبی علیه السلام په لیدو باندې آسان شو۔(۱)

## د ژوند آخري ارمان:

د اُحد په میدان کښې یو صحابیؓ زخمی شو۔ د زیاتې وینې بهیدو په وجه مرګ ته نزدې وو۔ یو بل صحابیؓ هغه له نزدې راغلو او تپوس ئې ترې اوکړو۔ ستا د څه څیز خواهش شته؟ هغه عرض اوکړو او۔ هغه پوښتنه اوکړه د څه؟ هغه صحابیؓ جواب ورکړو په آخری وخت کښې د نبی کریم ﷺ دیدار غواړم۔ هغه زخمی صحابیؓ په اوږه اوچت کړو او هغه ئې په تیزئ سره هغه ځائ ته بوتلو چرته چې نبی کریم ﷺ تشریف فرما وو۔ د هغوی ﷺ په مخکښې ئې راکوز کړو او ورته ئې اووئیل چې ستا محبوب ﷺ

..............................

(۱) خطبات فقیر۔ صفحه ۱۹۵

ستا مخې ته دې۔ کله چې ئې نوم واوریدو نو د زخمی مجاهد په بدن کښې لکه د بجلۍ چپه کرنډ راغلو او طاقت ئې په ځائ شو۔ خپل مخ ئې د حضور ﷺ طرف ته کړو، دیدار کولو سره د هغه حالت بدل شو او هغه خپل روح الله تعالیٰ ته حواله کړو۔

د حضرت عثمان ذوالنورینؓ زړهٔ د رسول الله ﷺ د مینې نه ډک وو۔ یو ځل هغویٰ د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړو چې ای رسول الله ﷺ! زړهٔ مې غواړی چې تاسو سره د خپلو ملګرو زما کور ته تشریف راوړئ۔ کله چې نبی کریم ﷺ روان شو نو حضرت عثمانؓ د هغوی شا شا ته روان وو او د نبی کریم ﷺ قدمونه ئې شمیرل۔ نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو چې حضرت عثمان! دا ولې شمیرې؟ عرض ئې اوکړو زهٔ غوارم چې څومره قدمونه تاسو زما کور طرف ته اخستی دی چې دومره غلامات آزاد کړم۔(۱)

## د حضرت ابو بکرؓ د نبي کریم ﷺ سره مینه:

حضراتو د نبوت او رسالت دیارلسم کال وو چې الله تعالیٰ خپل محبوب ته د مکې نه مدینې ته د هجرت حکم ورکړو۔ د هجرت په دې سفر کښې د نبی کریم ﷺ سره هغه شخصیت ملګرې وو چا چې په سړو کښې د ټولو نه اول په نبی علیه السلام ایمان راوړې

(۱) خطبات فقیر۔ صفحه ۴۹۳

وو او د چا په باره کښې چې د نبی علیه السلام د خُلقِ مبارکې نه دا الفاظ وتلی وو۔ما د هر چا د احساناتو او مهربانو بدله خلاصه کړې ده خو صرف د دهٔ بدله مې نه ده خلاصه کړې او دا هغه څوک وو چا ته چې په دنیا کښې د رسالت په ژبه د جنت زیرې ملاؤ شوې وو او دا هغه څوک وو چې د قیامت په ورځ به ورته د جنت د هرې دروازې نه آوازونه کیږی چې راشه جنت ته په ما داخل شه۔

حضراتو د دې کمالاتو خاوند څوک دې۔ دا ابو بکرؓ دې۔ راشئ اوګورئ دا دومره فضیلتونه دهٔ ته څنګه حاصل شوی دی۔ نن تاسو ته د دهٔ د مقام اصلی وجه او جوهر ښایم او دا جوهر د نبی علیه السلام سره د خپل ځان نه زیاته مینه کول وو۔ هم د هجرت په موقع نبی کریم ﷺ سره حضرت ابو بکرؓ روان وو خو کله به د نبی کریم ﷺ شاته شو، کله به ښی طرف ته شو او کله به کس طرف ته شو۔ په توله لاره دا بیقراری او پریشانی وه۔ آخر نبی علیه السلام ترې پوښتنه کوی۔ ای ابوبکر! دا ولې ته کله روستو شې، کله وړاندې شې، کله کس طرف ته شې او کله ښی طرف ته شې۔ راشئ اوګورئ چې حضرت ابوبکرؓ د خپلې پریشانئ او خپل فکر او تلوسې څه جواب ورکړو۔ حضرت ابوبکرؓ هغه جواب ورکړو چې د هغې د هریو ټکی نه مینه، محبت او عشق څرګندیږی۔ ابوبکرؓ اووئیل: ای زما محبوبه! ستاسو نه وړاندې روان یم۔ ناګهانه راته دا خیال راشی چې کافران هم زمونږ په طلب او تلاش کښې دی۔ هسې نه که څوک شاه طرف ته وی او ګذار کوی

نـو زهٔ خـو ورانـدې يـم۔ تـاسو به پرې اولګئ نو يک دم شاه ته شم۔ که غشـې راځی خير دې چې زهٔ پرې اولګم خو چې تاسو بچ شئ او هم دغه فکر او خيال مې کل د شاه نه کس طرف ته بوځی او کله بنی طرف تـه بـوځـی۔ د ابو بکرؓ مينه او محبت اوګورئ څنګه د خپل محبوب سره د مينې او محبت ثبوت ورکوی او څنګه په نبی کريم ﷺ باندې خپل ځان قربانوی۔ الله تعالیٰ دې دا مينه او محبت زمونږه هم نصيب کړی۔(۱)

مسـلـمـانـو رونو راشئ د نبی کريم ﷺ سره د ابوبکرؓ د محبـت يـوه بله واقعه واورئ۔ هم د هجرت په شپه چې کله نبی کريم ﷺ او حضرت ابوبکرؓ غار ته د داخليدو اراده اوکړه نو حضرت انسؓ فـرمـائـی: صـديق اکبرؓ ورته عرض کوی۔ ای زما محبوبه! تاسو لږ انتـظـار اوکـړئ۔ اول زهٔ غار ته ورننوځم۔ که چرته ماريا بل څه نقصانی څيـز پـه کښـې وی نـو ستاسو نه وړاندې به ټک راکوی۔ نبی کريمؐ ورته اجـازت ورکـړو نو حضرت ابو بکرؓ ورداخل شو او په خپلو لاسونو باندې ئې لټول کول۔ کله چې به ئې سوږه اوليدله نو خپل څادر به ئې اوشلولو او پـه هغې به ئې سوږه بنده کړه۔ تردې چې ټولې سورې ئې په خپل څادر بـنـدې کـړې۔ صـرف يوه سوږه پاتې شوه نو خپله پونده ئې په هغې د پـاسـه کـيښـودلـه۔بيـا ئـې رسول الله ﷺ ته د داخليدو دپاره

..................................

(۱) سيرت مصطفیٰ۔ علامه محمد ادريس کاندهلوی۔بيان غار ثور ج۱،ص ۳۶۳

عـرض اوکـړو۔ کـلــه چـې صبـا شـو نو نبی کریم ﷺ ورتـه اوفـرمائیل: ابوبکرؓ ستا څادر څه شو؟ صدیق چې د خپل څادر سره څه کـړی وو هـغـه ئې نبی علیه السلام ته بیان کړل یعنی چې په هغې مې سوړې بندې کړې دی نو مهربان پیغمبر دُعا دپاره لاسونه اوچت کړل او وې فـرمـائیـل: ای الله ابـوبکرؓ ما سره په جنت کښې په یوه درجه کښې جمع کړې نو الله تعالیٰ ورته وحی اوکړه چې ما ستا دُعا قبوله کړه۔

## د عبرت ټکي:

معززو مسلمانانو! ابوبکر صدیقؓ ته الله تعالیٰ هسې دومره لوړ مـقـام نـه وو ورکړې۔ هغه غار چې د کلونو راشې شړ پروت وو او شپه وه، ورځ هـم نه وه خو ابوبکرؓ دا نه خوښوی چې نبی علیه السلام ورته داسې داخل شی بلکه اول په خپله داخلیږی که تکلیف رسی خیر دې چـې مـاتـه رااورسـی خو چې زما محبوب بچ شی۔ که د ژوند شمع مړه کیدل وی خیر دې که زما زندګی ختمه شی خو چې د محبوب د ژوند قیـمتـی لـمحات بچ پاتې شی۔ خیر دې که ابوبکرؓ بدن د زهرو په درد اودردیږی خو چې د محبوب کبریا یو ویښته هم آزار نه شی۔

## د رسول الله ﷺ په مینه کښې د کهجورې ژړا:

د کهجـورې د یـوې تنې نبی کریم ﷺ [illegible] مینه وه۔ نبی کریم ﷺ چې مسجد نبوی جوړ کړو نو په هغې کښې ممبر نه وو۔ په جمات کښې د کهجورې یو تنه وه نو هغې ته به نبی

کريم ﷺ تکيه کوله او خطبه به ئې ورکوله. څه موده پس يو صحابي تميم داريؓ عرض اوکړو: اې د الله تعالىٰ رسوله ﷺ! که اجازت وي نو يو ممبر جوړ کړو. نبي کريم ﷺ اجازت ورکړو نو يو ممبر جوړ کړې شو. بيا چې کله د خطبې وخت راغلو نو نبي کريم ﷺ په ممبر اودريدو او خطبه ورکول ئې شروع کړه. لږ ساعت پس د کهجورې د تنې (هغې ستنې) نه داسې آواز راتلو لکه ماشوم چې په سلګو سلګو ژاړي. ټول خلق حيران شُو، دې تنې ته ئې کتل. نبي عليه السلام د ممبر نه راکوز شو او د کهجورې تنې سره نزدې شو. د دې د پاسه ئې د مينې لاس راښکلو او دلاسه ئې ورکړه. د حديث په کتابونو کښې ليکلي دي چې غاړه ئې ورکړه نو بيا هغه تنه داسې په سلګو چُپ شوه لکه څنګه چې ماشوم د مور سينې سره اولګي او چُپ شي او په يو روايت کښې راغلي دي چې هغې ستنې د حاملې اوښې په شان ژړا کوله. په هغه اندازه چې مسجد د هغه د آوازه څخه په لړزيدو راغې او د اوريدلو دغه ژړا او د ليدلو د دغه وضعې څکه خلکو هم سخته ژړا پيل کړه. تر هغه چې آنحضرت ﷺ خپل مبارک لاس په هغې باندې کيښودو او قلاره شوه او نبي کريمؐ اوفرمائيل قسم دې په هغه ذات باندې چې زما نفس د هغه د قدرت په لاس کښې دې که ما هغه په خپل غيږ کښې نه وې نيولې نو د قيامت تر ورځې پورې به په همدې حالت سره باقي وې. د کهجورې د تنې دومره مينه وه. افسوس چې زمونږ د خپل خوږ پيغمبرؐ سره د

کهجورې د تنې په شان مینه نصیب شوې وه۔(۱)

**واقعه**: شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریاؒ فرمائی چې ما د خپل والد صاحب نه اوریدلی دی چې حضرت مولانا جامی صاحبؒ د نبی کریم ﷺ په صفت کښې یوه قصیده وئیلې وه۔ کله چې حج ته لاړو نو د حج نه پس ئې دا اراده اوکړه چې روضې مبارکې ته به لاړشم او دا قصیده به اووایم۔ دغه وخت کښې امیر مکه خوب کښې حضور ﷺ اولیدو نو نبی علیه السالم ورته اوفرمائیل چې مولانا جامی مدینې منورې ته مۀ راپرېږده۔ امیر مکه دې منع کړو مګر په ده باندې شوق او محبت دومره غالب وو چې په بله لاره باندې په پټه روان شو چې مدینې منورې ته لاړ شی۔ امیر مکه ته دوباره رسول الله ﷺ په خوب کښې اوفرمائیل چې مولانا جامی درنه راروان دې، منع ئې کړه۔ امیر مکه ورپسې سړی اولیږل۔ مولانا جامی ئې واپس بوتلو او ډیره سختی ئې ورسره اوکړه او بیا ئې په جیل کښې واچولو۔ په دریم ځل امیر مکه په خوب کښې رسول الله ﷺ اولیدلو۔ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چې دې څه مجرم نه دې خو یو څو اشعار ئې جوړ کړی دی چې زما په قبر باندې ئې وائی۔ که چرته دې راغلې وې دا اشعار ئې وئیلې وې نو ما به ورته د قبر نه لاس راویستې او مصافحه به مې ورسره کوله۔ نو فتنه به جوړیده۔

..............................

(۱) خطبات فقیر۔صفحه ۱۹۸

هغه ئې د جیل نه واپس کړو او ډیر عزت ئې ورله اوکړو۔ مولانا جامیؒ په رسول الله ﷺ باندې څکه عاشق شوې وو چې ډیر درود شریف به ئې وئیل۔(۱)

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ وَاحِدَةً صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ عَشْرًا.(۲)

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ فرمائیلی: څوک چې په ما یو ځل درود اولیږی الله تعالیٰ په هغه باندې لس ځله رحمت نازلوی۔ حضرت انسؓ فرمائی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: څوک چې په ما یو ځل درود اولیږی الله تعالیٰ به په هغه لس ځله رحمت نازل کړی۔ د هغه لس ګناهونه به معاف کړی او لس اوچتې درجې به ورته ورکړی۔(۳)

**حکایت**: یوه زنانه حضرت حسن بصریؒ ته راغله او عرض ئې اوکړو چې زما لور وفات شوې ده۔ زۀ په خوب کښې د هغې لیدل غواړم۔ حضرت حسن بصریؒ ورته اوفرمائیل چې څلور رکعته نفل مونځ اوکړه او په هر رکعت کښې یو ځل سورة فاتحه او یو ځل سورة التکاثر اولوله۔ پس د ماسخوتن د مانځه نه او د خوب د راتلو پورې درود

..........................................

(۱) د معاشرې اصلاح۔صفحه ۷۷

(۲) رواه مسلم

(۳) نسائی۔ د معاشرې اصلاح۔صفحه ۸۱

شریف وایه. کله چې دا اوده شوه نو خپله لور ئې په خوب کښې اولیدله چې په عذاب کښې ده او تورې د عذاب جامې ئې اغوستې دی او لاسونه ئې بند دی. یو بل سره تړلې دی او په ښپو کښې ئې زنځیرونه دی. کله چې دا زنانه د خوبه بیداره شوه نو د حسن بصریؒ په خدمت کښې حاضره شوه او خپل خوب ئې ورته بیان کړو نو حسن بصری ورته اووئیل چې څه صدقه ورپسې او کړه. شاید چې اوبخښلې شی. کله چې په دې شپه حسن بصریؒ اوده شو نو خوب وینی چې زهٔ په ښکلی باغ کښې یم او په هغې کښې یو ښکلې تخت دې او په هغې باندې یو ښائسته جینۍ ده چې د دې په سر باندې د نوریو تاج دې. هغې ماته اووئیل چې ای حسنه! ته ما پیژنې زهٔ څوک یم؟ حسن بصریؒ اوفرمائیل چې نه. هغې ورته اووئیل چې زه د هغې ښځې لوریم کومې ته چې تا په رسول الله ﷺ باندې درود وئیلو حکم کړې وو. حسن بصریؒ ورته اوفرمائیل چې ستاسو مور خو ماته ستا ډیر بد حال بیان کړې وو. هغې ورته اووئیل چې او دغسې وه. حسن بصریؒ ورته اوفرمائیل چې دې مرتبې ته څنګه اورسیدې. هغې اووئیل چې مونږه په دې مقبره کښې اویا زره (۷۰۰۰۰) خلک وو او دا ټول په عذاب کښې مبتلا وو. بیا یو نیک سړې زمونږه د قبرونو په خوا کښې تیریدو او هغه په محمد ﷺ درود شریف اووئیلو او د هغې ثواب ئې مونږ ټولو ته اوبخښلو او هغه الله تعالیٰ قبول کړو او مونږه ټول الله

تعالیٰ د دې عذاب نه خلاص کړو۔(۱)

ای مسلمانانو! تاسو سوچ اوکړئ چې د یو څل درود شریف وئیلو په برکت سره اویا زره کسان د عذابونو نه خلاص شول۔ دا څومره د خوشحالۍ مقام دې چې په درود شریف کښې دومره زیات ثوابونه ملاویږی۔ باید هر یو مسلمان درود شریف سره شوق پیدا کړی او هر کله د دې وظیفه اوکړی۔ (۲)

محترمو عزتمندو! باید مونږ او تاسو رسول الله ﷺ باندې درود شریف اووایو او مینه محبت ورسره اوکړو۔ رسول الله ﷺ سره مینه محبت الله تعالیٰ سره مینه محبت کول دی۔ الله تعالیٰ فرمائیلی دی: مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ۔(۳)

ترجمه: "یعنی هر هغه څوک چې اطاعت اوکړی د پیغمبر ﷺ نو هر اطاعت ئې کړې دې د الله تعالیٰ او د پیغمبر ﷺ سره مینه او محبت کول عین محبت او مینه کول دی د الله تعالیٰ سره۔

عَنْ اَبُوْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِيْ عِنْدَ فَسَادِ اُمَّتِيْ فَلَهٗ اَجْرُ مِائَةِ شَهِيْدٍ.(۴)

..........................................

(۱) القول البدیع (۲) یواقیت الاعمال۔صفحه ۱۵۵

(۳) سورة النساء۔ آیت ۸

(۴) رواه مشکوٰة شریف

ترجمه:" له حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دي چې رسول الله ﷺ او فرمائیل چا چې مضبوطیا سره اونیولو زما سنت زما د اُمت د فساد په وخت کښې نو د دهٔ دپاره به د سلو شهیدانو اجراو ثواب وی۔

عَنْ اَبُوْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَطَاعَنِيْ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ وَ مَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَ مَنْ يُّطِعِ الْاَمِيْرَ فَقَدْ اَطَاعَنِيْ وَ مَنْ يَّعْصِ الْاَمِيْرَ فَقَدْ عَصَانِيْ.

ترجمه:"له حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دي چې رسول الله ﷺ او فرمائیل: چا چې زما اطاعت اوکړو نو هغه د الله تعالیٰ اطاعت اوکړو او چا چې زما نافرمانی اوکړه نو هغه د الله تعالیٰ نافرمانی اوکړه او چا چې د امیر اطاعت اوکړو هغه زما اطاعت اوکړو او چا چې د امیر نافرمانی اوکړه هغه زما نافرمانی اوکړه۔(۱)

**تشریح**: نبی کریم ﷺ بغیر د وحی نه هیڅ خبره نه کوی نو د هغه خبره په حقیقت کښې د الله تعالیٰ خبره ده۔ همدارنګه د عادل بادشاه اطاعت په حقیقت کښې د نبی کریم ﷺ اطاعت دي ځکه چې عادل بادشاه به د قرآن او حدیث مطابق فیصله کوی او هغه په حقیقت کښې د نبی کریم ﷺ خبره ده۔(۲)

..................................

(۱) رواه بخاری و مسلم

(۲) مراد الطالبین۔صفحه ۸۸

الله تبارک و تعالیٰ فرمائی: وَ مَا اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ج وَ مَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ج وَاتَّقُوا اللّٰهَ طاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٧﴾ (١)

ترجمه:" او هغه څه چې در کړی تاسو ته رسول د الله تعالیٰ نو وائې خلئ، وې نیسئ، قبول ئې کړئ او هغه څه چې منع کوی رسول الله ﷺ تاسو له هغه څخه نو منع شئ ترې، مه ئې کوئ او ویریږئ له عذاب د الله تعالیٰ نه۔ بیشکه د الله تعالیٰ عذاب سخت دې"۔

محترمو عزتمندو! نن توله دنیا په مغربی تهذیب باندې مئینه ده۔ هر سړې مغربی لباس، مغربی شکل و صورت او مغربی طور طریقه خپلولو کښې فخر محسوسوی او اسلامی تهذیب ته په سپک نظر سره کوری۔ د حضرت عبدالله بن عمرؓ بیان دې چې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چې مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ ۔چا چې د کوم قوم مشابهت اختیار کړو هغه د هغوئ نه دې۔(٢)

په دې حدیث کښې هغه خلقو دپاره سخت وعید دې څوک چې د کافرانو یهودیانو عیسایانو فاجرانو فاسقانو مشابهت اختیاروی۔ دغه شان کوم سړې چې د ښځو مشابهت اختیاروی یا کومې ښځې چې د سړو مشابهت اختیاروی هغوی دپاره هم احادیثو کښې سخت وعتدنه راغلی دی۔ حضرت عبدالله بن مسعودؓ بیان کوی چې نبی

.................................

(١) سورة الحشر

(٢) رواه احمد و ابو داؤد ۔ مشکوٰة ۔ صفحه ٣٧٥

کریم ﷺ او فرمائیل چې د الله تعالیٰ لعنت دې په هغه سړو باندې څوک چې د ښځو مشابهت اختیاروی او په هغو ښځو باندې څوک چې د سړو مشابهت اختیاروی لیکن کوم خوش نصیبه چې په دې بې دینه ماحول کښې د بې شمیره ملامتیا او سپکاوی باوجود د دواړو جهانو د سردار ﷺ سنتونو باندې عمل کوی۔(۱)

الله تعالیٰ دې زمونږه مینه او محبت د خپل پیغمبرؐ سره پیدا کړی۔ آمین یا ربّ العالمین

☆☆☆

☆

................................

(۱) خورې ملغلرې۔ صفحه ۳۹

# تقریر په فضیلت د جهاد کښې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ سَلَامٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِیْنَ اصْطَفٰی:
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّکُمْ عَلٰی تِجَارَةٍ تُنْجِیْکُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِیْمٍ ﴿۱۰﴾ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ تُجٰهِدُوْنَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِکُمْ وَ اَنْفُسِکُمْ ذٰلِکُمْ خَیْرٌ لَّکُمْ اِنْ کُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۱﴾ عَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ جَاهِدُوا الْمُشْرِکِیْنَ بِاَمْوَالِکُمْ وَ اَنْفُسِکُمْ وَ اَلْسِنَتِکُمْ اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِکَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَی النَّبِیِّ ط یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا ﴿۵۶﴾ صَلَّی اللّٰهُ عَلَی النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ.

زما معززین کرام الله ربّ العالمین خالق لایزال لکه څرنکه مونځ او روژه او زکوٰة فرض کړی او ارکان اسلام دی همدارنکه الله ربّ العزت جهاد هم فرض کړې او معظم رکن الاسلام دې۔ لیکن افسوس دا دې چې جدید عصر کښې مسلمان قوم د جهاد بالکل غافل شوې دې او مسلمانانو ته جها د کافرو او د کافرو ملګرو د وحشت په انداز معرفی کړې او جهاد ته فساد او دهشت نوم ورکوی او څوک چې جهاد کوونکی دی هغوی ته ارهابین او دهشت کرد وائی۔ حتیٰ چې کفار دا وائی چې د مسلمانانو پیغمبر سیدالعرب والعجم محمد

مصطفیٰ ﷺ (نعوذ بالله) دهشت کرد پیغمبروو او مسلمانانو ته ئې امن نه دې راوړې بې امنی ئې راوړې۔ افسوس دا دې چې مسلمان قوم اوس هم د غفلت په خوب اوده دې۔ دا هغه پیغمبر ﷺ دې چې په مسلمانانو باندې د خپلو نفسونو نه هم زیات مهربان دې۔ کَمَا قَالَ اللهُ تَعَالَى النَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَ اَزْوَاجُهٗ اُمَّهٰتُهُمْ۔ (۱)

ترجمه: "محمد ﷺ د الله نبی ډیر لائق دې له مؤمنانو سره د هغوی د خپل خانه هم او ښځې د نبی کریم ﷺ میندې د دوی دی (تعظیماً او تحریماً)۔او په رسول الله ﷺ او د رسول پاک ﷺ په قانون باندې مختلف الزامات و اعتراضات کیږی او مسلمان قوم ورباندې هیڅ خفګان ښکاره نه کړو۔ باوجود د کافرو ملکرتیا هم کوی۔

## د جهاد لغوي او اصطلاحي معني:

جهاد دجهد نه ماخوذ دې۔ په لغت کښې نفس کوشش ته وائی او په اصطلاح د شریعت کښې جهاد عبارت دې د یو باطل او د کافر په خلاف د الله تعالیٰ په رضا او د اعلاء د کلمة الله او د اسلا د غلبې او د دفاع په خاطر او د فتنه دروازه بندولو دپاره مقابله کول۔ برابره خبره ده که په بدن سره وی یا په ژبې سره یا په مال سره وی نو

(۱) سورة الاحزاب۔آیت ٦

دینه د جهاد اقسام هم معلوم شو چې د جهاد د اقسامو رجعه درې اقسامو ته کیږي لکه حدیث کښې راځي۔

عَنْ اَنَسٍؓ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ جَاهِدُوا الْمُشْرِكِيْنَ بِاَمْوَالِكُمْ وَ اَنْفُسِكُمْ وَ اَلْسِنَتِكُمْ.(۱)

حضرت انسؓ فرمائی چې خپلو مالونو، ځانونو او ژبو باندې د مشرکانو خلاف جهاد اوکړئ نو جهاد رې قسمه شو۔ جهاد بالمال، جهاد بالنفس، جهاد باللسان۔ یعنې مشرکانو سره چې په هره طریقه مو وس وی نو جهاد کوئ۔ مال سره جهاد دا دې چې د مجاهدینو سره امداد اوکړئ او په پیسو ورته د جنګ سامان واخلئ وغیره او په ځان سره جهاد دا دې چې په خپله جهاد ته لاړ شی او په ژبې سره جهاد دا دې چې کافران یروی او مسلمانانو کښې د جهاد شوق پیدا کوی۔ (۲)

عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلْجِهَادُ وَاجِبٌ عَلَيْكُمْ مَعَ كُلِّ اَمِيْرٍ بِرًّا كَانَ اَوْ فَاجِرًا وَ الصَّلٰوةُ وَاجِبَةٌ عَلَيْكُمْ خَلْفَ كُلِّ مُسْلِمٍ بِرًّا كَانَ اَوْ فَاجِرًا وَ اِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ.(۳)

ترجمه:"د ابو هریرهؓ نه روایت دې: هغه وائی چې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: جهاد په تاسو باندې واجب او فرض دې۔

........................................

(۱) رواه ابو داؤد و احمد و الدارمی

(۲) مراد الطالبین۔صفحه ۹۵

(۳) اخرجه الدارقطنی

دلتـه د واجـب نه مراد فرض دي۔ په قيادت د هر هغه امير کښې چې هـغـه کـه نيک وی او کـه فاجر ګنهګاراو مونږ په تاسو باندې فرض دې۔ پـه امـامـت د هـر هغه مسلمان کښې چې هغه نيک وی او که فاجر اګر که لوئې ګناهونه هم کوی۔

نـو فـرض هـم ديـنـه وائی چې په کولو کښې ئې ثواب ورکول کيـږی او په نه کولو ئې سزا او عذاب ورکول کيږی او په انکار کولو سره سـرې کـافر کيږی نو څنګه چې مونږ فرض دې نو دغه شان جهاد هم فرض دې۔(۱)

الله تـعـالـیٰ فـرمـائـي: فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ وَ خُذُوْهُمْ وَاحْصُرُوْهُمْ وَاقْعُدُوْلَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ.(۲)

تـرجـمــه:''مـره کـړئ او وژنــئ مشـرکانو لره هر ځائ چې مومئ تاسو اونيســئ او مـحـاصـره کړئ دوی لره او کينئ دوی دپاره په هر مورچه کښې۔(۳)

الله تعالیٰ په سورة البقره کښې فرمائيلی دی: وَ اَنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَ لَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ.

''د الله تـعالیٰ په لار کښې خرچ کوئ او خپل ځان په هلاکت

(۱) صراط النجات فی سبيل الجهاد۔ صفحه ۸٦

(۲) توبه۔۵

(۳) صراط النجات۔صفحه ۱۴۲

کښې مه اچوئ۔ دا آیت یو تابعی هغه وخت اوونیلو چې کله یو صحابیؓ د کافرانو په یوه ډله باندې خپل اس ورواچولو نو تابعی اوونیل چې قرآن خو وائی۔ وَ لَاتُلْقُوْا بِاَیْدِیْکُمْ اِلَی التَّهْلُکَةِ ''خپل ځان په هلاکت کښې مه اچوئ'' او هغه سترګې پټې کړې او د کافرانو په ډلې باندې ئې حمله اوکړله نو دویم صحابیؓ دا تابعی فوراً اورټلو او ورته ئې اوونیل چې ته نه پوهیږې د دې آیت او د دې په معنیٰ باندې۔ مونږ ښه پرهیږو ځکه چې دا په مونږ د انصارو په باره کښې راغلې دې۔ هر کله چې دا آیت نازلیدلو نو مونږ موجود وو او اوشول داسې چې کله دین اسلام ته الله تعالیٰ څه حده پورې غلبه ورکړله نو په انصارو کښې بعض صحابه کرامؓ دا سوچ اوکړو چې اوس اسلام ته غلبه ورکوونکی کسان ډیر شول اوس به مونږ د خپلو مالونو او فصلونو خیال کوو او د هغې اصلاح به کوو۔ اوس که مونږ مال هم خرچ نه کړو نو څه وبال او ګناه نشته۔ کار کوونکی او میدان سنبالوونکی ډیر شول نو لهٰذا هغوئ د سستۍ طرف ته لږ مائل شول نو فوراً دا آیت نازل شو نو دا آیت د جهاد سره خاص دې چه په جهاد کښې مال خرچ کړئ او که چرې مال مو خرچ نه کړو نو هلاک به شئ (یعنی که چرې انفاق فی سبیل الله مو بند کړو نو ټول نظام به بالکل اودریږی۔ د یو مجاهد سره چې کله سورلی نه وی نو هغه به د جهاد میدان ته څنګه رسی او کله چې ده سره ټوپک نه وی نو هغه مقابله نشی کولې نو چې کله مقابله اونه کړی نو میدان جنګ به خالی پاتې شی او کافران به راشی حمله

بـه او کړی او ټول به هلاک کړي۔ دا مطلب شو د وَ لَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ . که چرې خرچ مو اونه کړو نو تاسو خپل ځان په خپله په هلاکت کښې واچولو ۔(۱)

وَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ يُوْشِكُ الْاُمَمُ اَنْ تَدَاعٰى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَ الْاَكِلَةُ اِلٰى قَصْعَتِهَا فَقَالَ قَائِلٌ وَ مِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ قَالَ بَلْ اَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيْرٌ وَ لٰكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ وَ لَيَنْزِعَنَّ اللّٰهُ مِنْ صُدُوْرِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَ لَيَقْذِفَنَّ فِيْ قُلُوْبِكُمُ الْوَهْنَ قَالَ قَائِلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَاالْوَهْنُ قَالَ حُبُّ الدُّنْيَا وَ كَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ. (۲)

ترجمه:"او نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې نزدې ده چې مختلفی ډلې (یعنی د کفارو او منافقانو) به یو بل رااوبلی ستاسو په خلاف بـانـدې لـکـه څنګه چې رابلی خوراک ورکونکې ښځه (خلک) خپلې کاسې ته نو اوونیل یو ویونکی آیا دا به زمونږ د کموالی په وجه وی۔ په دغـه ورځ بـانـدې هـغوئ ﷺ اوفرمائیل نه بلکه تاسو به په شـان د زک یئ، په شان د زک د سیلاب او خامخا به اوباسی الله تعالیٰ لـه سینو د دشمن ستاسو نه ویریدل له تاسو نه او خامخا به واچوی په زړونـو کښـې کـمـزوری (بـزدلـی) اوونیـل یـو ویونکی ای د الله تعالیٰ

............................................

(۱) علمی تقریرونه۔ صفحه ۱۹۷

(۲) رواه ابو داؤد

رسـو له ﷺ! کمزوری بزدلی څه شي دي۔ هغوی ﷺ اوفـرمـائيـل د دنيـا سره محبت کول او نه خوښول د مرگ (يعنی چې کـله د خلکو په زړونو کښې د دنيا سره محبت شروع شی نو هغوی بيا مـرگ نـه خـوښـوی او جهـاد به پريږدی او کله چې مسلمانان جهاد پـريـږدی نـو دوی به کمزوری شی نو هر قوم به په دوی حمله کول او زورزياتی کول شروع کړی۔(۱)

اللہ تعالیٰ په خپل کتاب قرآن کريم کښې فرمائيلی دی:

يٰاَيُّهَا الَّـذِيـْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۱۰﴾ تُـؤْمِـنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ تُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ وَ اَنْفُسِكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۱﴾ (۲)

تـرجـمـه:" اللہ تعالیٰ فرمائی: ای ايمان والو! آيا تاسو ته يو داسې تجارت او لاره اوښـايـم چې تاسو لره د دردناک عذاب اور د ذلت نه بچ کړی نو هـغـه دا چې د اللہ او د هغه په رسول ﷺ باندې ايمان راوړئ او د اللہ پـه لاره کښـې په خپلو مالونو او نفسونو سره جهاد اوکړئ۔ دا غوره دی تاسو لره که تاسو پوهيږئ"۔

يـعنی د اللہ عذاب او د کفارو له هر مصائبو څخه د نجات لاره صـرف او صـرف جهـاد فـی سبيل اللہ دې لکه په حديث مبارک

..................................

سراد الطالبين شرح زاد الطالبين۔صفحه ۲۷

سورة الصّف۔۶۱

کښې هم راځی چې رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی:

جَاهِدُوْا فِی سَبِیْلِ اللّٰهِ فَاِنَّ الْجِهَادَ بَابٌ مِنْ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ وَ اِنَّ اللّٰهَ یُنَجِّیْ بِهٖ مِنَ الْهَمِّ وَالْغَمِّ.(۱)

ترجمه:" جهاد اوکړئ د الله تعالیٰ په لاره کښې ځکه چې جهاد د جنت یو دروازه ده۔ د دروازو د جنت څخه۔ یقیناً الله تعالیٰ د دې جهاد په ذریعه سره مسلمانانو لره د هر قسم مشکلاتو او د مصیبتونو او د غمونو نه بچ کوی"۔

یعنی د کفارو د غلامئ او د ذلت زندګئ څخه د بچاؤ لاره هم دغه جهاد دې۔

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ مَاتَ وَ لَمْ یَغْزُ وَلَمْ یُحَدِّثْ بِهٖ نَفْسَه' مَاتَ عَلٰی شُعْبَةٍ مِّنْ نِّفَاقٍ.(۲)

"د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل کوم سړې چې (مؤمن) مړ شی او جهاد اونه کړی او نه د هغه زړه کښې د جهاد خیال تیر شی نود هغه مرګ به یو قسم په نفاق وی"۔

د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دې چې یو صحابیؓ له یو داسې علاقې نه تیر شو چې هلته د خوږو اوبو چینې (چشمې) وې۔ هغهٔ اووئیل چې زهٔ له خلکو نه لرې کیږم۔ دلته د الله تعالیٰ عبادت کوم او

.................................

(۱) رواه مسند احمد

(۲) رواه مسلم

هم دلته اوسیږم لیکن رسول الله ﷺ د اجازې نه بغیر هر گز داسې نه کوم- هغه رسول الله ﷺ خوا ته راغې او عرض ئې اوکړو چې ماته هلته د اوسیدو اجازه راکړئ- رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل داسې مهٔ کوه ځکه چې د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد کول په کور کښې د اویا کالو مونځ نه بهتر دې- آیا ته دا خبره نه خوښوې چې الله تعالیٰ تا معاف کړی او تا په جنت کښې داخل کړی- د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد اوکړه- کوم سړې چې د اوښې د لوشلو د وخت په برابر جهاد اوکړی هغه دپاره جنت واجبیږی- (۱)

یو حدیث کښې ذکر دی چې رسول الله ﷺ نه چا تپوس اوکړو چې کوم عمل د ټولو عملونو نه بهتر دې نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: په خپل وخت مونځ کول او مورو پلار سره حُسن سلوک کول او د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد کول-(۲)

د حضرت ابن عباسؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې دوه سترګې داسې دی چې د دوزخ اور ئې نه شی مسح کولې- یوه هغه سترګه چې د الله تعالیٰ د خوف نه ژړیدلې وی او دویمه غه سترګه چې د الله تعالیٰ په لاره کښې (یعنی په جهاد کښې کفارو نه د مجاهدینو نګهبانی کولو سره ئې شپه تیره کړې وی-(۳)

..............................

(۱) مکاشفة القلوب (۲) بخاری .

(۳) ترمذی- د معاشرې اصلاح- صفحه ۳۲۸

د حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ
اوفرمائیل چې کوم سړې د الله تعالیٰ په لاره کښې په جهاد کښې زخمي شی او الله تعالیٰ هغه سړې ښهٔ پیژنی چې د هغه په لاره کښې زخمي کیږی نو هغه مجاهد به د قیامت په ورځ داسې حال کښې راځی چې د هغه د زخم نه به وینې بهیږی او د هغې رنګ خو به د وینې په شان وی لیکن د هغې خوشبوئی به د مشک په شان وی۔(۱)

وَ لَا تَحۡسَبَنَّ الَّذِيۡنَ قُتِلُوۡا فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ اَمۡوَاتًا ؕ بَلۡ اَحۡيَآءٌ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُوۡنَ ﴿۱۶۹﴾ (۲)

ترجمه:" کوم خلک چې د الله په لاره کښې شهیدان شوی دی هغوی مړهٔ مهٔ ګڼئ بلکه هغوی د خپل پروردګار په نزد ژوندی دی رزق ورته ورکولې شی"۔

د حضرت انسؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ
اوفرمائیل چې جنت کښې به جنتیان دا نهٔ خوښوی چې هغه دنیا ته واپس لاړ شی او د جنت نعمتونو په عوض کښې د دنیا تمام څیزونه قبول کړی خو شهید به دا آرزو کوی چې هغه نیا ته واپس لاړ شی او لس ځله د الله تعالیٰ په لاره کښې شهید شی ځکه چې هغه د شهادت د عظمت او د هغې په ثواب پوهیږی۔(۳)

(۱) بخاری و مسلم ۔ د معاشرې اصلاح۔صفحه ۳۸۱
(۲) سورة آل عمران (۳) بخاری و مسلم

**تشریح**: ای مسـلـمانانو! جنت داسې یو ځائ دې چې هلته د انسان زړهٔ غواړی هغه به ورته میلاویږی۔ د هیڅ یو څیز کمې به په کښې نه وی۔ مرض به په کښې نه وی، عبادت به په کښې نه وی،غم به په کښـې نـه وی او هـلتـه به جنتیان همیشه دپاره خوشحاله وی، تولې مـزې مـزې بـه وی، جـنتیـان بـه د دې نعمتونو په بدله کښې د دنیا نـعـمتـونـه هیـڅ کله نه خوښوی خو شهید د دې نعمتونو باوجود د شهادت ارمان کوی چې یا الله تعالیٰ! ما دنیا ته اولیږه چې زهٔ ستا په لاره کښـې جهـاد اوکـړم بیـا شهید شم ، بیا ژوندې شم او بیا شهید شم، بیا ژوندې شم او بیا د الله تعالیٰ په لاره کښې شهید شم۔

ای مسـلـمانانو! د شهادت داسې خوند دې چې په جنت کښې بـه هـم شهیـدان د شهادت ارمان کوی۔ په ظاهره کښې خو انسان ته جهاد او شهادت کران ښکاری خو په حقیقت کښې ډیرآسان دې او ډیر زیات خوندور دې۔

عَـنْ اَبِـیْ هُـرَیْـرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَالَّـذِیْ نَـفْسِـیْ بِیَدِهٖ لَوَدِدْتُ اَنْ اُقْتَلَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ثُمَّ اُحْیٰی ثُمَّ اُقْتَلُ ثُمَّ اُحْیٰی ثُمَّ اُقْتَلُ ثُمَّ اُحْیٰی ثُمَّ اُقْتَلُ.(۱)

د حـضـرت ابـو هـریـرهؓ نه روایت دې چې هغه وائی: نبی کریم ﷺ فـرمـائیلی دی: زما قسم دې په هغه ذات چې د هغه په

........................................

(۱) رواه البخاری

لاس کښې زما ساده ده۔ زما خو دا ارمان او آرزو او تمنا ده چې د الله تعالیٰ په لاره کښې اووژلې شم او شهيد شم بيا ژوندې شم او بيا اووژلې شم بيا ژوندې شم او بيا اووژلې شم۔ تر سل ځله پورې بيا مړ شم۔

نو عزتمندو مسلمانانو! دا څه وجه دې چې رسول الله ﷺ د دومره لوئې شان او مرتبې بلوجود د شهادت سوال کوی نو عزتمندو! وجه دا ده چې بعضې داسې جزئی فضائل دی چې هغه د شهادت په وجه صرف شهداء ته ميلاويږی او د شهداء نه علاوه بل هيچا ته نهٔ ميلاويږی حتیٰ چې يو نبی يا غير نبی ته هم نه ميلاويږی نو هغه جزئی فضائل په خپله جناب رسول الله ﷺ په حديث کښې ذکر کوی چې دا حديث علامه قرطبی په خپل تفسير کښې ذکر کړې دې۔

عَنِ الرَّسُوْلِ ﷺ اَنَّهٗ قَالَ اَکْرَمَ اللّٰهُ تَعَالٰی الشُّهَدَآءَ بَخمْسِ کَرَامَاتٍ لَمْ يُکْرِمْ بِهَا اَحَدٌ مِنَ الْاَنْبِيَآءِ وَ لاَ اَنَا.

د رسول الله ﷺ نه روايت دې چې هغه فرمائيلی دې چې الله ربّ العزت شهداؤ ته داسې انعامات او عزتونه او غوره والې ورکړې دې چې هغه ئې هيڅ نبی او غير نبی حتیٰ چې ماته هم نه دې راکړې شوې۔

يو د هغوی نه دا دې چې د ټولو انبياء عليهم السلام روحونه ملک الموت قبض کړی دی او زر دې چې زما روح به هم ملک الموت قبض کړی نو هر چې شهداء دی نو د هغوی په ارواحو ويستلو الله تعالیٰ ملک الموت نه مسلط کوی بلکې الله ربّ العزت په خپله

شان او قدرت څرنګه چې اوغواړی نو د شهداء ارواح به په خپله قبض کوی او ملک الموت به د هغې په ارواحو قبض کولو نه مسلط کوی۔

دویـم دا چـې تولو انبیاء علیهم السلام ته غسل ورکړې شوې دې۔ وروستـه د مـرګ نه او ماته به هم غسل راکول کیږی نو هر چې شهداء دی نو هغوی ته به غسل نشی ورکولې او نه هغوی دپاره د دنیا اوبـو تـه څه ضرورت شته دې بلکې هغوی به دفن کولې شی د هغوی په وینو سره۔

دریـم دا چې تولو انبیاء علیهم السلام ته کفنونه ورکړې شوی دی او مـاته به هم کفن راکول کیږی لیکن هر چې شهداء دی نو هغوی تـه کـفـن نشـی ورکوې بلکې هغوی به په خُلو وینو او په جامو کښې دفن کولې شی۔

څلورم دا چې یقیناً انبیاء علیهم السلام هر کله چې مړهٔ شوی دی نـو هغوی ته مړی وئیلې کیږی نو کله چې زهٔ هم مړ شم نو ماته به هم مړ وئیلې کیږی خو هر چې شهداء دی نو هغوی ته مړهٔ نشی وئیلې کیدلې بلکښې هغوی د الله تعالیٰ په نزد ژوندی دی۔

پـنـځـم دا چـې انبیـاؤ علیهم السلام ته د شفاعت اجازت په قیامت کښې ورکول کیږی او ماته به هم د شفاعت اجازت په قیامت کښې راکول کیږی نو هر چې شهداء دی نو هغوی به هره ورځ شفاعت کول غواړی خو چې الله تعالیٰ ورته حکم ورکړی۔(۱)

..................................

(۱) صراط النجات فی سبیل الجهاد۔ صفحه ۲۸

د نبی کریم ﷺ تره حضرت حمزهؓ غزوه اُحد کښې شهید شو او بې درده کافرانو د دوئ غوږونه، پوزه وغیره اندامونه پریکړل او سینه ئې ورله او څیرله، زړه ئې ترې رااوویستو او قسما قسم ظلمونه ئې پرې اوکړل۔ د جنګ په ختمیدو نبی کریم ﷺ او نورو صحابوؓ د شهیدانو د لاشونو تلاش شروع کړو۔ د هغوی د کفن انتظام ئې کولو چې حضرت حمزهؓ ئې په دې حالت کښې اولیدو۔ ډیر خفګان پرې تیر شو او په یو څادر ئې پټ کړو۔ په دې کښې د حضرت حمزهؓ حقیقی خور حضرت صفیهؓ تشریف راوړو چې د خپل ورور حال اووینی۔ نبی کریم ﷺ په دې خیال چې آخر ښځه ذات ده د داسې ظلمونو د کتلو زغمل به ورته ګران شی۔ د هغې ځوئ حضرت زبیرؓ ته ئې ارشاد اوفرمائیلو چې خپله مور د کتلو نه منع کړه۔ هغه مور ته عرض اوکړو چې نبی کریم ﷺ د کتلو نه منع فرمائیلې ده۔ هغې اووئیل چې ما دا اوریدلی دی چې زما د ورور پوزه، غوږونه وغیره پریکړې شوی دی۔ د الله تعالیٰ په لاره کښې۔ دا کومه لویه خبره ده۔ مونږ په دې راضی یُو۔ زه د الله تعالیٰ نه د ثواب اُمید لرم او انشاء الله صبر به کوم۔ حضرت زبیرؓ نبی علیه السام ته راغې د مور خبرې ئې ورته عرض کړې نو نبی علیه السلام چې د هغې جواب واوریدو نو د لیدو اجازت ئې ورکړو۔

یو روایت کښې دی چې غزوه اُحد کښې کوم ځائ چې شهیدان پراته وو یوه ښځه په تیزئ سره راتله۔ نبی علیه السلام

اوفـرمـائیـل اوکورئ دا بنځ منع کړه۔ حضرت زبیرؓ فرمائی ما اوپیژنده چې زما مور ده۔ زهٔ په تلوارئ منع کولو دپاره ورمخکښې شوم خو هغه طـاقتـوره وه زهٔ ئـې یـوه مُـوکـه اووهلم او وې وئیل،لرې شه۔ ما ورته اووئیـل چې نبی علیه السلام منع فرمائیلې ده نو فوراً اوردیده۔ دې نه پـس ئـې دوه څادرې رااویستې۔ وې فرمائیل چې ما د خپل رور د کفن دپـاره راوړی دی چې د هـغه د وفات خبر مې واوریدو په دې څادرونو کښې کفن ورکړئ۔ مونږه هغه څادرونه واخستل حضرت حمزهؓ مو په کښې کفن کولو چې خوا کښې ورسره یو انصاری شهید پروت وو چې د هغه نوم سهیلؓ وو۔د هغه هم کافرانو داسې حال کړې وو څنګه چې د حـضـرت حـمزهؓ وو۔ مونږته د دې خبرې نه شرم راغلو چې حضرت حـمـزهؓ ته دې دوؤ څادرونو کښې کفن ورکړې شی او د انصاری دې یو هـم نـه وی۔ په دې وجه مونږه دواړو دپاره یو یو څادر مقرر کړو۔خو یو څـادر پـه هغې کښې لوئې وو، دویم لنډ۔ نو مونږه خسنړی یعنی (پچه) واچوله چې خسنړی (پچه) کښې کوم څادر د چا په حصه کښې راغلې په هغې کښـې بـه کفن کړې شی۔ په خسنړی (پچه) کښې لوئې څادر د حـضرت سهیلؓ په حصه کښې راغلې او لنډ د حضرت حمزهؓ په حصه کښـې راغـې چـې د هـغه د قد نه هم کم وو۔ که سر به مو ورله پټولو نو پښـې بـه ئې ښکاره کیدلې او که د پښو طرف ته به مو کړو نو سر به ئې ښـکـاره کیـدو۔ نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چې سر ورله په

څادر پټ کړئ او په پښو ورله پانړې وغيره واچوئ۔(۱)

بهرحال مسلمانانو ورونو صحابه کرامؓ ډيرې قربانئ او تکليفونه تير کړی دی۔ ای مسلمانانو! د صحابه کرامو جهاد سره انتهائی زياته جذبه وه۔ چې کله به رسول الله ﷺ اعلان د جهاد اوکړو نو ټول صحابهؓ به په شوق سره رسول الله ﷺ ته حاضريدل۔ نو کله به چې مال ته ضرورت وو نو زيات مال به ئې راوړلو او چې که د بدنی قربانئ کولو ضرورت به وو نو د ټولو نه به مخکښې روان وو۔ د غزوهٔ اُحد په موقع چې کله رسول الله ﷺ اعلان اوکړو نو ټول په شاق حاضر شول۔ ترڅې چې ماشومان هم حاضر شول او رسول الله ﷺ به منع کول چې ماشومان مه راځئ او دوی به د ښپو په سرونو اودريدل چې رسول الله ﷺ ته غټ ښکاره شو او جهاد ته مو بوځی۔ دومره ماشومان ماشومان به د جهاد په جذبه کښې د کورونو نه روانيدل چې د هغوی نه به ټورې په زمکه لګيدلې۔ دومره د هغوی شوق جهاد سره وو خو افسوس دا چې نن سبا مسلمانان اهمې فريضې نه چې جهاد دې غافل دی او کوم مسلمانان چې جهاد کوی او يا د جهاد آواز پورته کوی نو دوی په قسمام قسم الفاظو بدنامه کيږی۔ کله ورته دهشت ګرد وائی او کله ورته فساد پيشه وائی او کافران خو ورځ په ورځ

............................

(۱) خميس۔ فضائل اعمال۔ صفحه ۴۲

لکیدلی دی د جهاد کوونکو بیخ اوباسی او ځینې په نوم مسلمانان ورسره کار کوی او د کافرانو د پیسو په وجه د دوی سرونه هغوی ته تیت شوی دی چې کافران ورته کوم طرف ته اشاره کوی نو دوی ورته لبیک وائی۔قرآن او د اهل قرآن ختمول غواړی۔ دا څنګه مسلمانان دی۔افسوس د داسې مسلمانانو په حال باندې۔ ای مسلمانانو ورونو! نن رسول الله ﷺ نشته او حضرت ابوبکرؓ نشته، عمرؓ نشته چې د یتیمانو اوښکې پاکې کړی۔ نن ورځ هغه ماشومان چې د نازپه بسترو به ئې خوب کولو نن خاورو سره لوبې کوی۔ هغه تورسرې چې مخ ئې نمر نه وو لیدلې نن ورځ د هغوی خاوندان شهیدان شوی دی۔ د هغوی سرپرست څوک نشته۔هغوی بهر د بل چا کورونو کښې خدمت کوی، خپل ماشومانو ته رزق پیدا کوی او نن په هر کور کښې د امریکې د لاس د چغو آوازونه راځی، پلاران خپل بچو ته آوازونه کوی چې زما بچی څه شول او د هغوی بچی د خاورو سره لوبې کوی۔ ماشومان ژاړی فریادونه کوی چې زمونږ پلاران څه شول۔ د هغوی پلاران خاورو سره لوبې کوی او زمونږ مسلمانان د امریکې په جیلونو، قیدخانو کښې آوازونه کوی چې زمونږ د بچیانو حفاظت اوکړئ۔

ای مسلمانانو! آخر خو مونږ ته څه غیرت پکار دې۔ ترکومې پورې به داسې غفلت کښې پاتې کیږو۔ ای مسلمانانو! پاڅئ د دین دفاع اوکړئ، د قرآن پاک دفاع اوکړئ، د خپل ناموس دفاع اوکړئ۔ ای خلکو! زمونږ د دین بې عزتی کیږی، زمونږ د قرآن بې عزتی کیږی۔

پاځئ ای مسلمانانو! خپل دین د کافرانو نه واخلئ او خپل شان اوچت کړئ۔ بـایـد مونږ او تاسو خپل زامن هم جهاد ته اوباسو او په خپله هم جهاد اوکړو۔ آخر کښې دا دُعا کوم چې یا الله تعالیٰ! یا الله تعالیٰ! یا الله تعالیٰ! مونږ نه د صحابه کرامؓ په شان مجاهدین جوړ کړې، مونږ کښې داسې ایمان پیدا کړی چې خپل مال او سر په دین قربان کړو۔ آمین ثم آمین ۔ وَ مَا عَلَیْنَا اِلَّا الْبَلٰغ

☆☆☆

☆

# تقریر په فضیلت د توبې کښې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ سَلَامٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِیْنَ اصْطَفٰی:

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی فِیْ قُرْآنِهِ الْمَجِیْدِ وَ فُرْقَانِهِ الْحَمِیْدِ. یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْا اِلَی اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ط عَسٰی رَبُّکُمْ اَنْ یُّکَفِّرَ عَنْکُمْ سَیِّاٰتِکُمْ وَ یُدْخِلَکُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ.

عَنْ عَبْدُ اللّٰهِ بِنْ مَسْعُوْدَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ کَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ.

اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِکَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَی النَّبِیِّ ط یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا۝ صَلَّی اللّٰهُ عَلَی النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ.

زما د اسلام خوږو ورونو! اوس به تاسو ته د توبې بیان کیږي۔

د توبې لفظي معنی ده واپس کیدل او رجوع کول او په شریعت کښې د څه ګناه نه منع کیدل توبه کنړلې شي۔ د دې صحیح کیدو دپاره درې شرطونه دي۔ یو خو دا چې کومه ګناه کښې بنده مبتلا وی هغه سمدستی پریږدي۔ دویم دا چې وراندې ترې کوم ګناهونه شوی وی په هغې پښیمانه شی او دریم دا چې بیا دپاره د هغې نه کولو پخه اراده اوکړی او که څه شرعی فریضه ئې پریښې وی نو د

هغې دې قضا راوړی او که د خلقو د حقونو باره کښې وی نو بيا يو شرط دا هم دې که د چا مال وړېوړې وی او هغه کس ژوندې وی نو خپل مال دې ورکړی يا دې ترې معافی اوغواړی او که ژوندې نه وی نو د هغه وارثانو له دې ورکړی که وارثان ئې هم نه وی نو هغه مال دې بيت المال کښې جمع کړی۔ که د دې انتظام هم نه وی نو د هغه په نوم دې خيرات کړی او که په چا ئې ظلم کړې وی يا د چا غيبت ئې کړې وی نو هغه دې رضا کړی او معافی دې ترې اوغواړی۔(۱)

الله تعالىٰ فرمائيلی دی:

قُلْ يٰعِبَادِیَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ط (۲)

ترجمه:"او اووايه ای پيغمبرﷺ! ای بندګانو زما هغه کسانو چې زياتې مو کړې دې په ځانونو خپلو باندې مه نااُميده کيږئ له رحمته د الله نه بيشکه چې الله بخښی ګناهونه ټول بيشکه چې دې هم بخښونکې دې او مهربانه دې"۔

حضرت ابو ذرؓ نه روايت دې چې رسول اللهﷺ فرمائيلی دی چې الله فرمائيلی دی:

"ای زما بندګانو تاسو اکثر شپه او ورځ کښې خطاګانې کوئ

(۱) معارف القرآن۔ ج ۷، ص ۲۹۵

(۲) سورة الزمر۔ ۵۳

او زهٔ ستاسو ټول ګناهونه بخښم۔ ای زما بندګانو که تاسو ګناه کولو کښې ماته ضرر رسول اوغواړئ نو هيڅ کله ضرر راته نه شئ رسولې۔ يعنی که تاسو ټول ګناهونه کول شروع کړئ نو زما خدايئ ته نقصان نه شئ رسولې او که ټول اطاعت ګذار جوړ شئ نو زما په خدايئ کښې زياتې نه شئ راوستې"۔

ای زما بندګانو! که ستاسو مخکنی او وروستنی انسانان ستاسو او پيريان ستاسو د يو ډير پرهيزګار سړی په شان جوړ شی نو زما ملکيت کښې دې سره هيڅ زياتې نه کيږی۔ ای زما بندګانو که ستاسو مخکنی او وروستنی او ستاسو (ټول) انسانان او پيريان د يو ډير بدتر او فاجر سړی په شان شی نو دې سره زما په ملکيت کښې هيڅ نقصان نه راځی۔ ای زما بندګانو که ستاسو مخکنی او وروستنی او انسانان او پيريان يو ځائ اودريږی او بيا ما نه اوغواړی نو زهٔ به هر انسان ته د هغوی د غوښتلو موافق ورکړم نو زما دا ورکول به دې څيز نه چې ما سره دې دومره هم څه کم نه کړی څومره چې يوه ستن په درياب کښې راښکلو سره د هغې اوبه کموی۔ ای زما بندګانو زهٔ ستاسو اعمال ياد لرم او ليکم او زهٔ به تاسو ته د هغې پوره بدله درکوم نو څوک چې خير بيامومی هغه ته د خدائ ثناء وئيل پکار دی او څوک چې ځان د خير نه سوا بل څيز بياموی يعنی بدی نو ځان دې ملامت کړی چې دا د هغه فعل دې۔ (۱)

(۱) مشکوٰة۔ يواقيت الاعمال۔ صفحه ۲۴

ان شاء الله د قیامت په ورځ به مونږ ته الله تعالیٰ نجات راکوی ځکه چې الله تعالیٰ په خپلو بندګانو مورپلار نه زیات مهربان دې۔ تاسو چرته کتلی دی چې یو مور خپل بچی په خپلو لاسو اور ته غورزولی دی۔ دا چرته کښې شوې ده چې مور د خپل ځیګر ټکړه په خپلو لاسو اور ته غورزولې وی۔ کله چې دا نه ده شوې او نه کیدې شی نو بیا زمونږ ربّ خو په مونږ باندې د مور نه زیات مهربان دې۔ نبی علیه السلام د خپلو صحابو سره د یوې وُنې د سوری لاندې ناست وو چې په دې کښې یو صحابی سره په څادر کښې څه وو او راغلو نبی علیه السلام ته مخامخ شو۔ سردار د دواړو جهانو ترې تپوس کوی۔ دا په څادر کښې درسره څه دی۔ هغه صحابی ورته عرض اوکړو۔ حضرت زهٔ خبر شوم چې تاسو راغلی یئ او دلته کښې په دې ځائ موجود یئ نو زهٔ ستاسو د ملاقات دپاره راغلم۔ په لاره کښې مې په یوه وُنه کښې د مرغو جاله اولیده چې په هغې وُنه کښې د مرغو د بچو آوازونه وو۔ ما هغه بچی په دې څادر کښې راګیر کړل او رارواں شوم۔ په دې کښې چې ګورم نو د مرغو مورزما د سر د پاسه راروانه ده او چغې وهی۔ ما څادر په زمکه کیښودو او څادر مې ترې نه لرې کړو۔ څه ګورم چې مورئې راغله او د بچو د پاسه ئې خپلې وزرې خورې کړې او نه پاسیدله۔ ما وریاندې څادر راواچولو او اوس ستاسو مجلس ته حاضر شوم۔ نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل: څادر ترې لرې کړه چې هغه ترې څادر لو چت کړو۔ څه ګوری چې مرغی هم هغه شان په

خپلـو بـچـو وزرې خـورې کـړی دی۔ نبی علیه السلام چې دا منظر اوکتلو نو معلم انسانیت ﷺ په دې موقع دا مناسب اوګڼړله چې د الله تعالیٰ د مهربانۍ او رحم کرم بیان اوکړی نو وې فرمائیل۔ ای زمـا صـحـابو تاسو ګوری دا مرغۍ په دې خپلو بچو څومره مهربانه ده چې د خپل ځان فکر ورسره هم نشته۔ خیر دې چې دا بندیوانه شی خو چـې بـچو ته ئې د فراق غم ملاؤ نشی۔ خیر دې که دا بندیوانه او ښکار کـړې شـی خو چې بچی ئې بچ شی۔ نو نبی علیه السلام اوفرمائیل زما دې پـه هغه ذات قسم وی چې زهٔ ئې په حق پیغمبر رالیږلی یم چې الله تعالیٰ پـه خپلو بندګانو د دې مرغۍ نه زیات مهربانه دې او بیا ئې حکم ورکړو چې دا مرغۍ او د دې بچی چې دی د کوم ځائ نه راوستی دی هم هلته کښې ئې بوځه۔(۱)

بهـرحال عزتمندو! که چرې یو انسنا هر څومره ګناهونه کړی وی حتـیٰ کـه شرک او کفر ئې کړې وی هم چې د خپلو ګناهونو څخه لاس پـه سـر شـی پـه صدق سره توبه اوباسی الله تعالیٰ هغه ګناهونه ورته معاف او محوه کوی۔

یـوه ورځ حـضـرت عـمـرؓ ژړل، ډیـر ئـې ژړل۔رسـول الله ﷺ اووئیـل چـې ولـې ژاړې یـا عـمـرؓ او څـه شی تـا ژړوی۔ حـضـرت عـمرؓ اووئیل چې ما یو ځوان اولیدو هغه ډیر ژړل نو ماته د

................................

(۱) حسن الظن بالله۔صفحه ۳۰۔رقم ۳۰ لابن ابي الدنيا

هغه ځوان په ژړا باندې ژړا راغله. رسول الله ﷺ اووئیل چې هغه ځوان رااوغواړه چیرې دې. ځوان ئې چې رااوغوښتو نو زیات ئې ژړل. رسول الله ﷺ ورته اووئیل چې ولې ژاړې؟ دې ځوان اووئیل چې زما څخه کناه شوې ده چې ډیره غټه کناه ده. رسول الله ﷺ اووئیل چې ته اووایه څه کناه دې کړې ده. دې ځوان اووئیل چې زه ئې پرې شرمیږم نهٔ شم وئیلې. ډیره لویه کناه ده. رسول الله ﷺ اووئیل چې ستا کناه لویه ده که زمکې او آسمانونه؟ دې ځوان اووئیل چې زما کناه تر زمکې او آسمانونو نه لویه ده. بیا رسول الله ﷺ اووئیل چې ستا کناه لویه ده که عرش او کرسۍ؟ ځوان اووئیل چې زما کناه تر عرش او کرسۍ هم لویه ده. بیا رسول الله ﷺ ورته اووئیل چې ستا کناه لویه ده او که د الله تعالیٰ رحمت او عفوه؟ ځوان اووئیل چې د الله تعالیٰ رحمت او عفوه زما تر کناه لوئې دی. بیا رسول الله ﷺ د دې ځوان څخه پوښتنه اوکړه چې ته اووایه چې څه کناه دې کړې ده؟ ځوان اووئیل چې زهٔ مخکې کفن کښې ووم او اووه کاله مې دا کار کاوه په دې اووه کاله کښې یو وخت د انصارو یوه جینۍ وفات شوې وه. زهٔ د شپې ورغلم، خاورې مې لرې کړې او دا جینۍ مې د قبر څخه رااوښکله او کفن مې ځنې خلاص کړو او دا مې لڅه کړه او کفن ځنې یوړو چې یو څه لاړم، شهوت غلبه راباندې اوکړه. بیرته رااوګرځیدم او د دې مړې جینۍ سره مې زنا اوکړه چې زه راروان شوم دې جینۍ د شا د خوا پسې

راوړغ کړه چې د آخرت په ورځ به د الله تعالیٰ په حضور کښې څه جواب وائې؟ زۀ دې د دې ټولې مقبرې په مخکښې بې ستره او جنبه پرېښودم۔ ما چې دا وینا واورېده، ډېر ئې بې تابه کړم۔ دې ځوان چې دا بیان اوکړو۔ رسول الله ﷺ ورته اووئیل چې رانه ولاړ شه چې ستا په ګناه مې وُنه سوځې رانه لرې شه۔ دا ځوان لاړو، ژړل ئې څلویښت ورځې ئې اوژړل۔ په اخلاص سره۔ بعد د څلویښت ورځو دې ځواز، خُلهٔ د آسمان خواته اونیوله او په ژړا سره ئې داسې دُعا اوکړه چې یا د محمد ﷺ او آدم علیه السلام او هوأ د ټولو کائناتو ربّه! یا زما توبه قبوله کړې او یا په ما د آسمان نه اور نازل کړې چې ما اوسوزی او د آخرت د غذابه خلاص شم۔ الله تعالیٰ د دهٔ دا اخلاص او زاری او توبه قبوله کړه او حضرت جبرائیل علیه السلام رسول الله ﷺ ته راغلو او د الله تعالیٰ له طرفه ئې سلام راوړو۔ نبی کریم ﷺ د سلام په ډېر ادب جواب ورکړو۔ جبرائیل علیه السلام ورنه بیا تپوس اوکړو چې الله تعالیٰ فرمائیلی: ای محمدٌ! آیا دا مخلوق تا پیدا کړې؟ جواب ئې ورکړو نه۔ بیا ئې ورنه تپوس اوکړو آیا ته دوی ته رزق ورکوې؟ جواب ئې ورکړو الله تعالیٰ رزق ورکوی او ماته هم۔ بیا ئې ورنه تپوس اوکړو آیا ته د دوی توبه قبلوې؟ جواب ئې ورکړو الله تعالیٰ زما او د دوی ټولو توبه قبلوی۔ بیا ورګه جبرائیل علیه السلام اوفرمائیل: چې یا رسول الله ﷺ هغه

ځوان ته خبر ورکړه چې الله تعالیٰ دې توبه قبوله کړه-(۱)

الله تعالیٰ فرمائي: يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَصُوْحًا عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَ يُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ.(۲)

ترجمه:"ای هغو کسانو چې تاسو ايمان راوړې دې توبه اوباسئ الله ته توبه خالصه- بنائی چې رب ستاسو اورځوی له تاسو نه ګناهونه ستاسو او ننه به باسی تاسو باغونو ته چې بهيږی به د لاندې د هغې نهرونه"۔

روايت شوې دې د حضرت ابن عباسؓ نه د دې قول په باره کښې: تُوْبُوْا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَصُوْحًا - نو وې فرمائيل: نصوح توبه کښې دا شرطونه دی- د زړهٔ نه په ګناه پښيمانه وی او په ژبه مغفرت غواړی او په دې اراده وی چې د تل لپاره به دا نه کوی۔

وَ عَنْ اَبِيْ مُوْسٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ يَدَهٗ بِالَّيْلِ لِيَتُوْبَ مُسِيْئُ النَّهَارِ وَ يَبْسُطُ يَدَهٗ بِالنَّهَارِ لِيَتُوْبَ مُسِيْئُ الَّيْلِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا.(۳)

ترجمه:"حضرت ابو موسیٰؓ فرمائی چې حضور ﷺ اوفرمائيل چې الله پاک خپل لاس (کوم چې د الله شان سره لائق دی) د شپې

(۱) انوارتبليغ-صفحه ۲۷۳

(۲) سورة التحريم

(۳) رواه مسلم

اوړيد کړي چې د ورځ ګناه کوونکی دې توبه اوباسی او د ورځې خپل لاس خور کړي چې د شپې ګناه کوونکی دې توبه اوباسی او هغه ئې توبه قبوله کړی او دا سلسله د هغه وخته پورې جاري وی چې څو پورې چې لمر نه وی راختلې د مغرب طرف نه"۔(۱)

وَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِنَّ الْعَبْدَ اِذَا اِعْتَرَفَ ثُمَّ تَابَ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ.

ترجمه:" حضرت عائشهؓ وائی چې یو ځلې حضور ﷺ اوفرمائیل: کله چې انسان د خپلې ګناه اقرار کوی او بیا توبه اوباسی نو الله تعالیٰ د هغه توبه قبلوی"۔

یوه کاپی کښې خپل ګناهونه لیکئ او بیا توبه اوباسئ۔ علامه یافعیؒ یوه واقعه نقل کړې ده چې یو ځوان ډیر بدکاره وو خو چې هر کله به ئې څه ګناه اوکړه نو په یوه کاپئ کښې به ئې اولیکله۔ وائی چې یوه ډیره غریبه ښځه وه د هغې بچی د درې ورځو نهر وو۔ د هغوی پریشانی ئې نه شوه برداشت کولې نو د خپل ګاونډئ نه ئې د ربښمو یوه اعلیٰ جوړه یوې ورځې دپاره واخسته۔ هغه ئې واچوله او بهر ته رااووته۔ هغه ځوان چې اولیده نو آواز ئې ورکړو هر کله چې ئې هغې سره د بدکارئ اراده اوکړه نو هغه ښځه په ژړا شوه او هغه ځوان ته ئې اووې چې زهٔ بدکاره نه یم خو د بچو د پریشانی د وجې نه داسې راوتې یم

..............................

(۱) مسلم شریف

او هر کله چې تا راته آواز اوکړو نو زما تانه د خير اُميد پيدا شو۔ د دې خبرې په اوريدو خپله په ژړا شو او دا توله قصه ئې خپلې مورته اوکړه۔ موربه ورته هيمشه نصيحت کولو او د ګناهونو نه به ئې منع کولو۔ هغې چې د زوئ دا حالت اوليدو نو ډيره خوشحاله شوه۔ بيا ئې ورته اووئيل چې زويه تا په ټول عمر کښې دا يوه نيکی اوکړه نو دا هم په خپله کاپئ کښې اوليکه۔ زوئ ورته اووئيل چې په کاپئ کښې څه ځائ خالی نه دې پاتې۔ مورورته اووئيل چې د پاڼې په يو ګټ کښې ئې اوليکه نو هغه اوليکله۔ بيا ډير غمژن اودهٔ شو۔ هر کله چې راپاسيدو نو هغه کاپئ ئې اوکتله۔ د هغې ټولې پاڼې صفا سوتره وې۔ هيڅ هم په کښې ليکلی نه وو پاتې علاوه د هغې يوې نيکئ نه او د کاپئ د پاسه دا آيت ليکلې شوې وو: اِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ط بې شکه نيکی ختموی ګناهونو لره۔ د دې نه پس هغه ځوان توبه اوويستله او په هغې پاتې کيدو سره وفات شو۔(۱)

روايت دې ،وائی چې په بنی اسرائيلو کښې يو زلمې وو چې د اللّٰهِ تعالیٰ شل کاله عبادت ئې اوکړو۔ بيا ئې شل کاله نور ګناهونه اوکړل۔ په شيشه کښې ئې ځان اوکتلو۔ کوری چې ويښتان ئې سپين شوی دی نو دې خفه کړو او وې وئيل: ای اللّٰه تعالیٰ! شل کاله مې ستا اطاعت او بندګی اوکړه۔ بيا مې شل کاله نوره ستا نافرمانی اوکړه۔ که

(۱) الترغيب والترهيب

د خپلو ګناهونو نه رااوګرځم نو زما توبه به قبوله کړي او که نهٔ؟ نو دې لږمی آواز واوریدو خو څوک ئې وُنه لیدل- وې وئیل: تا مونږ سره محبت اوکړو نو مونږ هم تا سره محبت کوو- او چې تا پریښودو نو مونږ هم پریښودې- بیا دې زمونږ نافرمانی اوکړه نو مونږ درته مهلت درکړو او که بیرته راګرځې او توبه اوباسې نو مونږ دې توبه قبلوو-(۱)

نبی علیه السلام په مخکینو قومونو کښې د یو ګنهګار مسلمان بیان کوی خو دا داسې مسلمان وو چې د ایمان نه سوا ورسره بله هیڅ یوه نیکی نه وه- دهٔ ته خپل ګناهونه معلوم وو- کله چې د خپل مرګ په علامو باندې پوهه شو نو خپل اولاد ئې راجمع کړل او ورته ئې وصیت اوکړو چې زما بچو کله چې زهٔ مړ شم نو زما لاش به په اور اوسوزئ او ایره به مې نیمه په دریاب کښې واچوئ او نیمه به په اوچه پریږدئ چې باد وغیره ئې یوسی- ځکه چې ما څومره ګناهونه کړی دی که د الله تعالیٰ رابندې وس بر شو نو داسې عذاب به راته راکړی چې په خپل مخلوق کښې به ئې هیچا ته نه وی ورکړې- کله چې دې وفات شو نو بچو ورسره هم د هغه د وصیت مطابق عمل اوکړو- الله تعالیٰ دریاب ته حکم اوکړو چې دا ایره راجمع کړه او اوچې ته ئې هم حکم اوکړو چې د دهٔ ایره راجمع کړه او بیا ئې ترې پوره کامل انسان جوړ کړو نو الله تعالیٰ ورته اوفرمائیل: ای زما بنده! دا تا داسې کار

..............................

(۱) مکاشفة القلوب- صفحه ۳۰:

ولې اوکړو۔ هغه بنده ورته عرض اوکړو۔ ای زما ربّه! زما په عمل نامه کښې يوه نيکی هم نهٔ وه چې په هغې باندې ما اعتماد کړې وې۔ ستا د عـذاب نـه ويـريـدمـه چـې ته به راته عذاب راکوې او ستا د عذاب طاقت مې نه لرلو۔ ما څکه دا کار اوکړو او تاته بـه زما ګناهونه معلوم دی نـو الله تـعـالـیٰ بـه خپل دغه بنده اوبخښی او د جنت د داخليدو حـکـم بـه اوکـړی۔ د دې واقـعې نه دا معلومه شوه چې الله تعالیٰ ډير رحيـم او کريم دې۔ که د چا په زړهٔ کښې د الله تعالیٰ ويره وی نو الله تعالیٰ وربان دې رحم کوی او ګناهونه ئې معاف کوی۔(۱)

حـضـرت عيسیٰ عليه السلام په يو کلی تير شو چې په دغه کـلـی کښـې يـو غـروو چـې ژړا او چغې وې نو حضرت عيسیٰ عليه السـلام دغـه کليوالو ته اوفرمائيل چې دا ژړا او چغې د څه دی په دې غـر کښـې؟ نـو دوی ورتـه اوونيل چې ای عيسیٰ عليه السلام! د کوم وخت نه چې مونږ دې کلی کښې اوسيږو د هغه وخت نه مونږ دا ژړا او چـغې د دې غرهٔ نه اورو۔ حضرت عيسیٰ عليه السلام د الله تعالیٰ نه سوال اوکړو چې يا الله تعالیٰ! دې غر ته اجازت اوکړه چې ما سره خبرې اوکـړی۔ الله تـعالیٰ ورته غر ګويا کړو۔ وې وئيل: ای عيسیٰ! مانه څه تپوس کوې۔وايه عيسیٰ عليه السلام ورته اوونيل چې ما خبر کړه چې دا ژاړې او چـغـې ولې وهې۔ غر ورته اوونيل: ای عيسیٰ عليه السلام

................................

(۱) البغوی۔ ج۴،ص۸۴۔د منبر کلونه۔ صفحه ۲۲۹

زهٔ هغه غر نه یم چې زما نه خلق بوتان جوړوی او بیا د هغوی عبادت کوی ما سوا د الله تعالیٰ نه۔ نو زهٔ یریږم چې الله تعالیٰ په کښې ما ونه غورزوی ځکه چې ما د الله تعالیٰ دا ارشاد مبارک اوریدلې دې۔ فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِیْ وَ قُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ۔

الله تعالیٰ حضرت عیسیٰ علیه السلام ته وحی او کړه چې غر ته تسلی ورکړه چې ما دې غره ته د جهنم نه پناه ورکړه۔

محترمو مسلمانانو! کانی سره د دې نه چې سخت او مضبوط دې او بیا هم څومره د الله تعالیٰ نه ویریږی نو څه رنګې به انسان ضعیف او کمزورې د اور نه نهٔ یریږی۔ بلکه په طریق اولیٰ ورله یره د اور نه او پناه غوښتل د الله تعالیٰ پکار دی۔(۱)

حضرت انسؓ وائی چې حضور ﷺ او فرمائیل: ای خلقو! د الله تعالیٰ د یرې اوژاړئ که ژړا نه درځی نو په تکلف یعنی ځان له ژړا راولئ سره اوژاړئ ځکه چې دوزخیان به په دوزخ کښې ژاړی او د هغوی اوښکې به په انګو داسې رابهیږی ګویا چې هغه د اوبو لختې دې۔ تردې حده پورې چې اوښکې به ختمې شی او وینې به جاری شی چې سترګې به ئې زخمی شی۔ که د هغوی اوښکو کښې کشتئ جاری کړې شی نو البته هغه به روانې شی۔(۲)

................................

(۱) یواقیت الاعمال۔ صفحه ۲۴۵

(۲) سرح السنه ۔ ۱۲

د ابن مـاجه شريف يو حديث مبارک دی: مَا مِنْ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنَيْهِ دُمُوْعٌ وَ اِنْ كَانَ مِثْلَ رَاْسِ الذُّبَابِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ ثُمَّ يُصِيْبُ شَيْئًا مِنْ حَرِّ وَجْهِهٖ اِلَّا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ.

کلـه چې يـو سـړي د الله تـعالٰیٰ د ويرې ژړا او د هغـه د سترګـې د مـچ د سـر بـرابـر هـم اوښکه راووتله نو الله تعالی به د دې اوښکې د وجې نه په ده باندې د دوزخ اور حرام کړی۔(۱)

د تـرمذی شريف روايت دې چې لَيْسَ شَيْءٌ اَحَبُّ اِلَى اللهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ. الله تعالیٰ ته د دوو څاڅکو نه ډير خوښ هيڅ څيز نشته۔ قَطْرَةُ دُمُوْعٍ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ. يو خو د اوښکو هغه څاڅکی چې د الله د ويـرې د وجې نه بهيږی اودويم قَطْرَةُ دَمٍ تُهَرَاقُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. د وينـې هـغـه څـاڅکی چې د مجاهد د بدن نه د جهاد په حالت کښې تو ئيږی۔

وَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِنَّ الْمُؤْمِنَ اِذَا اَذْنَبَ كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِيْ قَلْبِهٖ فَاِنْ تَابَ وَاسْتَغْفَرَ صُقِلَ قَلْبُهٗ وَ اِنْ زَادَتْ حَتّٰى تَعْلُوْا قَلْبَهٗ فَذَالِكُمُ الرَّانُ الَّذِيْ ذَكَرَ اللهُ تَعَالٰى: كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ.

ترجمه:" حضرت ابو هريرهؓ وائی چې حضور ﷺ او فرمائيل هر

............................................

(۱) دوه خوښ څاڅکی

کله چې مؤمن گناه اوکړی نو د هغه په زړهٔ کښې یو تور داغ پیدا شی۔ بیا چې کله هغه توبه اوباسی نو د هغه زړهٔ صفا کړې شی او هر کله چې هغه بیا گناه زیاته کړی نو هغه تور داغ زیات شی۔ تردې پورې چې په ټول زړهٔ خور شی۔ نو دا هغه زنګ دې چې الله تعالیٰ په قرآن پاک کښې ذکر کړې دې۔

كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ.

محترمو عزتمندو! باید مونږ او تاسو توبه اوباسو او د الله تعالیٰ نه بخښنه اوغواړو او استغفار اووایو ځکه توبه ویستونکی خلک د الله تعالیٰ خوښ وی۔

الله تعالیٰ فرمائی: إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ.(۱)

ترجمه:" بیشکه الله توبه ویستونکی خوښوی"۔

حضرت انس ؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: هر کله چې یو بنده د الله تعالیٰ په حضور کښې توبه او استغفار کوی نو د الله تعالیٰ خوشحالی د هغه سړی د خوشحالئ نه هم زیاته ده چې په ځنګل یا بیابان کښې ترینه سورلی ورکه شی۔ چې هغې باندې د خوراک څکاک سامان باروی او د ډیر تلاش نه پس نااُمیده شی۔ د یوې ونې سوری ته څملی، بیا ناګهانه اوبنه خپل ځان سره ولاړه بیاموم‍ی او د هغې مهار اونیسی۔ د ډیرې خوشحالئ په وجه د

(۱) البقرة: ۲۲۲

شکریها دا کولو په طور اووائی ای پروردګار! ته زما بنده ئې او زهٔ ستا ربّ یم۔ دا غلطی د هغه نه د ډیرې زیاتې خوشحالئ په وجه کیږی۔ (۱)

عَنْ عَبْدُ اللهِ بِنِ مَسْعُوْدَ رَضِیَ اللهُ عَنْه' قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ کَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَه'.(۲)

ترجمه: "حضرت عبدالله بن مسعودؓ نه روایت دې چې رسول اللهؐ فرمائیلی دی: د ګناهونو نه توبه ایستونکې د هغه سړی په شان دې چې د هغه څه ګناه نه وی۔

عَنْ اَنَس رِضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْه' قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ کُلُّ بَنِیْ اٰدَمَ خَطَّاءٌ وَ خَیْرُ الْخَطَّائِیْنَ التَّوَّابِیْنَ.(۳)

ترجمه: "حضرت انسؓ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ او فرمائیل: ټول بنیادم خطا کوونکی دی او ښه خطاکار هغه دې چې د خطا کولو نه وروسته توبه اوباسی"۔

ای مسلمانانو ورونو! ځینې خلک ګناه کوی، بیا وائی چې اوس څه تلوار دې څه زمانه وروسته به توبه اوباسم۔ دغه سړی ته باید اووئیل شی چې وروره دا څه معلومه ده چې ته به نور هم ژوندې ئې چې همدا اوس مړ شی او یا په سړک روان ئې موټر ئې اووهی او مړ شی

..............................

(۱) ریاض الصالحین۔ صفحه ۳۶

(۲) اخرجه ابن ماجه

(۳) ترمذی۔ ابن ماجه، دارمی

او کـه ژوندې هم پاتې شی کیدلې شی چې پر توبه توفیق پیدا نه کړی۔
دا خبـره په یاد ولرئ څومره چې گناه ډیریږی هغه هومره د زړهٔ تور والې زیـاتیږی۔ ورځ په ورځ د توبې توفیق کمیږی۔ داسې ډیر شوی دی چې ډیر خلک بې له توبې مړهٔ شوی وی۔ افسوس دې د هغو خلکو په حال چې زر تر زره توبه نه اوباسی او آئنده خپل اعمال نه اصلاح کوی۔

وَ اٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

☆☆☆

☆

# تقریر په بیان د لمانځه کښې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ سَلاَمٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِیْنَ اصْطَفٰی:

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی مَا سَلَکَکُمْ فِیْ سَقَرَ (۴۲) قَالُوْا لَمْ نَکُ مِنَ الْمُصَلِّیْنَ (۴۳) وَ لَمْ نَکُ نُطْعِمُ الْمِسْکِیْنَ (۴۴) وَ کُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَائِضِیْنَ: عَنْ نَوْفَلَ بْنَ مُعَاوِیَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ مَنْ فَاتَتْهُ صَلاَةٌ فَکَاَنَّمَا وُتِرَ اَهْلَهُ وَ مَالَهُ.

اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰئِکَتَهُ یُصَلُّوْنَ عَلَی النَّبِیِّ ط یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا (۵۶)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِ سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ بَارِکْ وَ سَلِّمْ.

زما محترمو عزتمندو مسلمانانو ورونو! الله ربّ العزت په مونږه او تاسو باندې پنځه وخته مونځونه فرض کړی دی چې کوم یو کس دغه مونځونه نهٔ کوی د هغه دپاره ډیر زیات غذابونه تیار کړې شوی دی۔

د دوزخیانو په هکله الله تعالیٰ فرمائی:

مَا سَلَکَکُمْ فِیْ سَقَرَ (۴۲) قَالُوْا لَمْ نَکُ مِنَ الْمُصَلِّیْنَ (۴۳) وَ لَمْ

لَکَ نُطۡعِمُ الۡمِسۡکِیۡنَ ﴿۴۴﴾ وَ کُنَّا نَخُوۡضُ مَعَ الۡخَآئِضِیۡنَ.(۱)

ترجمه:" څه شی داخل کړی يئ تاسو په دوزخ کښې۔ دوی به اووائی مونږ لمونځ نه کوه۔ او مونږ خوراک نه ورکاوه مسکينانو ته او مونږ بحث کوه سره د بحث کوونکو نه۔

په يو حسن روايت کښې راغلی دی چې د اسلام درې بنيادونه دی چې د اسلام عمارت ورباندې ولاړ دې۔ چا چې له دغو دريو نه يو هم ترک کړو هغه کافر او وژل ئې جائز دی۔ د شهادت کلمه وئيل يعنی د الله تعالیٰ د يو والی توحيد کواهی ورکول۔ فرض لمونځ ادا کول او د روژې مياشتې روژې نيول۔(۲)

په طبرانی کښې په حسن روايت سره د حضرت عباد بن صامتؓ نه روايت دې چې هغه وائی چې ماته خپل محبوب دوست حضرت محمد ﷺ د اوۀ خبرو نصيحت کړې دې۔ د الله تعالیٰ سره هيڅ شې شريک مۀ کرځوه۔ اکر تا څوک توټې توټې کړی يا دې اوسوځوی او يا دې په دار اوځړوی۔ په قصد سره لمونځ مه پريږده۔ څوک چې په قصد سره لمونځ پريږدی هغه له اسلام نه اوويلو۔ کناه او نافرمانی مه کوه ځکه چې دا د الله تعالیٰ د قهر باعث دې۔ شراب مۀ څښه ځکه چې دا د ټولو کناهونو منبع ده".

................................

(۱) سورة المدثر۔۴۳۔۴۵

(۲) مکاشفة القلوب۔ صفحه ۳٦٦

عَنْ نَوْفَلَ بْنَ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ فَاتَتْه صَلاَةٌ فَكَاَنَّمَا وُتِرَ اَهْلَهُ وَ مَالَهُ.(۱)

ترجمه:"د خوږ نبی ﷺ ارشاد مبارک دې چې د چا څخه هم یو لمونځ فوت شو ګویا د هغه څخه د کور خلق او مال او دولت ټول لوټ کړې شول۔

**تشریح**: د مونځ قضا کولو مثال رسول الله ﷺ د مال، دولت، اولاد سره ځکه ورکړې دې چې لمونځ د انسان نه اکثریا د مال په وجه یا د اولاد په وجه یا د نورو دنیاوی ضروریاتو په وجه څنګه چې انسان د مال او اولاد په هلاکت باندې خفه کیږی۔ د دې نه باید زیات د مونځ قضا کولو په وجه خفه شی ځکه چې د قیامت په ورځ کښې چې دا عذابونه په خپلو سترګو باندې اوګوری د دې نه به ډیر زیات خفه شی چې اولاد او مال ئې په دنیا کښې هلاک شوی دی او ډیر زیات ارمان به اوکړی چې کاش ما مونځ نه وې قضا کړې۔ ارمان به ئې هیڅ په کار را نهٔ شی ځکه چې د مونځونو وخت خو په دنیا کښې دې چې په دنیا کښې دې عمر په غفلت کښې تیر کړې وی نو بیا ه آخرت کښې ستا ژړاګانې او ارمانونه په کار نه راځی۔

**واقعه**: یوه ورځ عیسیٰ علیه السلام په یوې قریې باندې تیریدلو او زیاتې وُنې او نهرونه ورکې وو او د عیسیٰ علیه السلام اهل قریه زیات

(۱) رواه ابن حمام

اکرام اوکړو او تعجب اوکړو۔ د تابعدارئ د دې د اهل قریی نه بیا درې کالو نه بعد تیریدلو وُنې او نهرونه وچ شوی وو او کوتې غورځیدلی وی او زیات تعجب ئې اوکړو۔ الله تعالیٰ ورته وحی اوکړله چې یو سړی مونځ پریښودونکې ورباندې تیر شو په دغه قریه باندې او مخ ئې ورکې اووینځلو په چینه کې نو الله تعالیٰ چینه هم وچه کړله، وُنې هم وچې شولې او قریه هم ړنګه شوله۔ عیسیٰ علیه السلام ته الله تعالیٰ اووئیل چې مونځ پریښودل دین هم ختموی او دنیا هم ورانوی۔ زما ورونړو! الله تعالیٰ د یو تارک الصلوة د وجې عذاب عظیم راولی ځکه چې الله تعالیٰ د مونځ پریښودو باندې سخت خفه کیږی۔ زما معززین کرام چې کوم خلق دنیا کښې مونځونه نهٔ کوی نو په ورځ د قیامت چې د حشر میدان ته راځی په تنده به ئې درې کرخې لیکل شوی وی۔

یو روایت راځی چې په ورځ د قیامت کښې هغه خلک چې اهتمام د لمانځه نه کوی نو رابه شی او تندی باندې به ئې درې لیکې وی۔ اوله لیکه به دا وی ای ضائع کوونکی حق د الله تعالیٰ لره۔ دویمه لیکه به دا وی چې ای خاص کړی شویه په عضب د الله تعالیٰ او دریمه لیکه به دا وی چې څرنګه دنیا کښې تاسو د الله تعالیٰ حق ضائع کړې دې اوس د الله تعالیٰ د رحمت نه نااُمیده شه نن ورځ۔(۱)

..............................

(۱) کبائر

**واقعه:** ذکر کړې شوی دی چې ابلیس یوه ورځ په مخکنۍ زمانه کښې اولیدلې شو۔ یو نیک انسان ورته اووئیل چې ماته داسې یو عمل اوښایه چې ستا په شان شم۔ شیطان ورته اووئیل چې افسوس دې ستا په حال باندې چې مانه هیچا دا مطالبه نه ده کړې۔ تا مانه څنګه اوکړه۔ هغه نیک انسان ورته اووئیل چې زهٔ دا خوښ کنم۔ ابلیس ورته اووئیل چې ته اراده لرې چې زما په شان شې نو مونځ کښې سستی اوکړه او په دروغو قسمونه اوخوره۔ دې نیک انسان ورته اووئیل چې دې نه پس ما قصد اوکړو چې په مونځ کښې به سستی نه کوم او قسم به هیچرې اونه خورم۔ ابلیس ورته اووئیل هیڅوک زما نه په چل دا علم نه وو زده کړې۔(۱)

له حضرت عبدالله ابن عباسؓ نه روایت دې چې هغه وائی: د قیامت په ورځ به یو سړې د الله تعالیٰ حضور ته راوستل شی۔ الله تعالیٰ به حکم اوکړی چې دغه سړې دوزخ ته واچوی۔ هغه سړې به پوښتنه اوکړی۔ ای زما ربه! ما ولې جهنم ته لیږې؟ الله تعالیٰ به ورته اوفرمائی څکه چې تا به په لمانځه کښې تاخیر (وروستوالې) کوه او زما په نوم به دې په دروغو قسمونه نیول.

او الله تعالیٰ فرمائی: فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ﴿۴﴾ الَّذِينَ هُمْ عَنْ

........... ..........................

(۱) تنبیه الغافلین

(۲) مکاشفة القلوب۔ صفحه ۳۲۸

صَلاتِهِمْ سَاهُوْنَ.(۱)

ترجمه:" نو هلاکت دی لمونځ کوونکو لره کوم چې هغوی د لمانځه خپل نه بې خبره دی۔ رسول الله ﷺ د دې آیاتونو په هکله فرمائی۔ دا هغه کسان دی چې مونځونه د خپلو ټاکلو وختونو نه وروسته کوی۔

بزار له حضرت سعد بن ابی وقاصؓ نه روایت کوی هغه وائی ما د رسول الله ﷺ څخه د دغه آیت په هکله پوښتنه اوکړه۔ اَلَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلاتِهِمْ سَاهُوْنَ۔ نو هغه ﷺ راته اوفرمائیل چې دا هغه خلک دی چې خپل مونځونه د خپلو اصلی وختونو نه وروسته ادا کوی۔

او د (ویل) معنی سخت عذاب دی او وئیل شی دی چې (ویل) د جهنم یوه کنده ده که چیرې د دنیا ټوله غرونه په دغه کنده کښې واچول شی نو د هغې د ګرمی په وجه به ویلی شې او دا د هغو خلکو د اوسیدو ځائ دې چې په مونځونو کښې سستی کوی او له خپلو وختونو نه ئې وروسته ادا کوی۔ مګر که دوی الله تعالیٰ ته توبه اوکړی او په خپلو تیرو عملونو پښیمانی اوکړی۔(۲)

(۱) سورة الماعون: ۴۔۵

(۲) مکاشفة القلوب۔ صفحه ۳۶۱

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَمْرٍو رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ اَنَّهُ ذَکَرَ الصَّلاَةَ یَوْمًا فَقَالَ مَنْ حَافَظَ عَلَیْهَا کَانَتْ لَهُ نُوْرًا وَ بُرْهَانًا وَ نِجَاةً یَوْمَ الْقِیٰمَةِ وَ مَنْ لَمْ یُحَافِظْ عَلَیْهَا لَمْ یَکُنْ لَهُ نُوْرٌ وَ لاَ بُرْهَانٌ وَ لاَ نِجَاةٌ وَ کَانَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ مَعَ قَارُوْنَ وَ فِرْعَوْنَ وَ هَامَانَ وَاُبَیِّ بْنِ خَلَفٍ۔(۱)

ترجمه:" د حضرت عبدالله بن عمروؓ نه روایت دي۔ فرمائی چې: یو ځلي خوږ نبی ﷺ د لمونځ ذکر اوکړو او ارشاد ئې اوفرمائیلو چې څوک د مونځ اهتمام او محافظت کوی نو مونځ به د هغه لپاره د قیامت په ورځ نور (رڼا) وی او د حساب د پیش کیدو په وخت کښې به حجت او دلیل وی یعنی دلیل د جنتی کیدو او دوزخ نه د خلاصی ثبوت او د نجات او خلاصی سبب به وی او څوک چې د مانځه اهتمام نه کوی د هغه لپاره به د قیامت په ورځ نهٔ نوروی او نه به هغه سره څه حجت (دلیل) وی او نه به د نجات څه ذریعه وی۔ د هغه حشر به فرون، هامان او ابی بن خلف سره وی۔

د ځینو عالمانو وینا ده چې د دغو خلکو سره به د مونځ پریښودونکی ځکه یو ځائ پاڅول کیږی که چیرې هغه د مانځه نه د مال له امله غافل شوې وی او مونځ ئې پریښې وی نو د قارون سره به ئې حشر کیږی او که په بادشاهئ او حکومت کښې د مشغولیدو په

............................................

(۱) رواه احمد

وجـه ئې مونځ پرېښودو نو د فرون سره به راپاڅي او که په وزارت کښې د مـصـروفيدو له کبله ئې مونځ ترک کړو نو د هامان سره به راپاڅول کيږي او کـه پـه تـجـارت او سوداګرئ کښې د مشغوليدو له امله ئې لمونځ ترک کړو نو د ابی بن خلف سره به ئې حشر کيږی۔(۱)

**حکايت**: روايـت دې چې بـنی اسرائيلو کښې يوه ښځه وه۔ حضرت مـوسیٰ عـليه السام ته راغلله او ورته ئې اوونيل چې ما ګناه کړې ده۔ لويه ګناه۔اوس مې تريه توبه ويستلې ده۔ الله تعالیٰ نه ماته د مغفرت دُعـا او کـره۔ حضرت موسیٰ عليه السلام ورته وائی چې څه ګناه دې کـړې ده۔ هـغـې ښځې ورته اوونيل۔ يو ځل ما زنا اوکړه او بيا مې بچی پيـدا کـره او بيـا مـې قتـل کـړلـو۔ حضرت موسیٰ عليه السلام ورته اوونيـل۔ ووځـه يـا فاجرې ستاسو په بدبختئ به مونږ په اور اوسوځو۔ هـغه ښځه ډيره په مات زړهٔ رااووتله نو جبرائيل عـليه السلام حضرت مـوسیٰ عليه السلام ته اوونيل چې الله تعالیٰ وائی توبه کاره ښځه ولې تـاسـو واپـس کـره۔ آيا تاسو دينه زيات شر نه دې پيدا کړې۔ حضرت مـوسیٰ عليه السلام ورته وائی چې دې نه زيات شر واله څوک کيدې شـی نو جبرائيل عـليه السلام ورته اوونيل تارک الصلوة زيات شرّ واله دې چې قصداً ئې پريږدی۔(۲)

..................................

(۱) مکاشفة القلوب۔صفحه ۳۲۰

(۲) کبائر

او الله تعالیٰ فرمائیلی دی:

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَ لَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَ مَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ. (1)

ترجمه:" ای مومنانو! غافل دې نه کړی تاسو مالونه ستاسو او نه اولاد ستاسو د یاد د الله نه او چا چې اوکړو دغه کارنو دوی تاوانیان دی۔ د مفسرینو یوه ډله وائی چې دلته مراد د ذکر نه لمونځ دې نو له دې کبله کوم انسان چې د خپل مال په خرید و فروکت کښې د مصروفیت او مشغولیدو له لمانځه نه غافل پاتې شو او یا ئې لمونځ هیر شو نو هغه زیان موندونکې دې۔

بیهقی له حضرت عمرؓ نه روایت کوی چې یو سړې رسول الله ﷺ ته راغـې او وې وئیل: ای رسول الله ﷺ الله تعالیٰ ته په اسلام کښې کوم یو عمل ډیر خوښ دې؟ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل: مونځ په خپل تاکلی وخت ادا کول او چا چې مونځ پریښودو د هغه دین نشته او مونځ د دین ستن ده او له همدې کبله هر کله چې عمرؓ زخمی کړې شو چا ورته اوونیل د مانځه وخت دې۔ ای امیرالمؤمنینه! هغه اوفرمائیل ډیر شه دی۔ بیشکه د هغه چا پهدین کښې هیڅ برخه نشته چې مونځ ضایع کړی۔

(1) سورة المنافقون۔ آیت ۹

هغه رالې اخیستو او په داسې حال کښې چې له زخم ئې وینې بهیدې مونځ ئې ادا کړو۔

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی فَخَلَفَ مِنْ م بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا. (۱)

ترجمه:"وروسته د انبیاء علیه السلام بد جانشینو چې ضایع کولو به ئې مونځ او د خپل خواهشات اتباع به ئې کوله نو الله تعالیٰ به جهنم ته حواله کړی۔

قوله اضاعو الصلوة ای لم یعتقدوا وجوبها و قیل ترکوها لم یحافظو علیها قیل خربوا معابد هم و مساجدهم بترک السعی الیها وعدم اعتبارهم قیل اضاعوا الصلوة ای لم یعتقدوا وجوبها و قیل ضیعوها بترک شروطها و ارکانها وقت الاو و قیل ضیعوها بعد الاداء بالغیبة والریاء و قیل ترکوها بالغفلة لم یقضوها بعدها (۲) واختلفوا فی معنی الغی قال وهب بن منبه الغی نهر فی جهنم بعید قعره و شدهد مرّه حبث طعمة و لو قطرت قطرة منه الی الدنیا لهلکت اهل الدنیا کلهم.

ترجمه:"اختلاف دې په معنی دغي کښې وهب بن منبه وائی چې غعی یو نهر دې په جهنم کښې او جوروالي زیات لری او سخت کړم دې

.................................

(۱) جزء۔۱۶۔سورة مریم۔آیت۵۹

(۲) تفسیر کبیر

او سـخـت بـې خـونـده دې۔ که یوه قطره د دنیا خلقو ته راشی نو اهل الدنیا به بالکل فاسد کړی۔

قـال ابن عباس رضی الله تعالی عنه الغی واد فی جهنم واودیة جهنـم تستعیـذ کـل یوم الف مرة الی الله تعالیٰ من شدة حرارته أُعدَّ ذٰلک الوادی لتارک الصلوٰة والجماعت.

ترجمه:"حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه وئیلی دي چې غی یوه کنده د جهنم ده۔ بهیږی ویني او ځوې ترینه۔ زما معززین کرام الله تعالیٰ هغو خلقو ته چې مونځ پرېږدی دومره سخت عذاب ورکوې او نن صبا زمونږ نوی نو جوان طبقه په لوئ عذاب کرفتاره دی۔ الله تعالیٰ دې زمونږ ځوانان صالحان کړی اوکه زمونږ سپین ږیری مونځونه کوی لیکن نه ورکې خشوع وی او نـه ورکې سکون وی۔ یو سړې شپیته (۶۰) اویا (۷۰) کاله مونځ اوکړی۔ الله تعالیٰ د ده یو مونځ قبول نه کړی خو دا وجه ده چې زمونږ مونځونه نـه دی بلکې یو عادت کرځیدلې دې۔ مونځ خو یو اثر لري لیکن زمونږ او تاسو کښې اثر الصلوٰة نشته۔ الله تعالیٰ دې په مونږ رحم اوکړی۔

رُوِیَ اَنَّ الـنَّـبِـیَّ ﷺ جَـلَـسَ یَـوۡمًا مَعَ اَصۡحَابِهٖ فَجَاءَ شَابٌّ مِنَ الۡعَرَبِ اِلٰی بَابِ الۡمَسۡجِدِ وَ هُوَ یَبۡکِیۡ فَقَالَ عَلَیۡهِ السَّلَامَ مَا یُبۡکِیۡکَ یَا شَابَ فَقَالَ یَا رَسُوۡلُ اللهِ ﷺ مَاتَ اَبِیۡ وَ لَیۡسَ لَهٗ کَفَنٌ وَ لاَ غَاسِلٌ فَاَمَرَا النَّـبِـیُّ ﷺ اَبَـا بَـکۡـرٍ وَ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا فَذَهَبَا اِلَی الۡمَیِّتِ فَرَاَیَاهُ مِثۡلَ الۡـخِـنۡـزِیۡـرِ الۡاَسۡـوَادِ فَرَجَعَا اِلَی النَّبِیِّ ﷺ فَقَالَ مَا رَاَیۡنَاهُ اِلاَّ مِثۡلَ

الْخِنْزِيْرِ الْاَسْوَدِ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَقَامَ عَلَيْهِ السَّلَامَ اِلَى الْجَنَازَةِ فَدَعَا فَصَارَالْمَيِّت عَلٰى صُوْرَتِهٖ الْاُوْلٰى وَ صَلّٰى عَلَيْهِ الصَّلٰوةِ وَالسَّلَامَ وَ اَرَادُوْا الدَّفْنَ فَرَاَوْهُ كَالْخِنْزِيْرِ الْاَسْوَدِ فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامَ يَا شَابُ اَىُّ عَمَلٍ كَانَ يَعْمَلُ اَبُوْكَ فِى الدُّنْيَا فَقَالَ كَانَ تَارِكُ الصَّلٰوةِ فَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامَ يَا اَصْحَابِىْ اُنْظُرُوْ. حَالَ مَنْ تَرَكَ الصَّلٰوةَ يَبْعَثُهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِثْلَ الْخِنْزِيْرِ الْاَسْوَدِ نَعُوْذُ بِااللهِ تَعَالٰى. (۱)

ترجمه:" روایت دې چې یوه ورځ رسول پاک ﷺ سره د خپلو اصحابوؓ سره ناست وو۔ یو ځوان د عربو نه راغې دروازې د مسجد ته او ژړل ئې۔ رسول الله ﷺ ورته اووئیل ولې ژاړې؟ ده ورته اووئیل چې زما پلار مړ دې، نه ئې غسل کوونکی شته او نه ئې کفن شته۔ رسول الله ﷺ ابوبکرؓ او عمرؓ ورسره اولیږل۔ چې کله دوی مړې اولیدو نو هغه تور خنزیر جوړ شوې وو او بیا واپس راغلل۔ رسول پاک ﷺ ته ئې اووئیل چې مونږ خو خنزیر اولیدو۔ رسول پاک ﷺ په خپله پاځیدو او دُعا ئې اوکړه۔ هغه مړې اول صورت ته واپس شو او چې کله دوی اراده ئې اوکړه چې دفن ئې کړی نو بیرته خنزیر ترینه جوړ شو۔ رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چې څه عمل ئې کولو ستاسو پلار۔ هغه ورته اووئیل چې مونځ ئې

..........................

(۱) بهجة الانوار

پریښودلو۔ نو رسول پاک ﷺ اووئیل چې ای اصحابو او کورئ حال د هغه چاته چې مونځ پرېږدی نو په ورځ د قیامت به هم الله تعالیٰ بیا دغه خنزیر په شکل او صورت کښې راپاڅوی۔

په زمانې د ابو بکر صدیقؓ کښې یو سړې مړ شولو۔ خلق ئې جنازې ته حاضریدل چې وې کتل د مړی کفن حرکت کولو۔ چې وې کتل دوی غټ منکور اولیدو۔ په ګردن تاو کړې شوی وو او غوښه ترینه خوړله او وینه ترینه چپله۔ دوی اراده قتل او کړله۔ منکور ته منکور په اوچت آواز اووئیل لا اله الا الله محمد رسول الله ما ولې قتولئ ما خو څه جرم نه دې کړې بلکې ما ته الله ربّ العزت امر کړې دې چې دغه مړې په عذاب کړه تر قیامته پورې۔ خلقو اووئیل چې د دې مړی څه عمل وو۔ هغوی اووئیل چې درې(۳) عملونه ئې کول چې کله به دهٔ اذان واوریدلو نو مانځه ته به نه حاضریدو او دویم به ئې زکوٰة نه ورکولو او دریم د علماؤ خبره ئې نه اوریدله۔ زما ورونو! الله تعالیٰ دې مونږ ته امن راکړی۔ دا درې عملونه په اعلیٰ پیمانه مونږ کښې موجود دی۔ نن جدید عصر کښې د مونځ څوک هم اهتمام نه کوی او مالداره قوم زکوٰة نه ورکوی او ځان لپاره ئې حق ګڼی او د علماؤ تقریرونو ته څوک هم نه ورځی او نه ئې اوری۔ نن چې څومره خلق کانو بجانو ته ورځی د قرآن پاک تقریر ته دومره څوک نه ورځی۔ الله تعالیٰ دې زمونږ په حال رحم او کړی۔

حضرت ابی هریرهٔ نه روایت دې چې نبی کریم ﷺ

فرمائيلی دی چې اسلام کښې حصه نشته د هغې کس چې څوک مونځ نه کوی او بې اودسه مونځ نه کيږی۔
د ابو نعيم نه روايت دې چې څوک په قصد سره مونځ ترک کړی الله تعالیٰ د هغه نوم د جهنم په هغه دروازه اوليکی چې په هغې به (جهنم) ته ورداخليږی۔
کوم خلک چې مونځ نه کوی او ځانته مسلمان وائی يا د اسلامی غيرت اوريدې اوريدې دعوې کوی۔ هغوی دې د نبی کريم ﷺ په دې ارشاداتو باندې لږ غور او فکر اوکړی او د هغه بزرګانو حالاتو ته غور اوکړی چې هغوی ته لوئې لوئې مرتبې ورکړې شوې وې ځکه چې هغوی دين په مضبوطتيا سره نيولې وو۔ يوه ورځ د حضرت عبدالله په سترګو باندې اوبه راغلې۔ خلکو ورته عرض اوکړو چې د دې علاج خو کيدې شی خو څو ورځې به مونځ نه شې کولې۔ وې فرمائيل چې دا نه شی کيدې۔ ما د نبی کريم ﷺ نه اوريدلی دی چې څوک مونځ نه کوی هغه به الله تعالیٰ ته په داسې حال کښې حاضريږی چې الله تعالیٰ به د ده نه ناراضه وی۔ زهٔ به تول عمر پهړوندوالی صبر اوکړم خو يو رکعت مونځ به نه پريږدمه۔
الله تعالیٰ دې زمونږ په حال باندې رحم اکړی او الله تعالیٰ دې مونږ له توفيق راکړی چې د بې لمازی نه ځان اوساتو۔آمين
وَ اٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

ستـــا د ښـــائـســـت ګـلـونـــه ډيـر دی

جـولی مـې تـنـګـــه زهٔ بـــه ګـوم کوم تولومـه

مـدینــــه مـنـوره کښــې چــې دلبـر زمــا دې

د فـــراق پـــه درد غـم ئـې زرهٔ پـرهـر زمـا دې

د هـجران په کنارو کښې اندرون په زرهٔ زخمی شوم

څـکـه آه افسـوس د درد په شام سحر زما دې

د وصال په ګلستان کښې چې ګلونه تولول ما

زخـمـــی شـوی هغه وختې په ازغو ځيګر زما

د محبوب ديدن دپاره زهٔ محشر ته خوشالیږم

چې دلبر په کښې ليدې شی دا محشر اختر زما دې

پاک محمد مصطفیٰ د محمد امين محبوب دې

په مولیٰ مې دې قسم وی دا صحيح خبر زما دې

زهٔ رحـمـن حـلـقـــه بـګـوش د هـر عـالم يم

کـــه اعـلـیٰ دې کـــه اوسـط دې کـــه ادنـیٰ

چـــې مُـرده ئـې لـــه نـفـســـه ژونـدی کـيـږی

عـــــالـــمـــــان دی واړه هـســـې اولیـــاء

پـــه مـجـلـــس د عـــالـمـانو بـه سرهٔ زر شی

کــه څـوک کـــانـــې وی يـا بوټې د صحـرا

هــر ســړې چـــې زُيـتـــه نـــه لـری د عـلـم

ســړې نـــه دې خـــالـی نـقـش دې ګـويـا

تمت بعون اللہ املک الوھاب


اَللّٰھُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ فِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ.

وَ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِہٖ مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہٖ وَسَلِّمْ اَجْمَعِیْنَ بِرَحْمَتِکَ یَااَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ.

☆☆☆☆☆

☆☆☆

☆









مکتبۂ عزازیہ

محلہ جنگی پشاور